

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب پیژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : د ارغنداب د ځپو ژبه

ویناوال : د لوی کندهار شاعران

د چاپ کال : ۱۳۸۰ ل ـ ۲۰۰۱ م کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو یون

"پښتو یون" د پښتني هڅوب، پښتو ژبې او پښتني ارزښتونو د ځلولو، خپرولو او پاللو لپاره په مینه او تلوسه لېځې رانغښتي او د پښتو د زړو متنونو، نویو ادبي پنځونو، څېړنو او ځېرنو چار پرمخ بیایي او په دې لار کې درانه او شمېرلي ګامونه اخلي.

دا دي د څو زړو متنونو تر خپرولو او د څو څېړنیزو نښېرونو(اثارو) تر وړاندې کولو وروسته د لوی کندهار دځوانو رېشیانو(شاعرانو) ژوندپانه چې ددوی ژوندلیك او وینا په کې راغونډ شوي او د ځوان پښت روڼ انده او خواریکښ لیکوال ښاغلي صالح محمد صالح کار پرې کړی او پر راغونډولو یې زیار ګاللی، وړاندې کوي.

دا ځوان توکم د اورونو او لنبو په منځ کې رالوی شوی او د دردونو او کړاوونو ترخې کیسې یې د پاړکو په خولو کې دي.

هیله ده تاسې یې په مینه ولولئ، د دوی پر تلوسو، هیلو او خاورې شویو امیدونو ځان خبر کړئ او د یوه ګډ یون له لارې خپل هېواد او هېوادوال له دې کړاومن ژوند او چاپېر څخه راوباسئ.

زموږ له دردمنو او خوږمنو پښتنو څخه هیله ده چې له دې یون سره مله شي او په خپلو هراړخیزو مرستو مو ولمانځي.

په درنښت

لطیف جان بابی

د "پښتو یون" مشر

فراکوی، نیویارك، امریکا

2001م کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څپه_څپه ښایست

لوی کندهار که له یوې خوا د ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي، عبدالروف بېنوا، اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد او...په څېر د درنو پوهانو زانګو ده، نو له بله پلوه دشمس الدین کاکړ او عبدالرحیم هوتك په څېر د ګڼو سندربولو توتیانو هغه ځاله هم ده، چې د همدې"ښایسته کندهار" په لرېوالي کې یې ډېرې سوې ترانې ویلې دي.

د اور او وینو توپان لکه د نور افغانستان په څېر د عبدالرحیم هوتك "ښایسته کندهار" هم لوټې لوټې کړ، خو " که کوټه وسوځېده نو دېوالونه یې پاخه شول."

څو کاله مخکې راته ښاغلي لال پاچاازمون په ننګرهار کې د کندهار د ځوانو شاعرانو دومره ستاینې وکړې، چې زه یې د دوی د لیدلو لېوال کړم او چې کله مې د دوی د څو تنو ځوانو شاعرانو وړه تذکره(پر  للمه اوري بارانونه) ولوستله، نو پوه شوم چې دملالۍ دټپو په کلي کې لا د تورې له شرنګ سره د نغمو نری ترنګ هم ملګری دی.

بیا چې یو وخت کندهار ته لاړم، نو د محمدیار، هڅیال اوصالح په دېره کې مې په لسګونو ځوان او نوښتګر شاعران وپېژندل، دوی ټول له ظاهري بڼې ډېر ساده او کلیوال معلومېدل، خو په باطن کې یې هر یو په معنوي سینګار ښکلی و، په سترګو کې یې سرې له ورایه شاعرانه ولولې، مستې مینې او یو ډول ورکې مایوسۍ لوستلای شوې.

د لوی اختر پر لومړۍ ورځ په پېښور کې د هیلې مجلې دفتر ته لاړم، غوښتل مې چې ښاغلی صالح محمدصالح وګورم، نوموړي هغه ورځ هم پر همدې تذکرې کار کاوه، تر اختر مبارکۍ وروسته سره کښېناستو، هغه راته د دې تذکرې یو یو شعر په خوند خوند لوسته او ما ورته غوږ اېښی و، د شعرونو اورېدل دومره خوند راکړ که نور مېلمانه په دفتر نه وای راننوتي، نو نږدې ټوله تذکره به مو لوستله.

د دې تذکرې د شاعرانو یوه لویه ځانګړتیا دا ده چې ډېر یې د لمبو سیوري ته رالوی شوي او د خپل کور و کلي د ورانېدو غمجنوونکې ننداره یې له نږدې څخه کړې ده، د دوی په هنر کې صداقت او رښتینولي له ورایه برېښي او همدې توکي یې هنر ښکلی کړی، ځکه خو یې د افغاني ادب رښتیني استازي بللای شو.

صالح محمدصالح چې څښتن یې په ګوتو کې ډېر ښکلي هنرونه ایښي دي، د همدې ځوانانو استازی هنرمند شاعر او لیکوال دی. د هغه هنرمندو ګوتو که د ښکلو انځورونو، خوږو شعرونو او په زړه پورو لیکنو وړتیا درلوده ، نو اوس د کمپیوټر له تڼیو سره هم اشنا دي.

زه خپل دغه ملنګ هنرمند دوست ته ددې تذکرې د خپراوي له کبله مبارکي وایم، خدای دې دده په ګوتو کې نور هم برکت کړي چې د "مست ارغند" د مستوڅپو په څېر ښکلاوې رامنځته کړي او ویې ځلوي.

ګران صالح ته د یو روښانه راتلونکي په هیله خپلې خبرې رالنډوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مینه او شاعرانه ولولو

اجمل اند

1380ل کال پسرلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "د دې غره ختك به واړه شاعران شي"

په دې وروستيو دوو درېيو کلونو کې کتاب خپرول او ليکل په بېساري ډول ډېر شوي دي. په پېښور کې به داسې اوونۍ نه وي چې دوه درې کتابه دې په کې خپاره نه شي، دا خپرنيز بهير دومره ګړندی دی چې څوك ډېرځل د کتابونو په مطالعې پسې هم نه شي رسېدی.

کله چې هېوادمېشتي ليکوال يو څه ذهني سکون او ارواييي ډاډ تر لاسه کړل، نو د تېرو غميزو او پېښو دليکلو او خوندي کولو لپاره ورته ډېر خام مواد پراته وو او دې ته يې ډېره اړتيا نه درلوده چې خپله ټاکل شوې موضوع له هرې زاويې څخه په ژوره توګه وڅېړي، ځکه ګڼ شمېر تاريخ کښونکي همدا راز دسياسي پېښو ليکوال په عملي ډول په دې پېښو کې ورګډ وو او هر څه يې د سر په سترګو ليدل. د سياسي او نظامي خاطرو ليکوالان هم همداسې درواخله چې کتابونه يې د اوسمهالي خپرنيز بهير لويه او غوښنه برخه جوړوي، پر اوس مهال پښتو او دري سياسي کتابونه دومره ډېر شوي چې سلنه يې (70) ته اوچته شوې ده. ددې ترڅنګ پښتو شعري ټولګې هم ډېرې خپرېږي او په دې ټولګو کې ځينې داسې هم شته چې د زړه په زور به يې لولې. ځکه په اوس زمانه کې پيسو دومره زور او کمال پيدا کړي، چې هرې ببولالې او منظومې خبرې ته هم د کتاب بڼه ورکولای شي او اوس خو څوك ددې ډول شاعرانو مخنيوی هم نه کوي.

د کندهـار اطلاعاتو او کلتوررياست دوه درې کاله وړاندې په ټينګه پټېيلې وه چې د لوی کندهار(زابل، کندهار، ارزګان او ...) د شاعرانو او اديبانو يوه لويه او بشپړه تذکره خپره کړي، نو په همدې موخه يې د يوه کال په ترڅ کې څه له پاسه د 65-70 تنو شاعرانو ژونداليکونه، شعرونه او داثارو معرفي راټول کړل. موږ هم ددې کار په جريان کې وو چې ټول شعرونه به د کتنې او ټاکنې لپاره کله د يوه ليکوال کور ته وړل کېدل، کله دبل. داسې هم پېښېدل چې هېچا ته به نه وه څرګنده، نوموړي مواد له چا سره پراته دي؟

د همدې کار په بهير کې (د 1378ل کال په لړم مياشت کې) د ښاغلي لال پاچا ازمون (پر للمه اوري بارانونه) نومې وړه تذکره چې (11) تنه کندهارمېشتي ځوان شاعران په کې معرفي شوي وو، خپره شوه.

ځينو دا هڅه ښه وګڼله او ويې ستايله، خو ځينو وربانديې نيوکې درلودې چې يو شمېر به وروسته وشنو او ځينې يې دادي:

ځينو ويل د نوموړې تذکرې پر پښتې ليکل شوي" دسهيل لويديځ د ځوانو شاعرانو ګډه شعري ټولګه" حال دا چې دا ګډه شعري ټولګه نه، بلکې تذکره ده چې بايد توپير يې وشي.

د څرنګوالي او څومره والي له پلوه ددې تذکرې بڼه او کچه ددې وړ نه دي، چې تذکره ورته ووايو، بلکې د تذکره ليکنې دمعيار له مخې دا يوازې د تذکره ليکنې پر لوري يوه هـڅه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب په لاس خطاطي شوی او په دې کمپیوټري زمانه کې نه ښایېدل چې دا زړې مطبوعاتې چارې راغبرگې شوې وای.

سربېره پر دې یو نیم نورې لوېې او وړې گوتنیونې او نیوکې چې ځینې یې پر ځای او ځینې یې بېځایه وې.

دې وړې تذکرې په همدې څرنگوالي او څومره والي سره د کندهار ادبي ټولنې راټولې شوې تذکرې ته سخت گوزار ورکړ، ځکه ویل کېدل په کندهار کې همدا (11) تنه شاعران(شاعران) وو چې هغه هم په دې تذکره کې راغلل. اوس نو موږ ته هم اړتیا نه شته چې د خپلې دې لوېې تذکرې دبشپړولو او خپرولو لپاره نوره هڅه و هاند وکړو.

که چېرې د کندهار ادبي ټولنې له خوا د یوه منظم پلان له مخې دا چارې د یوې معیاري او په ټول پوره تذکرې لپاره یوه مسلکي او لږ تر لږه داسې کس ته سپارل کېدای، چې دې کارته لېواله وای او په دې لارکې یې د منډو ترړو توان او وس درلودای، خپل ټول مصروفیتونه یې پرېښي وای او د څه مودې لپاره یې پر همدې تذکرې کار کړی وای، گټه به یې پاموړ ختله او له هره اړخه به ډېر غوره و. همدا ډول د پخو او کمزورو شاعرانو ډلبندۍ ته همغه وخت پاملرنه په کار وه.

تر دې تذکرې وروسته پر همدې میاشت د ښاغلي نوراحمدقرآنمل له خوا(ادبي ډېوه) نومې (66) مخیزه تذکره خپره شوه، چې په هغې کې هم (39) تنه مړه او ژوندي شاعران معرفي شوي وو، خو نوموړې تذکره د یوشمېر طباعتي او ځینو نورو نیمگړتیاوو له کبله د لیکوال له خوا بېرته ټوله شوه.

لکه وړاندې مو چې د (پر للمه اوري بارانونه) پر تذکرې شویو نیوکو ته اشاره وکړه یو شمېر شاعرانو چې په دې کتاب کې راغلي وو، پر دې خبرې هم سخته نیوکه کوله چې زموږ د شعرونو سرلیکونه وربدل شوي او یا هم زموږ خپله ځانگړې ژبه بدله کړل شوې، چې دا کار هم د تذکرې په نیمگړتیا کې شمېرل کېده او ډېر کسان ورته په غوسه وو.

وایي: خولې ډېرې دي خو د خبرو اترو ژبه یوه ده، نو که په ادبي ډگر کې هر څوك له ځانه یولیکدود او لیکلار راباسي او له اړتیا پرته یې پر نورو د منلو هڅه کوي، یا هم غواړي چې یوازې خپله لهجه د قلم په زور له کومو اصولو او ارزښت پرته پر نورو وروتپي، گومان کوم په ژبنۍ او بیا د یوې معیاري لهجې د رامنځته کېدا او ځواکمنېدا په برخه کې به لویه ستونزه رامنځته کړي. څرنگه چې هره سیمه ځانته لهجې لري، که د همدې سیمو لیکوالان په لیکوالۍ کې خپلې خپلې لهجې وکاروي، بیا خو هر سړی دې ته مجبورېږي چې یوازې د خپلې سیمې د لیکوالو لیکنې وگوري، چې دا لانجه او ربړه به د هرې ورځې په تېرېدو سره نورې هم اوږدې او لویې شي. له بده مرغه ددې ربړې د آوارۍ پر ځای ځینې ښاغلي د ژبې د ویونکو د "اکثریت" او "اقلیت" خبره رابرسېره کوي، چې ددوی په اند باید دهمدې معیار له مخې دې د لهجو په برخه کې پرېکړه وشي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې ددې تذکرې لپاره مواد برابرول، نو ځینو ښاغلو همدا ټینګار کاوه چې د شعرونو په: سو(شو)، د(له)، وکئ(وکړ) او داسې نورو تورو کې به لاس نه وهې، دا مې هم واورېدل چې ځینو لیکوالو له دې کبله له ځینو خپرونو سره خپله قلمي همکاري بنده کړې، چې د خپرونو د چلوونکو له خوا يې د لیکنې په ژبنې جوړښت کې لاسوهنه کېږي او د هغوی سیمه ییزه لهجه معیاري کوي. د ډېرې خواشینۍ ځای دی چې داسې ورې خبرې مو د لويو لیکوالو له ګوتو څخه قلم راپرېباسي او له ادبي و فرهنګي ډګر څخه يې پردي کوي.

زه پرخپل وار له دې ښاغلو څخه عذر او بښنه غواړم چې ومې ونه کړای شول په دې تذکره کې د هغه معیار له برید څخه واوړم چې تر ما وړاندېنیو لویو لیکوالو ټاکلی، مراعات کړی او منلی دی.

په دې تذکره کې د ښاغلي لال پاچا ازمون(پر للمه اوري بارانونه) پر لسوتنو شاعرانو سربېره (41) تنه نور شاعران هم راغلي چې دا دي د لومړي ځل لپاره معرفي کېږي.

که څه هم په دې هـڅه کې وم چې د نويو شاعرانو شمېره ډېره شي او په دې برخه کې مې ترخپله وسه او امکاناتو ډېر زيار هم وايست، خو ددې لپاره چې د کتاب دبېځايه لويوالي مخنیوی وشي، ځینې نوي شاعران مې بلې تذکرې ته پرېښودل، ځکه هغوی په ډېر ابتدايي حالت کې وو او لايې د خپل پرمختګ لومړني پړاوونه وهل.

په دې کتاب کې د "للمې" له شاعرانو څخه د ښاغلي عبدالله هنرمل شعرونه تکرار راغلي، ځکه نوموړي اوس له لیکوالۍ او شاعرۍ څخه لاس پر سر شوی او نوي پنځونې ورسره نه شته، نور نو هڅه شوې چې د ټولو شعرونه نوي وي.

د ښاغلو: امید، جرس، پتیال، صمیمیار، پېژاند، مین، څارن او ... په څېر نور تنکي او ځوان شاعران به هم وپېژنئ چې د عمرونو په انډول يې شاعري ډېره مشره او پخه ده، تاسې به يې په خپله هم وارزوئ.

ځینې داسې شعرونه به هم ولولئ چې د شاعرانو له لومړنیو تجربو څخه دي، خو کېدی شي دا شاعران تر پايه همداسې پاتې نه شي، ځکه، کله چې د (1377)ل کال د ورې پر میاشت کندهار ادبي ټولنه پرانیستل شوه، تر دې مهاله يې د همدې ځوانو او هوډمنو شاعرانو په برکت اوږده پړاوونه ووهل، که ددې ټولنې د شاعرانو د لومړي سر شاعري له اوسنۍ هغې سره پرتله کړو، لوی بدلون به کې تر سترګو کېږي، چې دا په خپله ددې پرمختګ او برې پخلی کوي.

تر دې تذکرې وروسته په پام کې ده، ددې تذکرې په بل ټوک کې هم د لوی کندهار شاعران راشي.

په کندهار کې پردې شاعرانو سربېره ډېر نور پیاوړي ولسي شاعران هم شته یا وو، چې تر اوسه چا نه دي پېژندلي. د ځوانو، زړو، مړو او ژوندیو ولسي او نیمه ولسي شاعرانو ډلبندي او بېلول هم ډېرو امکاناتو او وخت ته اړتیا لري، نو پر اوس مهال مو لویه هڅه دا وه چې ددې سمیو شاعران یو ځل له هېرې او ورکاوي څخه وژغورل شي، منظمول،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوډون او ډلبندي يې په دويم چاپ کې ترسره کېدی شي. په کندهار ولايت کې له ډېرو شاعرانو او ادبپالو سره دګڼ شمېر ناپېژندل شويو لرغونو شاعرانو او ليکوالو ژوندليکونه، ناچاپه شوي شعرونه او نور اثار خوندي دي، چې د همدي ښاغلو په واك کې دي او تر اوسه پورې نه دي رابرسېره شوي. کله چې مې له دغو ښاغلو سره وکتل او د ځينو شاعرانو د پېژندنې او ځينو شعري بېلګو غوښتنه مې ترې وکړه، له دې کار څخه يې معذرت وغوښت او نه يې هم راسره پر تبادلې موافقه وکړه. ځکه دوی ويل: دا مواد په موږ پورې اړه لري او خپل ځاني مال مو دی. له دغو ښاغلو څخه يوه دا خبره هم ياده کړې وه چې :" ماځوارلس کاله پوهنتون ويلی او په کتاب خپرولو او ليکلو کې ډېرې تجربې لرم. زه دا مواد څنګه يوه واړه هلك ته ورکړم؟."!!

د فرهنګي او ادبي برخو د پرمخيون او غوړېدو لپاره په فراه، نيمروز، هلمند، کندهار، ارزګان، زابل او... ولايتونو کې دادبي ټولنو جوړول، د راډيوګانو فعالول او دکتابتونونو پرانيستل ضروري ټکي دي. په فراه او نيمروز ولايتونو کې دا اړخونه ډېر کمزوري دي، د بيارغونې اوسمونې په برخه کې يې هڅو څه نتيجه نه ده ورکړې. په هلمندولايت کې (هلمند) مياشتنی اخبار خپرېږي، چې دځرنګوالي له پلوه ډېر وروسته پاتې دی. کتابتون په کې شته چې تر(4-5) زرو ټوکو زيات بېلابېل کتابونه په کې خوندي دي، خو تر هغه ځايه چې ماته معلومات شته، په مياشتو مياشتو خلك نه ورځي او ورځي هم نو د شومره والي له پلوه ډېر لږ دي. راډيو يې په دې وروستيو مياشتو کې فعاله شوې چې د ورځې يو ساعت خپرونې کوي، خو بيا هم مسلکي کسان په کې لږ دي او دا يو ساعته خپرونه هم په ستونزو او کړاوونو سره ورته برابرېږي. په ارزګان کې هم دا ډګرونه ساړه دي او له نورو ولايتونو سره يې هم ادبي او فرهنګي اړيکي غوڅ دي. په زابل ولايت کې هم دا هڅې سړې دي، خو په نورو ولايتونو کې ددې سيمو ځينې مېشت فرهنګپال او فرهنګيال کرار نه دي ناست، بلکې ترخپله وسه کارکوي. که چېرې هر هېوادمينی شتمن افغان ددې ولايتونو فرهنګي بيارغونې او سمونې ته پام وکړي او په دې برخه کې خپله همکاري ونه سپموي، نو ډېر لوی مثبت بدلون به په کې رامنځته شي، چې نورو ولايتونو ته به يې هم ګټې ورسېږي.

څرنګه چې کندهار دخپل لرغونتوب له مخې په خپله زرغونه لمن کې ګڼ شمېر اوچت او پياوړي شاعران روزلي او ټولنې ته وړاندې کړي دي او طلوع افغان ورځپاڼه ددې ولايت دمېشتو ادبي او فرهنګي مينه والو په ذهني خړوب کې ډېر مثبت اغېز لرلی دی، خو دا خپرونه ددې ولايت په کچه وړه او نا څيزه ده، ځکه دا خپرونه ټولې سيمې ته نه رسېږي او اړيکي هم محدود دي، د جګړو له کبله هم ددې ډول خپرونو وېش محدود پاتې شوی او تر مينه والو او لېوالو پورې نه دي وررسېدلې. کندهار مجله هم په لومړي سر کې ښه په خوند او درز سره خپرېده او په ادبي او فرهنګي ډګر کې يې لوی بدلون رامنځته کړی و، دې خپرونې هم ګڼ شمېر ليکوال او شاعران وروزل، خو کله چې دا خپرونه ودرېده دا راټوکېدلې هيلې هم نيمګړې پاتې شوې، ورو ورو د ولس له ذهنونو څخه هم د نومورو نويو راټوکېدلو شاعرانو دشعر ورمې ووتې، يو وخت داسې مهال راغی چې ټول شاعران پټ پاتې شول او هر يوه خپله شاعري يوازې له ځان سره خوندي کوله، په دې لړ کې له ځينو پرته ډېرو شاعرانو دېوانونه وکښل او په نثر کې يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر کتابونه ولیکل. له بده مرغه په کندهار کې یو بل دود دا دی: که په ډېرو کورنیو کې کوم لیکوال یا شاعر ومري، نو پاتې غړي یې ټول اثار ورته د قبر ترڅنګ ښخوي او یا یې هم له بلې لارې له منځه وړي. د کندهاري شاعرانو او لیکوالو ډېر اثار په دې توګه له منځه لاړل او پاتې هغه هم دداسې کسانو لاسونو ته ورغلي چې د ولس شتمني یې نه، بلکې د ځان مال یې ګڼي او خپټه یې وربانديې اچولې ده. د یوه بل پیاوړي ولسي شاعر یو ژوندی دېوان او نور خواره واره شعرونه له یوې کورنۍ سره خوندي دیي چې نوموړې کورنۍ یې په بدل کې دلسو زور کلدارو غوښتنه کوي. خو باور لرم که دا روپۍ ورته ورانديې هم شي، بیا به یې هم له سپارلو څخه ډډه وکړي.

په کندهار کې تر پنځه لسو ډېروکسانو د تذکره لیکلو په موخه له شاعرانو او لیکوالو څخه شعرونه او ژوندلیکونه راټول کړي او ټولو په دې تمه دا کار کړی، چې یوه ورځ یې د خپرولو تر بریده ورسوي، خو دا نه ده څرګنده چې څنګه او څه وخت؟! تر دې څلور-پنځه کلن ځنډ وروسته څرګنده شوه چې ډېر ښاغلي یوازې په دې موخه داکار کړی چې دا توکي هم په ځان پورې اړوند کړي او یوازې یې دساتنې لپاره سره راغونډ کړي. نو اوسنۍ تذکره چې ستاسو پروړاندې پرته ده د هغو خواریو او زیار یوه نیمګړې او وړه پایله ده چې دوه کاله وخت او ډېرې منډې تړړې یې په پلو کې درلودل، هیله ده تاسو ته د منلو وړ وي.

نو دبلې تذکرې د بشپړتیا او سمون لپاره که نور هېوادمېشتي او بهرمګېشتي ملګري تر خپله وسه ددې سیمې د ژوندیو شاعرانو په راپېژندنه او یا هم د هغوی د یو انځور، ژوندلیك او شعرونو په رالېږلو سره راسره مرسته وکړي، ډېره لورېینه او پېرزوېینه به یې وي، همداراز پر دې تذکرې باندې رغنده نیوکې او لارښوونې هم پر لېمو منم.

د خپلو خبرو تر غوڅاوي وړاندې به دا غوره وي له هغو دوستانو څخه مننه وکړم، چې خپله مرسته یې راڅخه نه ده سپمولې او ددوی هڅونو او مینې ددې کتاب په ستونزمنو چارو کې ډېره مرسته راسره کړې ده.

له ښاغلي لطیف جان بابي څخه چې له هغې لرې سیمې نه یې په دې برخه کې لاس راوغزاوه او خپله اورنۍ او لېونۍ مینه یې په زبات ورسوله.

له ښاغلي محمدسرورحُسنیار څخه چې خپله مرسته یې راڅخه نه ده سپمولې، له ښاغلي عبدالقدیم پتیال څخه چې تر خپله وسه یې زما لاسنیوی وکړ، له ښاغلي حلیم څخه چې د ځینو شاعرانو په راپېژندلو کې یې خپله فرهنګي مینه په زبات ورسوله، له ښاغلي مجیدخان بابي څخه چې ډېر یې هڅولی یم، له هغو دوستانو څخه چې پر دې کتاب یې یادښتونه ولیکل، همداراز له وفا الرحمن وفا څخه چې د ټینګې مرستې او همکارۍ برکت یې ډېرې لارې راته اوارې کړې.

او له هغو ښاغلو او اغلو څخه چې دا تذکره تر پایه لولي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره مینه او ادب

صالح محمدصالح

/1380وری/19 ل کال

د هیلې مجلې دفتر

پېښور-پښتونخوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ارغند د ځپو ژبه؛

## يوه ښکلې ادبي تذکره

د چلزينو په سر کې درته ولاړ يم

که راته ونه خاندې، مدام به ژاړم

د ارغند د ځپو ژبه کتاب د ښاغلي صالح محمد صالح د دوه کلنو هڅو نتيجه ده، چې موږ ته د کندهار دوه پنځوس تنه شاعران او ليکوال راپيژني، کتاب د امريکا په نيويارك ښار کې د پښتويون خپرندويې ټولنې په مالي لګښت په 218 مخونو کې په ښکلې کچه په 2001م کال خپور شوی دی.

پر نوموړې تذکره د هېواد وتلي محقق او شاعر حبيب الله رفيع، همدارنګه د پښتويون ټولنې مشر لطيف جان بابي، لال پاچا ازمون او اجمل اند په زړه پورې ليکنې کړې دي. د تذکرې د خپرولو پر اړتيا دې ښاغلو ډېر تاکيد کړی او دا يې د تذکرو په لړ کې يوه ښه هڅه ګڼلې ده.

د سريزې پرځای د ليکوال صالح محمد صالح يوه اوږده او په زړه پورې ليکنه راغلې، کندهار ادبي غورځنګ او هڅې يې ستايلې دي، د نويو ځوانانو ادبپالنې ته يې نغوته کړې ده، له دې سره – سره يې د سيمې ځينو افسوسناکو رواياتو ته هم اشاره کړې: "له بده مرغه په کندهار کې يو بل دود دا دی: که په ډېرو کورنيو کې ليکوال يا شاعر ومري، نو پاتې غړي يې ټول اثار ورته د قبر تر څنګ ښخوي او يا يې هم له بلې لارې له منځه وړي. د کندهاري شاعرانو او ليکوالو ډېر اثار په دې توګه له منځه لاړل او پاتې هغه هم د داسې کسانو لاسونو ته ورغلي، چې د ولس شتمني يې نه، بلکې د خپل ځان مال يې ګڼي او خپته يې وربانديې اچولې ده..." زما په خيال دا يوه افسوسناکه عنعنه ده، چې تر اوسه پورې پالل کېږي.

او رښتيا د حيرت وړ هم ده، زه تر اوسه په دې خبره نه پوهېږم، چې داسې خلك ولې د يوه نارينه ليکوال د اثارو له خپرولو وېرېږي؟ که د کومې پښتنې خور اثار سوځول کېږي يا په قبر کې ورسره ښخېږي، نو دا تقريباً د ټول افغانستان ستونزه ده، چې د يوه منفي دود بڼه لري، خو د نارينه وو په هکله دا ډول کيسه د حيرانۍ وړ ده، خدای دې وکړي چې د صالح صيب دا لړزوونکی انکشاف زموږ د فرهنګ خدمتګارانو تر غوږونو وررسېدلی وي او په نژدې ورځو شپو کې مو د حيرتونو له نړۍ څخه راوباسي.

په تذکره کې د بېلابېلو عمرونو شاعران راپيژندل شوي دي، چې تر ټولو سپينږيری ژوندی شاعر يې حاجي صيب عبدالکريم دی، چې په 1300ل کال زېږېدلی دی، د حاجي صيب د بيوګرافۍ په برخه کې ليکوال په برجسته الفاظو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښلي: "د شهرت لېونی نه دی، له همدې کبله تراوسه پټ پاتې شوی او چا نه دی پېژندلی، ما ته يې هم د خپلې پېژندګلوۍ له راسپارلو څخه ډډه کوله، خو بيا مې هم اړويست چې راوېې سپاري."

د دې کرښو په لوستلو د سړي ذهن ته د عزت او وقار يوه نوراني څېره ودرېږي، زما د دې خبرې تمام ثبوت د حاجي صيب په يو دوو بيتونو کې شته. لکه:

د دنيا پرځای دې دوه سترګې ځلور وي

دا د دين پرځای دې ولې شا ته زور وي

نه اودس سم، نه رکوع او نه سجده سم

راشې مخ کړې پر کعبه فکر دې نور وي

خدای دې وکړي چې حاجي صيب مو له خپلو حکيمانه وعظونو او نصيحتونو نه بې برخې نه کړي او په همدې هيله د تذکرې تر ټولو کشر شاعر ته راځو، هغه تاند او بااستعداده عزت الله اميد دی، چې په 1368ل کال زېږېدلی دی، چې اوس د البېروني لېسې د پنځم ټولګي زده کوونکی دی، په دې حساب سره دا نوی غوړېدلی ګلاب د دوولسو کلونو دی.

خو شاعري بايد يوځل بيا له مجبوريته په يوه کليشه يي جمله کې ارزيابي کړم، هغه دا چې شاعري يـې واقعاً تر عمر ډېره مشره او پخه ده، د ګران عزت الله جان اميد د شاعرۍ په هکله صالح صيب وايي: "شعري بيان يـې په عاطفه، اند او مترنم اّهنـګ کې رنګول شوی، چې راتلونکی هنري پرمختګ يـې تضمينوي. هغه په دې وړکتوب کې د خپل شعور له مخې د هېواد پر ملي مسايلو پوه دی او د هېواد ناخوالو ته يـې د شعر له زاويې کتلي او انځور کړي يـې دي"...

دا يـې هم څو بيتونه، تاسې يـې د ده له عمر سره مقايسه کړئ:

چې جنکۍ په کې ملنګې د وختونو ښکاري

ها کابل جان هم سره سپرغۍ د سرو اورونو ښکاري

ملګرو! داسې لېونی شوم، خو اوس څه وکړمه

ژوندون مې هسې د ناپايو اميدونو ښکاري

يا:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــپلواكـــه وو موږ خپله، چا كار نه رادرلوده

دې تور غليم ته گوره خپلواكي ځان سره وړي

⌧⌧⌧

نـــن مـو گلبـڼ كـې غـــوړېدلـــي د انار گلونـــه

چې په وربل كې نجونې ږدي كتار – كتار گلونه

خدای دې وكړي چې عزت الله جان اميد په راتلونكي كې زموږ له اميدونو دروند وخېژي.

زموږ ستونزې هم ډېرې دي، يوه يې دا ده چې په تفصيل سره د يوه كتاب پلټنه نه شو كولای او بيا چې كله تذكره وي، نو حيران شو چې اوس څه پرې وليكو او پر چا؟ ځكه خو مو د عمر په مناسبت دوه كسه غوره كړل، د يادونې وړ بولـم چې په دې تذكره كې داسې تاندې ځوانۍ هم شته، چې د لوړ خيال او ژور فكر له مخې د ځوانو شاعرانو په لومړۍ ليكه كې راځي، لكه: عبدالاحمد محمديار، عبدالوسع هڅيال، خليل احمد څارن، عبدالقديم پتيال... او نور ښاغلي.

د دې لپاره چې ځوك مو له ياده نه وي ايستلی او خپه شوی نه وي، نو يوه موضوع انتخابوو، په دې هكله بيا كه هر شاعر كوم بيت ويلی وي، هغه د لوستونكو مخې ته ږدو، كله چې ما په دې هكله فكر وكړ، نو تر ټولو غوره موضوع راته د ميوند د تاريخي سوبې ده. نو ځكه خو مې همدا موضوع انتخاب كړه او ستاسو په وړاندې پـــــه دې هكله د بېلابېلو شاعرانو خيالونه گورو:

بـــس يـــوه ټپـــه چـې ورتــه ووايـــم

دوی به خپل لښكر له ياده وباسي

حيات الله كاكړ

لا ځومره درنه شي پښتنه پېغله

نـــنـــگ ټپه_ټپه پر غزا واړوي

⌧⌧⌧

شهلا مـــلالو سترگو نه يـې اوري الهامونه

ميوند_ميوند ټپې مې پر احساس راواچوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالاحمد محمديار

پېغــله مــــلالـــــه مـــو پــــرديـــو يووړه

څوك به د غاړې رنګين پسول ونيسي

عبدالواسع هڅيال

بـــيا يـــې خـــوره کـــړه د ملالې ټپه هر مورچل کې

"زاهده" ګوره هر تاريخ چې مو نن ننګ واخيسته

عبدالولي زاهد

بيا يې ميوند کې انګرېزي لښکرې وځپلې

پېغـــلې مـــلالــــې له غليم څخه ميدان ګټلی

ګلالی زهير

او د خليل احمد څارن ټول شعر چې سرليك يې ټپه دی:

چې خوره شوم د ميوند پر سپېره دښته

شاه زلـــمو کـــړ ســــــر راپورته له بالښته

د دې تذکرې په هکله مې په يوه خپرونه کې لنډه معرفي ولوسته، چې د ليکوال کار يې په لومړي سر کې له يو لړ تشريفاتي ستاينو وروسته نيمګړی بللی و، ښاغلي معرفي کوونکي له بيړې څخه کار اخيستی، زما په خيال خو يې يوازې د تذکرې د نيوليك (فهرست) اخري نومرې ته کتلي، چې: "صالح صيب په دې تذکره کې (55) تنه شاعران راپېژندلي دي، چې ډېر ښه کار يې کړی، خو ځينې شاعران يې په دې ټولګه کې له ياده ايستلي دي، لکه: لطيف جان بابی، عبدالمالك همت او ... داسې به ډېر نور شاعران وي او مهمه خبره خو دا ده چې صالح محمدصالح په دې کتاب کې د ښځينه شاعرانو هېڅ ذکر نه دی کړی او موږ ډېرې تکړه شاعرانې لرو لکه: پروين فيضزاده ملال، مرحومه کريمه رسولي فيضزاده، بلقيس محبوبي اڅکزي او داسې نورې چې استعدادونه يې د ستايلو وړ دي."

په ډېر معذرت ښاغلي معرفي کوونکي ته دومره وايم لومړۍ خبره دا ده چې په تذکره کې (55) نه، بلکې (52) تنه راپېژندل شوي، د فهرست لومړۍ درې شمارې د خپرندويې ټولنې، اجمل اند يادښتونه او د ليکوال سريزه په ترتيب سره راغلي، دويم دا چې د تذکرې پر لومړۍ پښتۍ (لومړی ټوك) ليکل شوی او ليکوال په سريزه کې هم دې خبرې ته اشاره کړې ده، چې دا لړۍ به دوام لري او دويم او درېيم ټوك تذکره به هم له خيره سره خپرېږي. اوس که ټول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعران يوې ټولګې ته راغونډ شي، نو د کتاب د پنډوالي غم به يې بيا ښېل وي او بل دا چې د خپرندويې ټولنې مشر لطيف جان بابي پر همدې تذکره يو لنډ يادښت کښلی، امکان لري ليکوال صالح د ده معرفي ترې غوښتې وي او هغه يې دا خواست نه وي منلی.

د ښځينه شاعرانو په هکله بايد ووايم چې لومړی خو صالح صيب د داسې ځای په هکله لګيا دی چې د نارينه وو اثار يې ورسره ښخېږي او يا هم سېزل کېږي، دا خو د مرګ ستونزه ده او د ژونديو نارينه وو په اړه خو يې په ډېر وضاحت او صراحت سره په سريزه کې کښلي چې دوه کاله مې په اخ و ډب ورسره تېر کړي او ايله مې دا دوه پنځوس ترې راوايستل، ښه خو چې داسې ده، بيا خو د صالح په هغه ... څه ورته وايي، هو! راپه ياد شول، بيا نو د صالح صيب په هغه حوصله آفرين چې دوه کاله يې مقاومت وکړ. دا ځکه وايم چې که خدای (ج) دې نه کوي داسې يو مسئوليت ما ته څوك راوسپاري، نو تر دوو مياشتو که خبره وځنډېده، نو بيا خو خدای خبر چې پسې وګرځم، ښه نو اوس که صالح صيب د لوی کندهار د دوو يا دريو ښځينه شاعرانو چې هملته دي او يا دلته، بيوګرافي رااخيستې وای، نو کتاب به څه لوی شوی و؟ نه، بلکې دا به يوه بله ستونزه ورته جوړه شوې وه او د کندهار بدي خو يې لا پرځای پرېږده.

زما موخه هېڅکله دا نه ده، چې د کندهار: د ښکلي کندهار او وياړلي کندهار د باهمته ولس زړه ازار کړم، خو نن سبا چې څومره حالات ترينګلي دي، نو د ټولو خلکو سترګې همغې خوا ته دي، ځکه کندهار د يوه داسې نظام مرکزيت ګرځېدلی، چې د ښځينه نوم اخيستل ورته ګناه ښکارېږي.

او بل دا چې زما په خپل نظر د يو دوو خويندو بيوګرافي راوړل ما ته يوه غير عادلانه خبره ښکاري، که دا ډېره ضروري وي، بيا خو بايد د شريعت له مخې سم نيمايي حق ورکړو او که ووايو چې دومره شاعرانې له کومه کړو؟ نو بيا خو بايد پنځه ويشت نه، بلکې (15) ښځې ضرور په کې وي، په داسې حال کې چې دوه پنځوس نارينه په دوو کلونو کې راوپېژندل شول، نو د دغو پنځلسو خويندو لپاره نو پنځلس کاله وخته ته ارو مرو ضرورت و، چې صالح صيب د اوسپنې څپلۍ پسې زړې کړې وای.

بله خبره دا ده چې دوه کاله وړاندې مېرمن ارين يون د وږمو بهير په نامه د ښځينه ليکوالو او شاعرانو يوه تذکره راټوله او چاپ کړه، چې د ښاغلي پروين فيضزاده ملال خور په ګډون د کندهار نورې شاعرانې هم په کې معرفي شوې دي. د يادونې وړ ده چې د وږمو بهير د افغانستان په کچه د (72) تنو ښځينه شاعرانو او ليکوالو لومړی ټوك تذکره ده، چې په داخل او بهر کې يې خورا تود هرکلی وشو. خو که دا تذکره د آغلې ارين يون پرځای بل چا، مثلاً محمد اسمعيل يون خپره کړې وای، نو زموږ د ډېرو نقادانو له ګوزارونو څخه به اوس هم په امان کې نه و، راځم خپلې اصلي خبرې ته، اوس که صالح صيب د يو_ دوو خويندو بيوګرافي او د کلام نمونې خپلې تذکرې ته وراچولي وای، نو دا به يې ډېره لويه غلطي ګڼل کېدله، هغه ځکه چې د کندهار هغه وتلې شاعرانې چې زموږ ښاغلي معرفي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي ښوولي، هغه (د وړمو بهیر) کې راپېژندل شوې دي او کومې چې پاتې دي، هغه به د وړمو بهیر دویم ټوك ته سترګې په لارې وي او دا کار د خور ارین یون په څېر له یوې هوډمنې لیکوالې پرته د کوم نارینه د وس او توان خبره نه ده.

په پای کې صالح محمد صالح ته د دې کامیابۍ مبارکي ورکوم او له لوی خدای (ج) څخه یې راتلونکی د ادب په آسمان کې د یوه روښانه ستوري په څېر غواړم.

د کړاو محصول

په انسان کې هیڅ داسې یو ضعف نه لیدل کیږي، چې هغه د تعلیم له مخې له منځه لاړ نه شي، خو دا کار یوازې او یوازې په هاند او ربړو پوره اړه لري، ځکه تعلیم بې له زحمت څخه د سړي په زړه او دماغ کې ځای نه نیسي، تعلیم هغه وخت د سړي چې او مغزو کې ټینګیږي، چې شپه او ورځ په دې لاره کې ربړ تکلیف وګالي، پرته له دې خوشې خیال او تصور دی او بس.

محمد الله کمال، پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احسان الله عارف

ملا احسان الله عارف د مولوي فیض الله زوی پر 1355ل کال د غزني ولایت په ناوې ولسوالۍ کې زوکړی دی. دیني زده کړې یې کړي او له شپږو کلونو راپه دېخوا شعرونه لیکي، چې یوه شعري ټولګه یې برابره کړې ده، نوموړی له ډېرو کلونو را په دېخوا په کندهار کې اوسي او پر اوس مهال د کندهار راډیو د اژانس مدیریت ور ترغاړې دی. وخت پروخت یې شعرونه او نثرونه په کندهار او خلافت مجلو او طلوع افغان ورځپاڼه کې خپاره شوي دي.

له هېواد او د هغه له ویاړلو خلکو سره ډېره مینه لري، د شعر ستره موضوع یې هم د همدې مینې بیانول او انځورول دي، چې همدغه ټکي یې لویه شعري پانګه ده، د دومره هنریت خاوند هم دی چې خپلو دغو خبرو ته مترنم او زړه راکښونکی جوړښت ورکړي، عارف یو هڅاند انځور ګر دی، چې د هېواد له پېښو څخه یې ډېره عکاسي کړې ده. داسې نه ده چې خپلې خبرې په وچ او کلك انداز کوي، ځکه ده ته څرګنده شوې یوازې ښې خبرې او ښه فکر د ښه او لوړ شعر معیار نه دی. که چېرې یې په دې برخه کې خپله مطالعه او هنري تجربې نورې هم ډېرې کړې، نو کېدی شي خیال یې اوچت او شعري ځواك یې نور هم پیاوړی شي.

### دسینې داغ

چې مې ستا ورانې ویجاړې ولیدلې

ګران وطنه! له زړګي مې نه وتلې

په لیدو دا ستا ماتم راباندې جوړ شو

خدای دې وران کړي چې یې ته را ورانولې

ستا دننګ څلي ټول ړنګ وو ګران هېواده

پر ګرېوان مې ځکه اوښکې بهېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره تیره دي په وینو باندې سره وه

له درو څخه دي وینې څڅېدلې

نه هغه شور د بلبل او نه چمن و

بوراګانو سرې منګولې لګولې

د بلبل پر سینه داغ و پیدا شوی

دماتم کیسې یې هر چاته کولې

له دردونو او زخمونو سره مخ وو

د وفا په سترګو هېچا نه کتلې

نور عارف ته منور ښکلا ښکلا شوې

چې "د خړ کتاب شریك" را وګټلې.

## ملنګي

چې مین تل دمعشوق په هجران سوځي

دیعقوب زړه بیا په غم د کنعان سوځي

کړاوونه ډېر زغمي عاشق دمینې

نم د سترګو د مجنون دی ګرېوان سوځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې انځور د يار دحسن يې په زړه شي

فرهادي شمعه کړي بله سندان سوځي

لېونتوب ورته د مينې په بازار کې

ټولول دخوشحاليو خپګان سوځي

ملنګي ورته هېڅ عار و پېغور نه وي

ټولوي خيرات د مينې جهان سوځي

په بيدياوو، دامانونو کې اوسېږي

د بهار په اميدونو خزان سوځي

هلته لرې دسپېرې جونګړې خوا کې

ارمانونه او اهونه يې ځان سوځي

چې ټول عمر دمعشوق په طلب ګرځي

ځکه ما عارف همدغه ارمان سوځي.

**دالفت ډېوې**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اخلاص شمعې شوې بلې په وطن کې

د بلبلو مجلس جوړ شو په چمن کې

زمونږ دهيلو غوټۍ وسپړل ګلونه

د نفاق کارغان چې ورك شول په ګلشن کې

غمځپلې څېرې خاندې او موسکا کړي

دخوښۍ نغمې غږېږي هرمسکن کې

چې نه چور، نه چپاول او نه جفا شته

د الفت ډېوې نما کا په هر تن کې

قرباني مو مېوه راوړه ښه په ډاګه

سرلوړي مو شوه ښکاره په سره کفن کې

چې اخلاص اوصداقت مو ښه څرګند شول

عارف ځکه شوم خوشحال په دې میهن کې.

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احمد صمیم

استاد احمد صمیم د شېخ حاجي عبدالغفور خروټي زوی پر1333لمریز کال د کندهار ښار په لومړۍ ناحیه کې زېږېدلی دی، خپلې زده کړې یې په کندهار دارالمعلمین کې تر څوارلسم ټولګي پورې رسولې دي. د 1365ل.کال د غویي(ثور) پرڅلورمه نېټه دځینو ستونزو که کبله کډوالۍ ته اړ شو او په کوټې ښار کې یې استوګنه غوره کړه، د 1378ل.کال د وږي(سنبلې) پراتمه نېټه بېرته خپل هېوادته راستون او په خپل پلرني ټاټوبي کې یې واړول.

په کډوالۍ کې یې دهغه مهال په بېلابېلو جهادي دفترونو او پوهنیزو مرکزونوکې دندې ترسره کړي او د خپل هېواد بچیو ته یې د ژوند سپېڅلې لار ورښودلې ده.سربېره پر دې یې د ښوونکي په توګه هم په بېلابېلو ښوونځیو کې دنده تر سره کړې. د وخت کړکېچنو حالاتو دومره وځوراوه چې تر1354ل.کال را په دېخوا یې د شعر ژبه روانه کړه او په لنډه موده کې یې دډېرو خلکو پام دځان خواته را واړاوه.

په شعر کې یې فکري پانګه ډېره او شاعرانه بغاوت یې په خپل ځانګړې اډانه کې ډېرراښکون لري، هره مسره یې دیو درد او کړاو انځور دی، چې د رحمن بابا، سعدي، الفت او داقبال د کلام اغېز نوره ښکلا هم ورببنلې ده، ځینې نثرونه یې هم لیکلي چې یو شمېر یې ناچاپ او ځینې یې چاپ شوي دي، د لیکل شویو اثارو شمېر یې له (22) څخه هم اوړي، له بده مرغه د 1357ل. کال د غویي تر اوومې نېټې راوروسته یې دځه لیکلو تابیا نه ده کړې او دا ډګر ترېنه پاتې دی،خدایدې وکړي چې د ډېرو لیکنو اوسېله یې زیاته او قلم یې یو ځل بیا روان شي.

نوموړی ښاغلی اوس د کندهار ابو حنیفه مدرسې سر ښوونکی دی.دا یې هم دشعر څو بېلګې:

## د هیلو زخم

زما ترنم د زولنو موسیقي

زماپه اهنګ کې تحول نخښېږي

بیا مې مایوسو ورځو وخندله

نوره د فرېب بوډۍ په مرګ غزېږي

زما په قلم کې قیامتونه پټ دي

زما په نغمو کې انقلاب بهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ترانې د بغاوت زېرى دى

د ميکدې خمونه بيا چړپېږي

زما تصور نور اسارت نه مني

لوى حرکت مې له خوبونو زېږي

نن فطرتې سورخيانې ښکارې پرمخ

پټ د ورېځو شاته لمر نخښېږي

نوره ځولۍ د ارمان تشه نه ده

د هيلو زخم د صميم جوړېږي.

1378/2/1ل. کال، کوټه

☒☒☒☒☒☒☒☒☒☒

## زه

زه د شپې خاموشه زړه يم

زه تور تم د خاطرو يم

زه يو ګروب ښار د فرهنګ يم

زه موزيم د حادثو يم

☒☒☒

زه يو برج د تحمل يم

زه رباط د انتظار يم

زه کلا د زاړه برم يم

زړه پاڼه د روز ګار يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠⊠⊠

زه یو لوی خاموشه ځلی

د سکوت همسایه کېږم

زه یادګار د ګذشته وو

په ګونګۍ ژبه غږېږم

⊠⊠⊠

زه د قهر تخم پروت یم

دتاریخ په خرابو کې

زه یوه ورکه وچه اوښکه

د تور بخت په ګرېوانو کې.

1377/1/28ل. کوټه

⊠⊠⊠⊠⊠⊠

**ناشناسه هدیره**

د فریاد په خړو اېښمو

ددې ښار اسمان خړېږي

یا دزړه دقهر عکس

پر افق باندې رسمېږي

⊠⊠⊠

بیا د تورې تیارې دښت دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼا خېمه ټولېږي

بیا د لوی پاڼ له غارو نه

حشرات د خطر زېږي

☒☒☒

بیا قبرو خولې وازې کړي

بیا د مړو ګوله غواړي

بیا خزان وهلی کښت دی

نه وربخ ورسره ژاړي

☒☒☒

بیا هیبت د کنډوالو دی

د اجل چاړه تېره شوه

دسپاهیانو پته نه شته

ناشناسه هدیره شوه.

## ناکامې اوښکې

بیا خندا تښتي له شونډو

بیا ولاړ تور ادمخور دی

بیا د مرګ لاسونه راغلل

سونوشت ورك کړی لور دی

☒☒☒

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځنګله زړه غلغله ده

زير و بم د فريادونو

د قفس د جېل مرغانو

نغمه سر کړه د يادونو

□□□

د شفق انګګار بلېږي

دخونين سبا پيام دی

په کلتور مې سر ځړېږي

زوړ عظمت د چا غلام دی؟

□□□

د حزينو کونډو آه دی

د محزون ماښام سکوت دی

د حرمان په عذابځي کې

په ناکامو اوښکو قوت دی.

1378 /1/28ل کوټه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احسان الله جرس

ځوان شاعر احسان الله جرس دمحمد ترين زوی پر1363لمريز کال د وږي(سنبلې) پر شپږمه نېټه د کندهارښار د لويې ويالې د "ډېرو پله" په سيمه کې زوکړی دی ، اوس د البېروني شوونځي په اتم ټولګي کې خپلې منځنۍ زده کړې پرمخ بيايي.

لومړنی شعر يې پر 1378ل ليکلی دی؛ له نېکه مرغه جرس په ډېر وړکتوب کې د ښو شاعرانه پنځونو لپاره پياوړی مټ او لوړ استعداد لري، په لنډه موده کې يې ځان دهنرتوب او شعرتوب لويې نړۍ ته ورلنډ کړ.که څه هم دشعري استعداد غزېدو ته يې فضا ډېره تنګه وه او د پرمختګ زمينه يې ډېره نه وه برابره، خو بياهم ډېر زيار يې وګاله او ډېر خنډونه يې له خپلې لارې څخه لرې کړل، خو يو شمېر يې لا پاتې دي. که د نورو ادبي او فرهنګي ملګرو هڅونې او په دې برخه کې مرستې نه وي، دی به ونه شي کړای د خپل کاله په تنګه فضا کې وده وکړي او يا يې څوك د هنر پر قدر وپوهېږي، د ملګرو په برکت پر ډېرو کړلېچونو او پېچومو راواوښت او خپل هنري او ادبي استعداد يې وځلاوه.

ده دقافيه وال تر څنګ ازاد شعرونه هم کښلي او اوس اوس يې د لنډو کيسو پر ليکلو هم پيل کړی دی.

غزليزه ژبه او شعري توازن يې ډېر پاموړ دي،که له شعر سره يې مينه همداسې توده پاتې شوه، په راتلونکي کې به خپلې وياړمنې ټولنې ته ډېرې ښې هنري ښېلګې وړاندې کړي. د جرس ځينې شعرونه په طلوع افغان ورځپاڼه، ارغندجريده، هيله، ګندهارا، کندهار، خلافت او نورو مجلو کې خپاره شوي چې ډېرو خلکو ستايلي دي. جرس څه له پاسه د څو مياشتو په موده کې يوه ټولګه شاعري وکړه، خو په دې وروستيو کې يې دا اندازه لږه شوې، نو هيله ده جرس يو ځل بيا پرليکلو پيل وکړي او په خپلو ښايسته شعرونو د مينه والو سترګې سړې او ذوقونه خړوب کړي.

### شنې سترګې

پرزړګي مې له اسمانه را اورېږي الهامونه

هم له ستورو او سپوږمۍ نه را توييږي الهامونه

ته وا حسن يې سپرلی دی ،ته وا شونډې يې غوټۍ دي

په شنو سترګو دجانان کې را شنه کېږي الهامونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږغزل دومره جګ شوی ،خدای؟خبرکه بیا راټیټ شي

چې له څوکو دخیبرنه رابهېږي الهامونه

موږ ازل کې شاعران یو، شاګردي مو دخدای ؟ کړې

نو مو څکه هر غزل کې معلومېږي الهامونه.

6\4\1379لمریز،کندهار

## کوترې

بیا ولوېدې له خروشه او له تللو نه کوترې

ای حسنه! تا خو جوړې کړې له ښکلو نه کوترې

دې ښکلو چې د حسن وزرونه پر ځان سرېښ کړل

اوس موږهم په هوا کړې له غزلو نه کوترې.

16\3\1379هرات بازار،کندهار

## د حسن کتاب

زما چې دزړګي رنګین کابل زخمي زخمي ښکاري

کوم یوه ظالم ورته خنجر په لاس کې ونیوه

نه درومي پېغلوټې اوس ګودر ته دپخوا په شان

ښايي کوم غماز ترېنه ګودر په لاس کې ونیوه

زما معصوم زړګی یې په سکروټو راته وریت کړ

ستا سرکښو سترګو چې نظر په لاس کې ونیوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه پرځیگر درته دخیال څو ستوري وکرم

ځوان "محمدیار"راته هنر په لاس کې ونیوه

ستورى چېرې نه وم، خو په ستورو يې حساب کړمه

کله چې دحسن کتاب، لمر په لاس کې ونیوه

څنګه به داستا دحسن ځل ته غزل نه لیکم

ستا دوصل شپو چې ژر سحر په لاس کې ونیوه

زما چې دغزل پرکندهار باندې سپرلی راغی

ژېړ ګل مې جانان ته نغمه ګر په لاس کې ونیوه.

1\2\ 1379لمريز – کندهار

## دوصل عرش

خُمار – خُمار کتل مې د جانان، زړه تخنوي

په هغه دم مې اوښکې د ګرېوان زړه تخنوي

هروخت په غېږ کې نیسم دخیال چته سپینه پېغله

په ګوتو دغزل مې د "کاروان" زړه تخنوي

د وصل څو جامونه، اشنا! ماته را تیار کړه

زاهد وايي جامونه دشیطان زړه تخنوي

دمينې هسك اسمان ته ځو، د وصل عرش ته خېژو

جانانه ! دا ارمان مې هر زمان زړه تخنوي

دمينې په مکتب کې مې د ښکلو مینه زده کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم غزليز خيال مې د اسمان زړه تخنوي.

\1378سلواغه\12 کندهار

## نېستي

اوس نه مستي او نه نازونه دي دنجونو په کې
ځکه په وينو سور ښکارېږي مازيګر دپېغلو
تش په خوبو او په خيالو مو زړه خوشحاله ساتو
نه سارنګۍ او نه سېتار شته،نه ګودر دپېغلو.

## بنګ

شرنګ چې د بنګړو شي له زخمي مړونده ولوېږي
جوخت مو سارنګۍ او هم سېتار له خونده ولوېږي
لا س د وچکالۍ ددېو شي، اوږد د ګل غاړې ته
ښکلې ښاپېرۍ مو له رنګين ارغنده ولوېږي
خدايزده چې به بيا پيرنګ ته ماتې ور په برخه کړي
شور مو د ټپو چې له سرکښ ميونده ولوېږي
ژوند مو دغمونو پر بستر باندې تېر کړی دی
اوښکې مو ګرېوان ته د لېمو له بنده ولوېږي
څنګه به داستوري په دې شنه هسك کې نشه نه کړي
بنګ غوندې غزل چې د صالح له انده ولوېږي
پام کوئ ملګرو!چې "جرس" ته ښېرې ونه کړئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر که څو څو ځلې یې نغمې له خونده ولوېږي.

28\3\1379پنځمه ناحیه،کندهار

## د اوښکو ځپېړه

زما په سوي زړه کې

د یوې ښکلې، ماه جبینې پېغلې

د وصال خیال نخښېږي

ورسره زه هم ناڅم،

او په رښتیا شي راښکاره له لرې

او رانه حال وپوښتي

ورته خپل حال ووایم

ورته ګیلې وشیندم

او ورته ووایمه:

چې د جفا سپاهیان دې هره شېبه

زما نازک خیالونه

راته د اوښکو په ځپېړه باندې

تغمه تغمه کړي ټوله

خیر دی که هر څومره مې ووهې ډېر

خو زه پرې نه پوهېږم

ځکه چې ذهن مې پوخ شوی یاره!

له دې ځپېړو څخه

دا راته ووایې په ناز او ادا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې: خير دى صبر وکړه

او رانه لاړه شي د زړکي په تګ

راته يوازې خپل غمونه پرېږدي

راته يوازې خپل غمونه پرېږدي.

1378/12/10کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احسان الله غروب

احسان الله غروب د ښاغلي عبداللطيف زوی پر 1367لمريز کال د کندهار په نوي ښار کې زېږېدلی دی.

غروب د ګران هېواد پر ارته لمن هغه راټوکېدلي ګل ته ورته دی چې له ټوپکو،مردکيو،وينو او...څخه پرته يې پر بل څه سترګې سرې شوې نه وي، له 1378لمريز کال نه را په دېخوا شعرونه ليکي، د وروستيو خونړيو پېښو ځينې انځورونه يې په خپلو شعرونو کې کښلي دي؛ لا ډېرتنکی دی او ډېر مزلونه يې لار څاري، دده ذوق او استعداد دا په ډاګه کوي چې په نږدې کلونو کې به ښه شعرونه وليکي. خو دشعر ليکلو تر څنګ مطالعه او رياضت ته هم بايد پاملرنه وکړي، ددې تر څنګ که هڅه وکړي چې خپل شعري بيان ته ځانګړې تګلار وټاکي غوره به وي، ځکه دشعر له رنګ او څرنګتيا څخه يې دا څرګندېږي، چې د ويلو لپاره ډېرې خبرې لري او غروب هڅه کوي خپلو دې ويناوو ته هنري ښه ورکړي. د غروب شعرونه ډېر لږ دي، خو بيا يې هم همدا لږه هڅه ستايو او نورې برياوې ورته غواړو.

نوموړی اوس په امام ابو حنيفه مدرسه کې پر خپلو زده کړو بوخت دی. طلوع افغان ورځپاڼه دده د شعري استعداد په غوړولو او ځلولو کې ډېره اغېزناکه تمامه شوې ده، چې دده لومړنۍ تجربې په کې خوندي دي.

د غروب فکري او ذهني بلوغ ته ډېر وخت پاتې دی او ډېره موده په کار ده چې هنري او ادبي نبوغ يې هم وځلېږي.

## خال

زه دلمر غوندې جانان د خيال ارمان يم

پرښايسته تنې يې ځان نه ورتېمه

د يو حسن او رڼاوو لاروی يم

دښکلا دپسرلي ارمان لرمه

دهر ستورې بدرګې ته اوښکې نغاړم

پر لمن يې نوراني ګرېوان کرمه

ته مې مه ګرځوه مخ له خپل شنه خاله

لا تراوسه قسمونه پرې زه خورمه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارمان

يو څوك مې وژني هره شپه ټولې خېمې لټوي

لکه رڼا، ده څراغونه او لمبې لټوي

کاشکې د لمر په خوا مې کور وای ما به نور پېژنده

زما لېمې د تورو شپوپه غېږکې شپې لټوي

د باد سره څپه مې ودرېده پر څيري گرېوان

زما دهيلود ارمان هغه شپبې لټوي.

## سرابي ښايست

اوس نو ستوري په کې نه شته

څه کمزوري په کې نه شته

دا د لمر په تاو کې گرځي

که يې گورې په کې نه شته

ها خوا دا خوا خو مې چاڼ کړل

هورې دورې په کې نه شته

هر گلاب له شعره جوړ دی

خو بيا تورې په کې نه شته

بس همدا غزل يې بس دی

خدای شته نورې په کې شته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1379لمریز، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمدالله وثیق

احمدالله وثیق د مولوي نقیب زوی پر1356 ل.کال د زابل ولایت په خروټو کلي کې زېږېدلی دی.نوموړي پر دیني زده کړو سربېره تر اتم ټولګي پورې ښوونځی هم لوستی دی، په هېوادکې یې په یو شمېر ادارو کې هم دندې ترسره کړې او د څه مودې لپاره د طلوع افغان ورځپاڼې مسوول چلوونکی او دکندهار راډیو نطاق و، اوس هم پر فرهنګي چارو بوخت دی، د هر کړېدلي افغان په څېر یې د خپل ژوند په بهیر کې څو څو ځلې هجرتونه هم کړي دي.

شعر یې عاطفي رنګ لري، چې لوستونکو ته ځینې نوي ټکي هم ورلېږدوي.د شعر په ژبه یې ځینې انځورونه هم پنځولي چې د انځورګر خیال ځواك یې په ګوته کوي، له تکلف او وچې تصنع څخه لرې ګرځي، خو په دومره سادګۍ کې هم نه دی ډوب چې خپلو خبروته د هنر جامه ورنه کړای شي،بلکې دده انځورګري داسې ده چې ډېرې کیسې په کې اخښل شوې وي، هغه که د "زانو د اتڼونو" نشت احساسوي او دبې شورو چینو یادونه کوي په خپله له انسانانو څخه د یوه تش او ړنګ کلي کیسه ده چې پر بل څه یې راغبرګه کړې ده. هغه ورځ به هم راشي چې نوموړی تر څه ریاضت او د تجربو تر ترلاسه کولو وروسته له ښو شاعرانو څخه وي. ځکه هنري ژبه او ادبي ځراکت یې ښه دي او دا ډاډ راکوي چې په راتلونکي وخت کې به نور پرمختګ هم وکړي.

### زانې

زخمي ده زخمي ده، پر وزر زخمي ده

د الوتو په ځان کې شور نه لري

وچ دي لاسونه شه ښکاري زلمیه!

څومره ظالم یې، هډو شور نه لري

هغوی ساده دي د مین په کتاب

څوك چې په تن د مینې اور نه لري

ولې وېرېږې ترې د ځواك څښتنه

دی مساپر دی، دلته کور نه لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس پرې د زانګو اتڼونه نه شته

ارام بهېږي، ټنګ ټکور نه لري

پلار د مرمۍ، مورېې د بم خوراکه

غریب یتیم دی دلته کور نه لري.

## اوښکې

دي، تودې تروې اوبه پرمخ بهېږي

پر ګرېوان تریوه څنډه بیا ورکېږي

دا چینې کله مستېږي له خوښۍ نه

کله بیا له ډېره غمه را خوټېږي

کله چاته د زاریو چوپ بیان شي

چې د سترګو له کاسو نه راتوییږي

کله جوړ له څاڅکو- څاڅکو نه سېلاب شي

د نړۍ واړه رندان په کې ډوبېږي

دا چینې هم کله وچې بې اوبو شي

سر پر سګر چې پرې غمونه رارسېږي

دومره زور په دې تروو اوبو کې شته چې

پورته شوې توره بېرته پرې کوزېږي

وثیق اوښکې ورته څکه څڅومه

پر دربار یې سوال په اوښکو ښه قبلېږي.

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سورغر

تېر مو پسرلي شول له خنجر ځنې

وپوښته غيرت مو له "سورغر"ځنې

پڅه شوله توره د بزدل مغول

ورکه يې شوه لاره له لښکر ځنې

ښه بېدرېغه ګل يې رانه يوړلو

ماتې يې کړې څانګې له نښتر ځنې

خاورې دې پر سر شولې ښکاري اشنا!

بندې شولې زانې له ګودر ځنې

زړې د غمونو مې په برخه دي

پاتې شوم بې برخې له اختر ځنې.

## اوبه

ښکاره ويلای نه شم "ستا به خوښه شي که نه" شي

پر زړه مې ستا لپاره ښه خبره ګرځي ګرځي

له خدايه د همته د"همت" کوي سوالونه

زما مين زړګی لکه سوالګره ګرځي ګرځي

لوی خدايه! جل وهلي دې په خپل رحمت اوبه کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي پر ګودر مو شنه لوخړه ګرځي ګرځي.

کندهار

## مين

په لوړو سردرو کې چې خوږې سندرې بولي

شپېلۍ سره مې مينه ده، شپونکي باندې مين يم

چې ډول د غزا ووهي او ځي په تکبيرونو

د جنګ تېزو اسونو پر دربې باندې مين يم

چې راشي له اسمانه او د کب په خوله کې پرېوځي

پر هغه لوړ قيمته سره غمې باندې مين يم

چې هر مازيګرى يې نجونې لمانځي په سندرو

ګودر مې د زړه سر دى، پر منګې باندې مين يم

لرې ځواني ګلرنګه، چنارې ونه يې دنګه

دګل په څېرې ښکلې، يو سړې باندې مين يم

غمجن د بل پر غم وي، زړه يې ډك له پاکې مينې

پر هسې سالم فکر او زړګې باندې مين يم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمد فاني

احمدفاني پر1353 ل.کال د کندهارښار په پنځمه ناحیه کې د شهید نوراحمد کره زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې يې په غازي محمد ايوب خان ښوونځي کې پيل کړې،خو د ځينو ستونزو له کبله له ښاره کډوال شول او زده کړې يې نيمګړې پاتې شوې خو يو څه موده يې په غازي عبدالصمد خان اڅکزي ښوونځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ،کله چې بېرته ښار ته را کډه شول يوولسم ټولګی يې په نساجي ښوونځي کې ولوست،تر هغه وروسته نورې زده کړې ترې پاتې شوې، پر دې سربېره يې ديني زده کړه هم کړې ده.

کله چې يې وحشي روسانو پر 1365 ل.پلار ور شهيد کړ، کورنۍ ټولې چارې ده ته ور تر غاړې شولې، پردې ستونزو او کړاوونو سر بېره يې له شعر سره هم خپله مينه اېشنده ساتلې ده؛ غزليزه شوخه مستي يې شعر ته ډېره ښکلا ښښي. د لرغونو شاعرانو اغېز يې ډېر منلی، چې په دې برخه کې يې د پيرمحمد کاکړ، حميدبابا او شيدا له شعري مزاج سره خپل شاعرانه خيال همغاړې کړی دی.

شاعري يې پخه او ښکلې ده خو که ددې وروستيو وختونو په څېر رياضت او ليکلو ته شا کړي نو دا وېره کېدی شي، چې شاعري يې په هنري لحاظ ټيټه يا کمزورې شي. د احمدفاني په شعر کې ځينې داسې ټکي هم شته چې لوستونکو ته بشپړه مانا نه شي رسولی، کله کله دا ستونزه په لفظي جوړښتونو کې وي کله هم په همدې لفظي پېچلتيا کې چې تر غور وروسته غوڅېدی شي.

### شرنګ

کاکل دې د چشمانو ښايسته زُحل وژلی

يوسف لکه چې نن د خپلې لارې مل وژلی

د زلفو جادو ګرو يې د کوډو غشي جوړ کړل

په سرو وينو شهيد يمه، ما ځان په بل وژلی

وږمو د صبحدم يې د سپين مخ زلفې کړې ماتې

د ګلو په ګلشن کې يې تنها سنبل وژلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پوښ د اننګو خو یې د زړونو پیالې توی کړې

روسانو په ظلمونو کې زما کابل وژلی

نغمې- نغمې بلبلو په اواز کې سره لمبه کړې

یا ښکاري چې احمد فاني په حرف غزل وژلی.

کندهار، پنځمه ناحیه

## مستي

خیال یې جادو غوندې یو برید دی د نیولو په کار

ځومره ماهر دی لکه سترګې د وژلو په کار

تل د سهار د وړانګو مخ ته د ژوند لاس غزوم

نه یم عادت لکه شبنم د ویدېدلو په کار

ښايي افغان یم،په لویۍ کې هم ځان لوی ګڼمه

لکه یو لمر پوهېږم، بیا د رالوېدلو په کار

ما ته یې نه و زده، لومړی باب یې هم دلته پیل شو

اوس پوره پوه دی هر روسی د تښتېدلو په کار

دا خو منم چې ټپي شوي یو، هم زه هم وطن

ژوبل زمری لا قهرجن شي د خیرلو په کار

احمدفاني بې دډاګونو په توصیف موړ نه شي

نور بې ماړه شي د ګلونو د ستایلو په کار.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درد

درد د پرهارو شوم ،د کابل پر طرف لاړمه

شپه شوم د زلفینو د چارگل پر طرف لاړمه

پوځ شومه د وربځو د شفق ځمکې مې لاندې کړې

وير شوم د مرمیو، د منگگول پرطرف لاړمه

شر شومه، فساد شوم، د سندرو ملا مې ماته کړه

ستوني ته رانجه شوم، د بلبل پر طرف لاړمه

اه و اسوېلی شوم، د مظلوم د کعبې بت شومه

مینې ته گناه شوم، د ازل پر طرف لاړمه

تندر د هجران یم د گودر پر منگو پرېوتم

تبر د فرهاد شوم، د جبل پر طرف لاړمه

ما د ارمانونو د کوثر جام چپه واخیسته

چپ له خپله اصله د بدل پر طرف لاړمه

مايې له رخساره تورې څنې په لاس واخيستې

ځانه ته شوم پرېشانه، د سنبل پر طرف لاړمه

اور شوم د سندرو د احمد فاني د زړه پر سر

لمگر د تصور شوم د غزل پر طرف لاړمه.

## سرې سينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل پسې را وځم، لکه لمر چېرې يې نه پرېږدم

هسې له تيارو سره مې خداى طبيعت نه کړ خوښ

ځان لکه باڼه غوندې په لمر سوځم، ازاد دې يم

ژوند مې لکه سترګه د بل چا په زحمت نه کړ خوښ

سوځم د وطن محفل ته ځان قر بانولاى شم

شمعه غوندې ځان ته مې يو لږ څه راحت نه کړ خوښ

څوك چې مې په سيل سرې سينې ته مازيګر راځي

ما لکه شفق د ماښامونو ذلت نه کړ خوښ

سر کې به دې وروست شي، د افغان د غلامۍ فکر

لوړ اسمان له سره د ټيټوالي عادت نه کړ خوښ

نوره ګناه نه لرم احمدفاني تورن په دې

چاته مې په مړو سترګو هېڅکله خدمت نه کړ خوښ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله سحر

ارواښاد بسم الله سحر د جان محمد زوی پر 1352ل کال د زابل ولایت په نوبهار کې زوکړی دی. زده کړې یې په زابل ولایت کې پیل کړې او د کوټې او پېښور ښارونو په ځینو دیني مدرسو کې یې هم لوست کړی دی، کله چې له طالبانو سره یو ځای شو نو دشعر ویلو ځواك یې نور هم پیاوړی او غښتلی شو. ځکه دشعر ډېره برخه یې حماسه ده او چې کله یې د هېوادوالو ناخوالې له نږدې نه ولیدلې نو واړه یې په خپلو شعرونو کې انځور کړې او نورو مینه والو ته یې وړاندې کړې. په شعر کې یې د حماسي بیان ترڅنګ د مینې او ښکلا انځورونه هم کښل شوي، چې د شاعر د زړه غوښتنې او هیلې رابرسېره کوي. هغه یو دلګۍ مشر و او له خپلې دندې سره یې ډېره مینه درلوده، خو پر 1377ل کال د تخارولایت د خواجه غار په سیمه کې د یوې جګړې په ترڅ کې په شهادت ورسېد. دوه کاله وړاندې یې د کندهار اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا شعري ټولګه چې (سحر) نومېده خپره شوه، سحر په خپله ژوندی نه و چې پردې کار یې خوشحالي ښودلې وای.

ارواښاد سحر په ادبي ډګر کې د (سحر) نومي شعري ټولګې په خپرېدو سره مطرح شو او خلك یې له ذهني او فکري تګلورې ښخه خبر شول. خو دا مهال ډېر ناوخته و؛ هغه په خپلو بوختیاوو او کارونو کې دومره ورك و چې دې چارو یې پر ادبي او فرهنګي هڅو سیوری اچولی و، کله چې یې شعرونه لیکل نو یوازې یې خپلو ملګرو ته اورول او د هغوی لارښوونو ته به یې غوږ نیوه.

### محبت

د زړه په وینو مې غزل لیکمه

نازك تصویر دلاله ګل لیکمه

په وینو لیك سره توري تور اوړي

سوځند آهونه د بلبل لیکمه

په سوي سکور او دا ټوټې قلم مې

توري دیار زلفې سنبل لیکمه

چې کله یې او کله نه یې سحر

دا اوس د ځان ژوند ته اجل لیکمه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه شوه

دیدن ته په تلوار چې به راتلله هغه څه شوه

چې زما د زړه ژړا يې اورېدله هغه څه شوه

کوڅه کې چې به زما د اسوېلیو شور اوچت شو

له مینې به لمبه لمبه کېدله هغه څه شوه

سپوږمۍ د څوارلسم چې شي دغره پر سر اوچته

همداسې چې پر بام به راختله هغه څه شوه

وفا يې چې فطرت و د پتنگ د عشق و تاو ته

چې تل به لکه شمعه سوځېدله هغه څه شوه

دا لاره ترې په کومه، دلته اوس راغلی څوك دی

بېدیا کې چې د زړه مې اوسېدله هغه څه شوه

له وېرې چې سحره! په کلو ورته خاموش وم

غوسه يې چې لېمو کې تاوېدله هغه څه شوه.

## د نیران کوڅه

ذرې ذرې مې د جانان کوڅه کې وغورځوئ

ډېر مې بېقدره د خپل ځان کوڅه کې وغورځوئ

د زړه زخمو کې مې دردونه په لړزان خوشې کړئ

خو یو گړی مې د درمان کوڅه کې وغورځوئ

د زړه پرهر باندې مې نورې مالگې هم واچوئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقيبو! بيا مې د ارمان کوڅه کې وغورځوئ

لاسو اوپښو ته مې راواچوئ کړۍ د ظلم

هسې مظلوم مې د زندان کوڅه کې وغورځوئ

پت او عزت قاتلو ای د محبت دښمنو!

پت او ابرو مې د بهتان کوڅه کې وغورځوئ

که ديار ديد کړې لړ و ډېر خو هېڅ پروا نه لري

سحر په ژوند کې د نيران کوڅه وغورځوئ.

1993/3/7م کال، کندهار

## ټکور

ستا له يادونو سره لوبې کوم

ښکلو فکرونو سره لوبې کوم

چې د جنت ژوند يې تصوير غوندې دی

هسې خيالونو سره لوبې کوم

چې ستا بې سترګو بل ټکور نه لري

هسې دردونو سره لوبې کوم

چې نه يې دود، نه يې لمبې ويني څوك

هغو اورونو سره لوبې کوم

د قسمت لوبې دي له تندې مرمه

کومو خمونو سره لوبې کوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مې د چا فکر او خيال نه شته دي

ستا له خيالونو سره لوبې کوم

سحر پر غم يم ددنيا ناخبر

د يار غمونو سره لوبې کوم.

1377ل کال، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بشیراحمد بشارت

بشیراحمد بشارت د ښاغلي محمد موسی زوی پر1356لمریز کال د کندهار ښار په څلورمه ناحیه کې زېږېدلی دی،ترمنځنۍ زده کړو وروسته نورې هغه ترې نیمګړې پاتې شوې او د خپل کمزوري اقتصاد له کبله پر ورځنیو دندو بوخت دی. درې کاله وړاندې د شعر میناتورې دنیا ته راننووت.کله چې یې د خپلو ادبي ملګرو له تاندو بنډارونو سره اشنایي ومونده، د شعر وږمې یې نورهم په ذهن کې غزونې وکړې،که شعرونه یې لږهم دي په خپله سادګۍ کې یو شمېر راښه انځورونه را برسیره کوي ،د وروستیو ناخوالو سیورو یې هم د اند یوه برخه نیولې ده، ورسره ترڅنګ د شعرونو تغزلي ښکلا یې هم زړونو ته لار پرانیزي. بشارت پر خپل شعري استعداد باندې ډېر باور نه لري کله کله خو ځان له ادبي او هنري دایرې څخه بهر احساسوي، کېدی شي په دې برخه کې یې خپل مات نفس هم وربانډې زورور وي، خو بشارت بیا دومره بېغوري کوي چې ګرد سره د شعر مطالعې ته هم" هغسې چې ښایي" ډېره لېوالتیا نه ښیي او که ښیي یې هم، پر له پسې ریاضت نه کوي، چې داکار یې شعر او هنر ته زیان رسوي.

بشارت ښکلې هنري ژبه لري، که یې خپله فکري پانګه نوره هم ډېره کړه او نوښت ته یې ډېره پاملرنه وکړه، نو دا تمه ترې کېګګدی شي چې نور پرمختګ هم وکړي.

### څپانده

اوښکه چې څرګنده شي، ځلانده شي

جوړه د ویر سیند شي را څپانده شي

څه شېبه بڼو کې غلې – غلې شي

راشي اننګو ته راغړانده شي

تم شي یو ځل سپینه مرغلره شي

درومي و هر لوري ته بهانده شي

هار شي بیا پر سپینه سینه وزانګي

لاړه شي ګرېوان کې لالهانده شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هارونه

پردېسې اوښکې مې روانې، د ګرېوان پر لوري

رنځور زړګی مې په نڅا شو، د جانان پر لوري

عقل مې پرېښودله لاره په جنون کې ګډ شوم

اوس ورځم په پښو کې زولنې، ځم د زندان پر لوري

شولې راپورې سرې لمبې د بېلتانه په ښار کې

لوګی – لوګی رانه خوځېږي، د اسمان پر لوري

چې مې را وناځي په زړه کې اندېښنې د هجر

وځمه د اوښکو جوړ هارونه، د ارمان پر لوري

راته یو دید یې قیامتي شو بشارته د یار

سر به ور لېږمه ډالۍ کې ددې ګران پر لوري.

1379لمریز،کندهار

## کرښه

ځوك دعقل په بېړۍ کې د جنون پر لارو درومي

چاته کلې زنداني شي، زنځیرونه را پارېږي

دبدۍ کاروان روان دی، د زمان پر کړلېچونو

نفاق خپل منزل ته رسي، پسادونه را پارېږي

اسمان ټوله زلزله دی، د قسمت بدلول غواړي

د تقدیر پر کرښه ګام ږدي، تدبیرونه را پارېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دهیلو سمندر کې، لا نیمګړې بېړۍ لامبي

کله بیا راشي څپو کې، نهنګونه را پارېږي

د سمون پر سمه لاره، بشارته سم قدم ږده

هسې نه بېلتون راغلی، هجګرانونه را پارېږي.

کندهار، دویمه ناحیه

## ویر

بیا دې په ځیګر کې د سرو وینو لښتي توی شول

بیا مې د نمجنې سترګې اوښکه توپاني شوه

بیا دې په ګرېوان کې د سکروټو باران وشو

بیا دې په ګوګل کې یوه چغه اسماني شوه

بیا دې په لمن کې د پردیو اور راشین شو

نن دې له لېمو څخه رودونه ولاړېږي

بیا پرې سپېلني شول د اسمان ځلانده ستوري

خوځې دې له ټندې نه ګردونه ولاړېږي

⌧⌧⌧

سترې کاروانونه دې د هیلو شول لارورکي

غاړې ته دې ولوېدل د سرو لمبو هارونه

شنې شولې تناکې دې پرسپینو مړوندونو

تاو دې شوله غېږکې د لوخړو بهیرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپرلیه!

دمودو پردېس سپرلیه! راشه زموږښارو مېرو ته

په پسته رنگینه غېږکې گلان راوړه دې دښتو ته

دژوندون په نامه ژوند دی، د زندان په څېر قفس کې

ټولې هیلې زندۍ شوې دي، د ظلم په محبس کې

د تیارو کړۍ ور لوېږي، د مظلومو لاس و پښو ته

هر محفل سور رنگ اخیستی، د حنا رنگ بېگانه دی

د مطرب لاس کې رباب دی، ایښی سر پر زنگانه دی

نه نڅا شته، نه موسکا شته،نه خوښي شته د چا زړو ته

دخزان ترخې سېلۍ مې رژوي راته گلخانگې

د یاغي توپان څپو کې مې ډوبېږي د عشق مراندې

د امید د بېړۍ تله دي، د هدف و رسېدو ته

په گردونو ډك اسمان کې د کرگسو شور ما شور دی

د بېوسو په انگړ کې د لوخړو اتڼ خپور دی

د وحشت په تاریکو کې لاره پرانیزه وړانگو ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بها الدين الهام

ښاغلی بهاالدین الهام د ارواښاد حاجي فتح محمد زوی پر 1335ل.کال د کندهار په دربیمه ناحیه کې زېږېدلی دی، د ځینو اقتصادي ستونزو له کبله له عصري زده کړو څخه بې برخې پاتې شو، خو دیني هغه یې له خپلو سیمه ییزو ښوونکو څخه تر سره کړي، چې په دې ترڅ کې یې د خصوصي زده کړو لپاره پېښور، هلمند او چمن ته هم سفرونه کړي اود پوهې لمن یې نه ده پرې ایښې. کله چې سروپوځونو پر هېواد باندې یرغل راوړ نو ښاغلی الهام له خپلې کورنۍ سره په پاکستان کې استوګن شو، نوموړی تر پنځو عنوانو ډېر شعري او نثري اثار لري چې لا خپاره شوي نه دي.

څرنګه چې لرغوني کندهار په خپله تانده لمن کې ولسي شاعران روزلي او پاللي، نو په دې سیمه کې همدې ولسي شاعرانو تر ډېرې مودې پورې د شعر جنډه هسکه ساتلې ده. د ولسي شاعرانو شعري څرنګتیا یو له بل څخه توپیر لري، یانې د ځینو شاعرانو شعرونه له ورایه پېژندل کېږي، په دې شاعرانو کې ځینو له دیني زده کړو څخه پرته نورې زده کړې نه دي کړي، ښاغلی الهام هم له هغو شاعرانو څخه دی چې له اوسمهالي شعري بهیر سره یې هېڅ ډول اشنایي او بلدتیا نه ده موندلې، اوس هڅه کوي چې معاصر شعر هم ولولي او په خپل اند یې ټول اړخونه وارزوي.

ولسي شعرونه یې ډېر لوستي چې اغېز یې دده په خپلو په شعرونو کې ځرګندېږي. دده په ذهن او زړه کې د هېواد مینه په څپو ده، چې ددې مینې او خواخوږۍ څرك یې په شعرونو کې کتای شو.

## مه راځه سپرلیه

دلته مه راځه سپرلیه دلته، اوښکې نه دربېږي

دلته جوړه کربلا ده، دلته سرې وینې بهېږي

د لته هره ورځ تاوېږي، د غمو د کېږدۍ مراندې

د لته پلار و زوی ته ژاړي، زوی د پلار پر ژړا خاندې

دلته ګرځي بې ادبه، د ادب پرځکمه باندې

دلته توره تاریکه ده، سباوون نه معلومېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خاورې ارمانونه، دلته مرگ پر مخ روان دی

دلته شا ته ارادې دي، دلته جوړ د ویر جهان دی

دلته هر گلبوټی ژاړي، دلته هر گلبڼ خزان دی

دلته غبرگې زولنې دي، په هېڅ ډول نه ماتېږي

دلته بڼ د تقوا لاښ دی، دلته نه شته همتونه

دلته ولي په ډبرو، ښایسته ښکلي لالونه

د لته پښې دنورو خلکو، موږ پرې اخلو قدمونه

دلته داسې جامعه ده، د تزویر ناوې نڅېږي

دلته لگي تېره غشي، پر سینه د بلبلانو

دلته قدر و عزت ډېر دی، په دې بڼ کې د زاغانو

دلته گام پر گام نېشونه، د وژونکو لړمانو

دلته خوار بهاالدین دی، د پردو په لاس خرڅېږي.

1375ل. کوټه

**زموږ ټاټوبی**

دا ټاټوبی د زمرو دی، داسنگر د مسلمان دی

هره لوټه یې سره زر ده، هره بچی یې مسلمان دی

دا نارنج چې موږ یې وینو، دتاریخ ستر یادگار دی

دمیرویس نیکه کورگی دی، اصلي دغه کندهار دی

دا سمبول د ازادۍ دی، پر خپل ځای باندې ولاړ دی

زرټوپونه یې خوړلي، اوس هم ټینگ پر خپل پیمان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د وخت بوډا دی، زړه یې ډك دی له رڼا نه

د مجاز نغمې ته غوږدی، دیثرب باد پرې چالانه

په لمن کې یې راوړي، سرې غونچې دي له عرفانه

په مثال د رود نیل دی، هر دښمن لره توپانه

دلته "میاصاحب" او نور ډېر عارفان دي اوسېدلي

ډېرې سترګې و الله ته په دې ځای کې ژړېدلي

د رڼا وو بارانونه پر دې ځمکه اورېدلي

دلته پوځ د فیضاتو، دلته بحر د عرفان دی

دا مرکز دی داسرارو، خانقا د نقش بند ده

د ادب ډېرې ویالې دي، په دې رود پورې پیونده

جام د جم ورته عاجزه، خزانه د علم و فن ده

دا د سرو ګلونو باغ دی، پرې خوشحاله هر افغان دی

ملاتړلی مجاهد دی، د انارنج چې معلومېږي

پولادي توره ورڅخه، له دښمن نه نه وېرېږي

ښکېلاکګر د زمانې یې په لیدلو چپه کېږي

دی مخکښ دی د بریاوو، لوی فاتح د اصفهان دی

دلته پټه خزانه ده محمد هوتك لیکلې

د ادب زانګو په بیړه، پر دې ځمکه زنګېدلې

چا چې بد ورته کتلي پر هغه مور ژړېدلې

ای الـــــــــهامـه! لیکل بس کړه، ډېر ارت دغه میدان دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تورنپال بابی

ښاغلی تورنپال بابی د ارواښاد شهیدمحمداسحق خان زوی دی، چې په کندهار کې زوکړی دی. د کورنۍ لړۍ یې د میرویس خان نیکه تورزن، پښتوپال او ادبپال" بابوجان بابي" ته رسېږي. ښاغلی تورنپال د ستر او زلمي ټولواك شاه حسین هوتك په ښوونځې کې خپلې لومړنۍ زده کړې پیل کړې، د هېواد د دښمنانو د ورانکاریو او ظلمونو له کبله ونه توانېد چې خپلې زده کړې بشپړې کړي، له دې امله یې ددې جګړو ډېرې صحنې او پېښې په ذهن کې غزونې وکړې چې اوس یې هم هر مهال سترګو ته نېغې نېغې کېږي، نوموړی کډوال شو، سختۍ یې وګاللې او د ژوند ترخې او خوږې یې وڅکلې، د ملي محاذ په فرهنګي څانګه کې یې دنده پیل کړه، له ډېرو نورو شخصیتونو او څېرو سره اشنا شو، د خپل ملي او افغاني شعور له مخې یې د هېواد د لویو او ویاړمنو شخصیتونو د ویناوو د دودونې او ځلونې په موخه یې هم ښایسته هڅې وکړې، خو د ناسمو شرایطو د لا اوروریښېدو له کبله امریکا ته کډوال شو، نوموړي هلته د لطیف جان بابي او غرڅنیخان بابي په مرسته د افغانستان د ملي ژبې د غوړېدو او ځلېدو لپاره فرهنګي او کلتوري هڅې پیل کړې، د دووکلونو لپاره یې په خپل لګښت او مېړانې پښتو مجله خپره کړه، سربېره پردې یې پښتو کلیز، خبري پاڼې او خبرتیاوې یې په خوږه پښتو وژباړلې او خپرې کړې.

د کورنۍ له مشر"بابو خان بابي" څخه شاعري او لیکوالي په ورثه ورپاتې دي، چې تر دې مهاله ددې کورنۍ په فضا کې غوړېدلي او تاندې دي، همدراز یې کورني مشران رحمت الله خان بابی، سلیمخان بابی او دین محمدبابی د شعري دېوانونو خاوندان وو، د کورنۍ لرغوني اثار په تېره بیا د شاه حسین هوتك د مهال قلمي اثار یې د بېباکو واکمنانو او ناسیالو پښتنو له خوا لوټ شول، همدراز کورني شتمني او جایدادونه یې هم تالان شول، د کورنۍ سپینږیرو یې خرقې شریفې مبارك زیارت ته پناه یووړه او پر ځوانانو په تېره بیاغلام حیدرخان بابي او ابراهیمخان بابي د تېلداغۍ حکم وشو، درې سوه کسیزه درنه کورنۍ یې هر مهال د مرینې له ګواښ سره مخامخه وه، خو د نادري پېر(دورې) په پای کې یې مشران له زندانونو څخه خوشې شول او په کندهار کې یې د ژوند کولو حق تر لاسه کړ.

بابی یو هېواد مینی او پر ملي ویاړونو او ارزښتونو مین شاعر دی، لړه شاعر هم کوي ښه یې کوي.

### غوښتنه

زه به څه غواړمه خاونده چې ته دا را

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته باندې پوه یې یو د ګل غوندې اشنا را

چې د ژوندون ترخې تیارې مې پرې روښانې وي

یوه ډېوه په تور زړګي کې د رڼا را

## ښکلا او خپلواکي

تا د نامه په ښکلا د لمر وړانګې

خپرې وې هر لوري ته،

خو،

زه یې په سیوري کې وم؛

دا ولې! دا څکه

چې زما مینه ستا تر ښکلا لویه ده،

او ستا ښکلا زما د تور، سوړ او ژور زړګي

اوږده دالانونه نه شول پوره رڼا کولای؛

نو زه هم څکه ستا ښکلا نه لمانځم

ته مې هېر کړه

او ما هم د وروستي ځل لپاره هېره کړلې

واخله!

دا راکړی احسان دې بېرته واخله،

زه د مینې ړوند یم، ما ته یوازې احساس بس دی

بیا زما و تیاره ګور ته هم ډېوې مه بلوه،

ما تا ته ربښتیا نه شوای ویلای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دروغجن مه بوله

زه روغ ښکارم، خو ړوند يم، په دې چې تا نه وينم،

هغه يادونه چې زما پر زړه را اوري

روغې سترګې خز هم هغه نه ويني،

نو پرېږده چې زه ځم

پرېږده ما په ابدي خاموشي او تياره کې يو او يوازې

خو خپلواک!

نو

پرېږده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حميد الله حميد

مولوي حميدالله حميد د مولوي دين محمد زوی پر 1352ل کال دکندهار ښار په پنجوايي ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. د پلار په مرسته او څارنه يې تر لسم ټولګي پورې په کور کې زده کړه کړې، تر هغه وروسته يې منځنۍ زده کړې په کوټې ښار او نورې ديني زده کړې په پېښور کې له مولوي عنايت الله غبرګي او شېخ عبدالمنان مفتي فريد څخه کړې دي. له 1366ل کال را په دېخوا شعر ليکي، چې اوسني شعرونه يې يوه ټولګه کېږي. سربېره پر دې يوه ژباړه يې هم چاپ ته تياره ده.

ښاغلی حميد وايي چې دمجبوريت له مخې يې يو ځل خپل ټول شعرونه وسوځول او بيا يې هم په ناشعوري ډول يوه ټولګه تياره کړه او ورڅخه له منځه لاړه، اوسنۍ ټولګه يې هم په خطر کې ده. ډېر ځوانان عادت شوي چې خپلې لومړنۍ تجربې ډېرې ټيټې او کمزورې ګڼي، پر همدې بنسټ خپله لومړنۍ شاعري له منځه وړي، خو که ديوې شېبې احساساتي کېدو پرځای له څه زغم څخه کار واخلي، ګټه به يې نوره هم ډېره وي، يو خو به دا نوي ځوانان خپل لومړني شعرونه او ليکنې له اوسنيو هغو سره پرتله کړي او خپل پرمختګ به ورته څرګند شي، بل د نوموړيو توکو خوندي کول يوه اړتيا ده چې بايد ورته پاملرنه وشي. د حميد شاعري په يوه غلي چاپېريال کې د شپېلۍ هغې نغمې ته ورته ده، چې د يوه ماهر شپانه په لاس وغږول شي.

نوموړی اوس د يوه مدرس په توګه په يوه جومات کې بوخت دی او د هېواد بچيو زړونه او ذهنونه د پوهې په رڼا روښانوي.

### د مينې پور

چېرته چې د لمر ياغې وړانګې رسي

چېرې چې کاروان د مينې واړوي

ووايي بلبل په ترانو دعشق

وسوځي، ايرې شي په لمبو د عشق

زور ورکړه شپونکيه و شپېليو ته

وايه د سارا و لېونيو ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشئ چې د مینې له مجنون سره

وخاندو په زوره له جنون سره

دادی پور د مینې ستاسو غاړه کې

دا دی اور د مینې ستاسو غاړو کې.

## بارانونه

تر سترګو مې دردونه، سېلابونه را اورېږي

پرمخ مې شولې لارې ارمانونه را اورېږي

و مخ ته مې بندونه د لېمو ورته تړلي

پرې مات شولو ماتېږي توپانونه را اورېږي

د هجر باد د مینې انګارونه سره لمبه کړل

د زړه کور مې سوزان شو هجرانونه را اورېږي

ورځم د شاه خوبانو و هغې ښکلې هوجرې ته

روضه کې چې یې کښېنم رحمتونه را اورېږي

معشوقه استسقا رانه د سترګو پردې یووړې

که یو وار نظر وکړې بارانونه را اورېږي

د هیلو باغ مې ګوره د امید غوټۍ نیولي

پر هغه لار مې تش کړه چې نازونه را اورېږي

غوښتنه کې منظور شوه بیا هلته حمید ګوره

ارمان څه چې له خولې به یې سازونه را اورېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1378/5/28ل کال

کندهار

## د کوڅې خاورې

ستا د کوڅې خاورې مې ښکل کړې د وفا په هیله

لارې د کلي مې پل پل کړې د وفا په هیله

ستا په درگاه کې یم سرټیټی، خړې سترگې ولاړ

سترگې د سوال مې درته ول کړې د وفا په هیله

اوښکې غوټې پر اننگو لاړې گرېوان ته لاړې

د گرېوان کور کې مې ځل بل کړې د وفا په هیله

یوه رښتیني هدف راوستمه ستا و در ته

ما وېل له زړه نه که ما ښکل کړې د وفا په هیله

ستا ښکلي مخ ته گورم یاره خو حمید ته گوره

شمعې حمید ما درته بل کړې د وفا په هیله.

1379ل کال- کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حاجي عبدالکریم

حاجي عبدالکریم د ملا غلام محمد زوی پر 1300ل کال په کندهار ښار کې زېږېدلی دی. زده کړې یې په خصوصي ډول د خپل کلي او د سیمې جوماتونو له ملایانو او دیني پوهانو څخه کړي او له ډېرو کلونو را په دېخوا په کندهار کې د یوه حکیم په توګه دنده ترسره کوي اوله دې لارې خپل اقتصاد خړوبوي.

که څه هم پر اوس مهال سپینږیری شوی، خو په زړه کې یې د هېواد او هېوادوالو مینه هماغسې تانده او تپانده ده، کله چې د هېواد د روانو حالاتو او اخ وډب په هکله غږېږي نو ډېرې کیسې یې له سترګو څخه اوښکې بهوي، دا په خپله ددې څرګندوی دی چې ښاغلی عبدالکریم دردېدلی او ځورېدلی انسان دی، له خپل هېواد سره ډېره مینه او خواخوږي لري، داسې سخته ورځ هم پرې راغلې چې نوموړی یې د خپلو ډېرو ارزښتمنو کتابونو خرڅلاو ته اړوېستی دی، خو هغه بیا هم دا ترخې ورځې او شپې په سړه سینه زغملې او زغمي یې.

د شهرت لېونی نه دی، له همدې کبله تر اوسه پټ پاتې شوی او چا نه دی پېژندلی، ماته یې هم د خپلې پېژندګلوۍ له سپارلو څخه ډډه کوله خو بیا مې هم اړوېست چې راویې سپاري.

نوموړی د ټولنې او چاپېریال یو انځورګر شاعر دی، د شعر ډېره برخه یې نصیحت او پند دی، خلك اخرت او د دنیا پایلې ته ځیروي او دا اواز اوچتول غواړي چې له مادیاتو څخه باید سترګې پټې کړو او مانیزو توکو ته په درنه سترګه وګورو.

د ښاغلي عبدالکریم په زړه کې د هېواد سپېڅلې مینه او لېوالتیا همداسې تانده غواړو او د هغې ورځې دعا ورته کوو چې نوموړی خپل هېواد او هېواد سمسور وویني او بیا یې یوه پېښه او صحنه هم پر ګرېوانه اوښکې راتویې نه کړي.

## دنیا

د دنیا پرځای دې دوه سترګې څلور وي

دا ددین پر ځای دې ولې شا ته زور وي؟

نه اودس سم، نه رکوع او نه سجده

راشې مخ کړې پر کعبه، فکر دې نور وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه باغ به تاته څه ثمر در وکړي

چې له تخم او نهالانو څخه تور وي

که ایمان و، اخرت ځي باك پرې نه کړې

که دنیا ځي هغه ورځ ستا غم په کور وي

د دنیا مینې دې هسې زړګی وریت کړ

لکه نغښتی چې پر تورو ایرو سکور وي

عاقلان هېڅ د دنیا طلبګار نه دي

نادانان یې په طلب ځي ناصبور وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیات الله کاکړ

ښاغلی حیات الله کاکړ د حاجي محمد عطا زوی پر 1358ل کال د کندهار درېیمې ناحیې د کاکړو په کوڅه کې زوکړی دی. تر پنځم ټولګي پورې یې (د چوك مدد سیمې) په سردارمدد ښوونځي کې او درې کاله یې په دیني مدرسو کې زده کړې کړې دي، چې اوس هم لګیا دی او دا لړۍ پرمخ بیایي. له دوو کلونو را په دېخوا یې له شعر و شاعرۍ سره مینه پیدا شوې او د شعر مطالعه یې پیل کړې ده، د نوموړي لوست تر دې کچې دی چې په ډېر کړاو سره کتاب لولي او په دې توګه هڅه کوي چې د کتاب پر ټولې منځپانګې ځان پوه کړي او ګټه ترې واخلي، د هېواد پر روانو پېښو کښل شوي کتابونه هم په مینه لولي او تر یوه حده په تاریخ کې یې هم خپل معلومات لا زیات کړي دي. تر دې مهاله یې په ادبي غونډو او بنډارونو کې ډېر لږ ګډون کړی او شعر یې هم له خپل ذهن او کتابچې څخه بهر ولس او ټولنې ته نه دی رسېدلی، پر لومړنیو شعرونو یې د سیاسي پېښو او ناخوالو سیوری ډېر و، خو کاکړ اوس په دې هڅه کې دی چې دغو پېښو ته هنري بڼه ورکړي او دغو انځورونو ته داسې رنګ ورپه برخه کړي چې په خپله ځان ته مینه وال را مات کړي. دشعر هنري جوړښت او ذاتي ارزښتونه یې پرخپل ځای اوچت او خوندي پاتې شي. کله چې یې شعر لولو، نو دا راته جوتېږي چې ښاغلی کاکړ خپل شعر دتکلف له لومو څخه راخلاصوي او د سادګۍ و روانۍ پر لوري یې بیایي.

### بندیز

اور یې پر سندرو لګولی دی

برید دی زور ورو لګولی دی

نن دباز تر سیوري په سلګو ښکاري

تور یې پر کوترو لګولی دی

اوس د طلایي شغلو په کلي کې

غر یې د نشترو لګولی دی

نه شي الوتلای د لمر کې ته

مېخ یې پر وزرو لګولی دی

هره بزدلي له ښاره کډه شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شور دی برېتورو لګولی دی.

کندهار

## لار

ورکړې ده ګلڅانګو چې ګلونو لره لار

د باد پر کلي تېره شوه عطرونو لره لار

اسانه دومره نه ده چې یې واګي کړي ترلاسه

مشکله ده چې وکړي څوك دې زړونو لره لار

اخر به په زاریو د غرور له هسکه راشي

ختلې ده حتمي اشنا! دې غرونو لره لار

زموږ د خرما ونې به په ملا کې کړي را ماتې

ور نه کړئ خدای لپاره و بادونو لره لار

خاکسار وجود له خپله ذاته مومي لوړ مقام

څوك نه کاږي له هسك څخه کورونو لره لار.

## هېر

ما نه مې نظر له یاده وباسي

ښکلي چې خپل ور له یاده وباسي

اوس هغه معصوم ستوري ویده ښکاري

کوز به هم دا بر له یاده وباسي

سوځي ټول چاپېره شتمني د ژوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور چې خپل شرر له یاده وباسي

ما نه مې د کسیو رڼا واخلي او

دا د حسن لمر له یاده وباسي

اوس یې په سندرو راولمه خو

نن که هغه شر له یاده وباسي

بس یوه ټپه چې ورته ووایم

دوی به خپل لښکر له یاده وباسي

هلته پاچایي که وي د عشق د خدای

ټولو نه به زر له یاده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خالد احمدحيدري

خالد احمد حيدري چې اصل نوم يې بهاالدين دی، د جنرال سيد نجم الدين حيدري زوی د1359لمريز کال د غبرګولي پر18 مه نېټه په کابل ښارکې زېږېدلی دی، پلرنی ټاټوبی يې د کندهار ښار د ارغنداو سيمه ده. له نهو کلونو را په دېخوا شعرونه ليکي او يوه ټولګه يې برابره کړې ده.

دی هڅه کوي چې د شعر په ژبه نوې موضوګانې بيان کړي او د نوښت پر لوري ګامونه واخلي، يو نيم ځای يې د نورو پر پله د تلو هڅه کړې ده؛کېدی شي په راتلونکي کې دشعر اّر جوهر ته په پام سره خپل شعر ته د نوښت او شعر توب رنګ وبښي، له ساده بيان او عاطفې څخه يې څرګندېږي چې په غزل کې به تر څه هڅې وروسته خپله لار هم بېله کړي او هغه بري ته به ور لنډ شي چې د لږو کسانو لاسونه وررسېږي.

دښاغلي حيدري لپاره دا غوره کار دی چې په خپل شعر کې ځان ته دريځ ولري، هېڅکله د بل چا په خوښه څه ونه ليکي، خو موږ پر دې باندې باور لرو چې حيدري صيب هنر ته ارزښت ورکوي او خپل شعر به د هنر په جوهر نور هم ښکلی کړي، که له تکراري ترکيبونو، سمبولونو، استعارو او تشبيه ګانو څخه يې خپله فاصله نوره هم ډېره کړه او نوښت ته يې پاملرنه وکړه، شعر به يې نور هنري او ادبي ارزښت هم خپل کړي.

### ملنګ

فاني ديدار ته مې سودا شوه، چې د غرو ملنګ شوم

خيالي کېږدۍ مې پوپناه، شوه چې د غرو ملنګ شوم

دلبره !بيا د زړه چاودلي کورته څه راپاشې؟

معصوم زخمونه په ژړا شوه، چې د غرو ملنګ شوم

بيا د اسمان پر کټ پراته دا لړې – لړې ستورې

ولې سپوږمۍ ته په نڅا شوه، چې د غرو ملنګ شوم

خدای مې شاهد دی چې د شپو کلی مې ولړزاوه

شمعه له سوزه په ژړا شوه، چې د غرو ملنګ شوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیدري بیا د پاڼې-پاڼې جانان زړه ته کتل

خیالي مې مینه وه، رښتیا شوه، چې د غرو ملنګ شوم.

/1378جوزا/6 /لمریز

کندهار

**لټون**

د حسن پوځ به ستا په یاد پسې جهان لټوي

ځکه ټول عمر مې هر اه مست بلبلان لټګوي

سپېره شمال دې، په مړه خوله د مرګي زېرى راوړ

چې تصور مې په یو وار ستا هر داستان لټوي

کوټلو وینو مې ماشوم زړه کړ په جبر خپه

ځکه احساس مې کړاوونه او زندان لټوي

د روح ښیښه به مې په ګوتو د تقدیر شي ماته

چې ستا انځور مې هر ګړی خیرى ګرېوان لټوي

ستا پر پالنګ مې ګوهرناکې او ښکې ورکې شولې

ځکه لېمې مې له سینې د خون باران لټوي

چې حیدري پټ زنګوي ستا د فاني هیلو ټال

خود به ځیګر په راڼه عقل د اسمان لټوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



\1378قوس\4 ل-کندهار

## څپه

چې یو شور د تاندو هیلو د وختو پر پلونو څارم

څو څپه – څپه خیالونه د نغمو پر پلونو څارم

چې زخمونه د ځوانۍ یې د طبیب سترګې ړندې کړې

نن هغه چاودلی زړه، د ارمانو پر پلونو څارم

چې به شمعې ورته توی کړې هدیره –هدیره اوښکې

هغه شپې، هغه تیارې نن د سپېدو پر پلونو څارم

چې فلك د وینو جام یې د شفق په لېچو واخیست

حیدري هغه دلبر به د غمو پر پلونو څارم.

1378جوزا\6 ل

کندهار

## بغاوت

قلم پورته کړه شاعره!

ویده زړونه رابیدار کړه

د ازل په زولنو کې

شعر د زړه په خون سینګار کړه

د ولس سپېڅلې وینه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رګو کې په رفتار کړه

د غوټۍ له سره لړمونه

جوړ دفکر نو بهار کړه

تصور کې جهان جوړ کړه

تل ایجاد نوي افکار کړه

د اغیار غاړې ته دار نن

د بیتونو ښکلی هار کړه

د صهبا پیاله بیا راوړه

زوړ خمار پرې کرار کړه

له فطرته سبق واخله

حیدري! ځان دې هوښیار کړه.

\1378جدي\24 ل. کابل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلیل احمد څارن

ښاغلی خلیل احمدڅارن د عبدالباقي زوی پر 1352ل کال د کندهار ولایت په پنجوايي ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. خپلې زده کړې يې په نسيم اخندزاده عالي ښوونځي کې تر دوولسم ټولګي پورې رسولي او د ځينو ستونزو له کبله لوړې هغه ترې پاتې شوې دي. اوس په یوه موسسه کې دښوونکي په توګه دنده ترسره کوي.

له اتو کلونو راپه دېخوا شعرونه ليکي، چې په دې ډګر کې د پياوړي هنري مټ خاوند دی. شعر يې روان، ښکلی او شوخ دی.

څارن په پښتو، دري او انګرېزي ژبو خبرې کولای شي، يوازېنۍ هیله يې دا ده چې د خپلو بېوزلو او کموزلو هېوادوالو لپاره په خپله سيمه کې د "ځلاندڅراغ" په نوم يو لوی کتابتون جوړ کړي، چې هيله ده دا ملي او افغاني ارمان يې پوره شي. د ښاغلي څارن شاعري دده دعمر په انډول ډېره اوچته او پخه ده. که له ځينو سولېدلو خبرو څخه يې نوره فاصله هم واخيسته، نو شعر به يې نور هم هنري ښکلا او ادبي ارزښتونه خپل کړي، د ښاغلي درويش دُراني په څېرېې په شاعرۍ کې د ژوند او هنر ټول اړخونه رابرسېره شوي، چې دژوند پګېښنو ته يې د هنر جوهر ورکړی او د يوې ښکلې میناتورۍ په څېر يې د لوستونکو مخې ته ايښې ده.

### د ستورو خوی

سهاره! ورو ورو قدم ږده یوه دنیا ویده ده

د زړه په غېږ کې په خواږه خوب مې لیلا ویده ده

لکه سپوږمۍ چې د اسمان پر مخ ښکاره ولاړه

هسې ښېدرېغه، بې پړونې برملا ویده ده

شبنمه! پام کړه چې بارخو يې زخمي نه کړې ګوره

نوې غوټۍ په نوې هيلې د سبا ویده ده

د پېغورونو له دنیا څخه ده ډېره لرې

ځکه په غېږ کې په هوس د خپل اشنا ویده ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وصل شپې! د هجر لمر مخې ته ودرېږه

ليلا د ستورو خوی لري له لمر په غلا ويده ده

څوك به يې خوب، څوك حقيقت، څوك به يې خيال بولي دا

څارنه! ستاپه دغه شعر کې معما ويده ده.

## نه وه!!

هسې خو نه چې دا راغلې له بهاره نه وه

زړګيه! ستا د ځوانيمرګ زړګي غمخواره نه وه

ما د يارانو له نېستۍ نه ځنې کډه وکړه

خو دغه کلي کې يوه نجلۍ بې ياره نه وه

اسمان پر ښکلي مخ د هرچا بخت ته ستوري راوړل

هر سړي خپله برخه يووړه، زما لپاره نه وه

ما د ديدن په تمه ووهل اوږده مزلونه

افسوس د يار منزل ته تللې دغه لاره نه وه

ما ته خو ډېر وي قدرمن، ما خونکار نه بللې

د سترګو سپينه! ستا سورخي خو له خماره نه وه

د هجر شپه وه، تروږمې وه، ګړنګينې کوڅې

سپوږمۍ و لمر تر لاس نيولې تر سهاره نه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې زما ماشوم زړګی په وینو ولمباوه

زما بېتابي ستا له جفا وه، له پرهاره نه وه

خپله يې مړ کړم، خپله ښخ، ځارن پر ځان يم شاهد

د سترګو تور زما لوېدلې لا له ځاره نه وه.

## ټپه

چې خوره شوم د میوند پر سپېره دښته

شاه زلمو کړ سر راپورته له بالښته

پېغله وم چې شوم له پېغلې خوله بهره

بېشماره پر میدان سرونه رغښته

د غلیم وینو شېلې وبهولې

لکه جوړ شي سېلابونه له اورښته

د انګرېز مانۍ تراوسه په لړزه ده

ځکه ما يې وایسته بنیادي خښته

دلته ډېرو د بقا تخمونه ښخ کړل

خو چا نه یووړه مېوه له دغه کښته

چې پرون ومه نن هم یم، سبا هم یم

زه میراث یمه ورپاتې پښت پر پښته

د هر عصر یرغلګره! ښه غوږ خلاص کړه

زه ټپه د ملالۍ یم رانه تښته

د ویاړ ځلي مې میوند جوړ شو ځارنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پند، عبرت دي يرغلګر لره زيات زښته.

کندهار، پنجوايي ولسوالي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خواجه محمد رغبت

حاجي خواجه محمد رغبت دښاغلي حاجي گل محمد زوی د 1322 ل كال د لړم پر څلورمه نېټه په کندهار کې زېږېدلی دی، زده کړې یې په چکسواکیا کې په انجنیرۍ څانګه کې ترسره کړي او له پراګ څخه یې ډپلومه اخیستې ده، نوموړی د کندهار په بېلابېلو ادارو کې دندې ترسره کړي او اوس هم له المان څخه افغانستان ته د پرزه جاتو پر سوداګرۍ بوخت دی. د کندهار په ورځپاڼو او نورو خپرونو کې یې لیکنې او شعرونه خپاره شوي دي، یوه شعري ټولګه(د مینې سوز) یې د چاپ لار څاري، (انسان او انسانیت) یې هم د نظم و نثر بله ټولګه ده چې دا هم لا خپره شوې نه ده. د رحمن بابا، خوشالخان خټك، ملایحیی، مولوي عبدالغفار بریالي ، ملاعبدالمنان ، ملاعبدالسلام او ملامحمدعیسی له شعرونو سره بې کچه مینه لري، له دوولسو کلونو راپه دېخوا په امریکا کې د کډوالۍ ترخې شپې ورځې سبا کوي. پر دې بوختیاوو سربېره یې له شعر و شاعرۍ سره هم خپله مینه تانده ساتلې، له نورو فرهنګپالو او ادبپالو سره ادبي او کلتوري مرستې کوي، په فرهنګي غونډو کې ګډون کوي او د هېواد له فرهنګي او ادبي بیارغونې سره ډېره مینه او لېوالتیا لري. شعر یې د خپلې ودې او پرمختیا لومړني پړاوونه وهي او د هنریت او شعریت ټول ارزښتونه او اړخونه خپلوي.

په ځینو شعرونو کې یې د وزن نیمګړتیا ترسترګو کېږي چې دا ستونزه هم ترڅه ریاضت او زیار وروسته غوځېدی شي.

### خوبونه

ترې د عمرونو یم ساقي د شونډو بنګ را

سترې د کلو یم ښه خوبونه د پالنګ را

د مینې یو بیماریم میخانې لره درځمه

د میو یم خمار ډکې پیالې لره درځمه

د حسن ډك جامونه په هر ان کې رنګ په رنګ را

سترې د کلو یم ښه خوبونه دپالنګ را

ساقي وایمه تاته چې نصیب زما خراب دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت یمه ترټلی داخپل ژوندون مې لوی عذاب دی

خوار یم له ازله رانه ورك ښار د گلاب دی

زه یو مست فقیر یم د کوڅو،کچکول په څنگ را

سترې د وختو یم ښه خوبونه د پالنگ را

اخته دې تور بېلتون له ډېره درده په نشو کړم

د وصل په ارزو دې یم یوازې تورو شپو کې

خپلو او پردیو دې محتاجه د پردو کړم

ستومانه یم راغلی هغه برخه د ملنگ را

سترې د کلو یم ښه خوبونه د پالنگ را

مجلس ته مې دښکلو درخبره کړه

په لیدو مې د هغه یار منور کړه

بدله دنیاگۍ مې په اخترکړه

لرې له غمازه ځای د سرو گلو تر څنگ را

سترې د وختو یم ښه خوبونه د پالنگ را.

## د هېواد مینه

پاڅه له خوبه ای افغانه چې هېواد دې بربادېږي

ترڅو به پروت یې په غفلت کې سپینه ورځ دې تیاره کېږي

ای زلمیه! ته خبر یې چې خپلو ورور مو بېگانه شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لمسون او چال او فرېب د همسايه شو

په قدرت پسې له سده دېوانه شو

ايمان غيرت يې دښمن يوورل بېگانه شو

ناست مدهوش په بازارو کې کور مو يو پر بل خر څېږي

ترڅو به پروت يې په غفلت کې سپينه ورځ دې تياره کېږي

تماشه کړو هره ورځ چې وطن کې مو څه کړه دي

په وينو د ځوانانو دظالم لاسونه سره دي

د عقل پوه قلم او احساس ټول راڅخه مړه دي

يو ناست موږ په غرب کې ښه مو کور، ښه مو خواړه دي

څه همت راته په کار دی چې هېواد مو ليلامېږي

تر څو به پروت يې په غفلت کې سپينه ورځ دې تياره کېږي

لټي مه کوئ افغانانو! څه غيرت او همت وکړئ

له سره به کړو روغه دا جونگړه خدمت وکړئ

راټول له لر او بر شئ، يو اواز او وحدت وکړئ

وشړئ ظالم له پاکې خاورې صداقت وکړئ

که يو نه شو واړه گران وطن مو تباه کېږي

زما ورونو! ځان خبر کړئ د وطن په يتيمانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو تور قيامت په هره شپه تېرېږي پر خوارانو

لاهو دی څوك په سرو وينو، څوك غم خوري د بچيانو

څوك ښخېږي څوك ناست پر فاتحه دعزيزانو

قسم دی ای رغبته که يو نه شو نابودېږي

تر څو به پروت يې په غفلت کې سپينه ورځ دې تياره کېږي.

1995/10/20م کال

امريكا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دواخان مینه پال

دوا خان مینه پال د ښاغلي شاه باران زوی پر1356لمریز کال د زابل ولایت په شاه جوی ولسوالۍ پورې اړوند د کوچیانو په کلي کې زېږېدلی دی؛ په هېواد کې د سیاسي اخ و ډب له تودېدو سره جوخت کوزې پښتونخوا ته کډوال شول او هلته یې استوګنه غوره کړه، نوموړي خپلې زده کړې په ساینس او تقوا عالي لېسه کې تر دوولسم ټولګي پورې رسولي او اوس په کابل کې د حقوقو پوهنځي د دویم کال محصل دی، له 1377لمریز کال نه را په دېخوا شعرونه لیکي، چې د وروستیو دوو کلونو شعري ظګرافت یې ډېر پاموړ دی او دا هیله ترې کېدی شي چې د راتلونکي لپاره ښې هنري بېلګې وپنځوي او نور هم پر مخ لاړ شي.

نوموړی د شعر تر څنګ لنډې کیسې هم لیکي او په هر ځای کې چې وي هڅه کوي ادبي او فرهنګي غونډې ورځخه قضا نه شي، د مطالعې مینه وال دی، چې دهمدې مینې په برکت به دلوړتیا پر لوري د پرمختګ اوږده مزلونه ووهي، که له شعر و شاعرۍ سره یې خپله مینه نوره هم وپالله، نورې برياوې به هم ترلاسه کړي. مینه پال د ژوند په بوختیاوو کې راښکېل دی، کله په کندهار، کله زابل او کله په کابل کې وي.

نوموړی فرهنګپال او ادبپال ځوان دی، که له نورو فرهنګي او ادبي ملګرو سره یې خپل اړیکي نور هم ټینګ کړل او د تخلیق ترڅنګ یې مطالعه له پامه ونه غورځوله، نو د غوړېدو او ځلېدو هیله ترې کېدی شي.

### د ستورو کېږه

ستورو له مدار کېږه وکړله

ښکلو له دې ښاره کېږه وکړله

جوړ چې یې پر مخ راته زخمونه کړل

اوښکو په دې لاره کېږه وکړله

ها څو بلبلان چې ښکاري وويشتل

مات وزر يې خپاره کېږه وکړله

شونډې دې ټکور شوې و زخمونوته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرېکو له پرهاره کډه وکړله

نه شته ها ښکلا هغه زينت په کې

څو غمو له هاره کډه وکړله

اوس له لاس نيوه تر وره واته دي تش

مينې له بازاره کډه وکړله

نو نو مينه پال زابل کې څه لري

تاهم ځنې ياره کډه وکړله.

## پاڼه

د گل پر پاڼه دی دلبر ليکلی

هم پر چنار هم پر نښتر ليکلی

که څوك نظر وکړي پر سمه او غره

په هر يو کاڼي او پر سخر ليکلی

دا راڼه ستوري هم سجدې کړي ورته

هم پر سپوږمۍ او هم پر لمر ليکلی

په ترنم يې بلبلان يادوي

د هر مرغه دی پر وزر ليکلی.

## ښامار

جانانه! تا چې دی له سپينې غړۍ هار تاو کړی

ماهم له غاړې نه يو تېنگ مزی ددار تاو کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې اشنا له دغو مړاووکتو شم سپېلنی

څومره په ناز دې هر باڼو ترې پيره دار تاو کړی

چې دې پر تورو زلفو سپينه لوپټه خپره کړه

ډېر دې په خوند له تورو شپو څنې سهار تاو کړی

پرون دې ليد چې پر سپېره بېديا، سپېره ولاړ و

نن بيا زرغون کميس له ځانه برچنار تاو کړی

چې پر دنيا يې له غيرته کهکشان لړزېده

نن يې له ځانه د سپېرو خاورو مزار تاو کړی

نور مينه پاله اننګي مې ښکلولای نه شې

بيا مې له سپين مخ نه د زلفو تور ښامار تاو کړی.

1379/7/1لمريز

## پرې منګولې

چې يې نيولې دي خورې منګولې

زما په وينو يې دي سرې منګولې

د زړه په وينو مې شفق سور شوی

دي باندې ښخې خونخورې منګولې

بيا يې په زهرو دي نوکان ډک کړي

چې يې نيولې دي کږې منګولې

په مينه – مينه ور کتلای نه شم

د کوم ظالم دي پرې پرتې منګولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور به دې نه کړي په شعرونو انځور

له مينه پاله دي اوس پرې منګولې.

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روح الله ساقیيار

ښاغلی روح الله ساقیيار چې اوس(نامراد) تخلص کوي، د ښاغلي سیف الله زوی پر 1340ل کال د کندهار په پنځمه ناحیه کې زېږېدلی دی. خپلې زده کړې یې تر لسانسه رسولي او اوس دیوه بااحساسه ډاکټر په توګه دنده ترسره کوي، له څو کلونو را په دېخوا په چمن کې استوګن دی او خپلو فرهنګي او ادبي هڅو ته دوام ورکوي.

تر دې مهاله یې دغه اثار خپاره شوي دي: د مینې زمزمې، رڼا

اوښکلا او زخمي یادونه. همداراز پښتو فارماکولوژي او ناوړه دودونه نومي دوه کتابونه یې چاپ ته چمتو دي. دښاغلي ساقیيار په شعر کې د عرفاني ښکلا یو څرك هم ځان څرګندوي چې دا په خپله دده په شعر کې د ځینو لرغونو شاعرانو اغېز جوتوي، قافیې او ردیف یې ښایسته دي. ددې ترڅنګ یې دشعر هنري جوړښت ته هم سترګې ور اوړي. ښاغلی ساقیيار د ښکلا او مینې په اړه هم ډېر بحثونه کوي او هڅه کوي چې ددې فلسفې او ستر راز پر مانا پوه شي او په دې دوو مسایلو کې ډوب او ژور لاړ شي، چې دا په خپله دده مینه او ذوق څرګندوي. د کندهار ځوانو شاعرانو یې شعرونه لوستي او خوند یې ورڅخه اخیستی دی. هیله ده شاعري یې نوره هم وځلېږي او نثر و نظم دواړو کې پوره برى ترلاسه کړي.

### رڼا او ښکلا

زما د مینې په جهان کې رڼا ته یې ښکلا ته یې

زما د زړه په کهکشان کې رڼا ته یې ښکلا ته یې

د بلبل وینا په تاده، د سره ګل ښکلا له تا ده

په بهار او ګلستان کې رڼا ته یې ښکلا ته یې

د ګلرخو په څېرو کې ستا د حسن عکس ښکاري

د خوبانو په کاروان کې رڼا ته یې ښکلا ته یې

د افق سپینه وړانګه یې، په شفق کې ستا سرخي ده

د سپېدو په روڼ ګرېوان کې رڼا ته یې ښکلا ته یې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د زړه په کوه طور کې انوار ستا د تجلو دي

د جمال په دې عرفان کې رڼا ته يې ښکلا ته يې

هر طرف ته چې نظر کړم، ستا رڼا ده، ستا ښکلا ده

د هر مصر په کنعان کې رڼا ته يې ښکلا ته يې

ساقيیار پر تا شيدا يم، ستا وصال زما ارزو ده

زما دهيلو په اسمان کې رڼا ته يې ښکلا ته يې.

## ته هم ژاړې زه هم ژاړم

شمعې! بيا د چا لپاره ته هم ژاړې زه هم ژاړم

په سرو اوښکو تر سهاره ته هم ژاړې زه هم ژاړم

ته سوځېږې زه سوځېږم، ته ويلېږې زه ويلېږم

اوس مو نه شته بله چاره ته هم ژاړې زه هم ژاړم

نور تمام جهان خاموشه، د سکون په خوب ويده دی

زه او ته ناست يو بيداره، ته هم ژاړې زه هم ژاړم

د هجران له درد وغمه د يار ياد دی په سرو اوښکو

په هجران کې بې له ياره ته هم ژاړې زه هم ژاړم

لاله! ومې گوره زړه ته ستا په شان داغ او خونين دی

پر سارا بهر له ښاره ته هم ژاړې زه هم ژاړم

دا د مينې سر انجام دی زموږ نصيب واړه ژړا ده

شمعه وايي ساقيياره! ته هم ژاړې زه هم ژاړم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمال وړانګې

زما د عشق سبا سبا دی ستا جمال وړانګه وړانګه شو

هر طرف ښکلا ښکلا ده ټول جهان ډېوه ډېوه شو

زما د ژوند اغاز و یاره ستا په مینه مینه

زما ارمان ګلاب ګلاب و ستا ځواب غونچه غونچه شو

ستا لیلا لیلا نظر و زه یې هم مجنون مجنون کړم

تا زلفان ګیسو ګیسو کړه زما ګرېوان پاره پاره شو

زما د زړه په لوی جهان کې دا ستا خیال خیام خیام دی

زما هوس زخمي زخمي دی ستا غرور نغمه نغمه شو

د ساغر مستي مستي ده د کوثر پر څنډه څنډه

دلته جام خمار خمار دی، هلته خم پیاله پیاله شو.

## د ژوندون کاروان

د دنیا پر کږو لارو د ژوندون کاروان تېرېږي

د حالاتو ننداره ده له وختو سره بدلېږي

د تقدير په حواله دي د جهان واړه کارونه

د قسمت په حکم شلېږي ټول د عقل زنځیرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لار کې دي ناکامه ارادې او تدبيرونه

له هر چانه پټ جهان دی عواقب يې نه ښکارېږي

له عدمه دې جهان ته ډېرې کډې دي راغلي

له هر څه نه نا خبره څو شپې دلته اوسېدلي

په اميد ورته راغلي په ارمان ورځخه تللي

انسانان له دنيا درومي ارمانونه يې پاتېږي.

**اور**

پرې ولوېدې ستا د خولې د انعکاس سکروټې

زما په زړه کې ستا د مينې شرر او واخيسته

له دغه اوره مې اوس ټوله ځيگر اور واخيسته

زما په لاس کې د شرابو ساغر اور واخيسته

د يوه ځاځکي توان يې نه و د مينوش په نوش کې

ساقي د جام له سرشاريه کوثر اور واخيسته

چې پلوشو دې را ايسار کړه د اسمان لمنه

له ډېر جوشه پر اسمان باندې لمر اور واخيسته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلي مخ دې له نقابه راښکاره کړ شهلا
ستا په نظر دښکلو مخو منظر اور واخیسته

نه پروانه یم نه د چا اتشکدو ته عابد
دا ستا لپاره مې جانانه پر سر اور واخیسته

د نوراني شمعې بوسې ته چې یې شوه تلوسه
پر پروانه باندې دستي خپل وزر اور واخیسته

د سپین بارخو د خولې ځاځکی بې اثره نه و
شبنم د ګلو په بستر کې سحر اور واخیسته

زه ساقییار شومه نامراد هیلې مې شوې نیمه خوا
زما د وصال د ارمانونو ثمر اور واخیسته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سید عبدالخالق صادق

سید عبدالخالق صادق داروابشاد میرا آغا زوی پر 1320 ل کال دې نړۍ ته سترګې رڼې کړې دي. ښاغلي صادق تر دوولسم ټولګي پورې په بېلابېلو ښوونځیو کې زده کړې کړي، دودیز علوم یې دکندهار په جوماتونو او دیني مدرسو کې ترسره کړي دي. له اته کلنۍ څخه شعرونه لیکي چې تر دې مهال یې شل ټولګې خپرې کړي او ګڼ شمېر سندرغاړو یې هم شعرونه په ترنم کې ویلي دي. په دې توګه یې په کندهار ولایت کې یو ملي ریکارډ ټینګ کړی او په دې ولایت کې بل داسې شاعر نه شته چې دده تر کچې یې شعرونه ترنم کې ویل شوي وي. صادق په ولس کې یو محبوب شاعر دی، د شعر اکثر مینه وال یې نالوستي کسان دي، ځکه د ده شعرونه د سندرغاړو په اوازونو او د موسیقۍ په سرو تال کې رانغاړل شوي او په ټول ولس کې حل شوي دي. په کندهار کې به دلوستو او نالوستو کسانو په ګډون داسې څوك نه وي چې ددې ښاغلي یو-دوه شعره یې په یاد نه وي، که څه هم تکړه او برلاسي شاعران ډېر وو او اوس هم شته، خو د صادق ذهني او فکري اړیکي له سندرو سره ډېر دي او وو، چې اوس یې هم د پخوا په شان په ډېرو مجلسونو او ناستو کې شعرونه پر ژبو ګرځي، د همدې محبوبیت له مخې د کندهار ټول خلك ورته درناوی کوي او په درنه سترګه ورته ګوري.

ډېر نالوستي شاعران چې پر شعر لیکلو پیل کوي، نو په لومړي سر کې د صادق له شاعرۍ څخه مرسته غواړي او دده شعر تر اغېز لاندې شعرونه لیکي. د صادق شاعري د پند او نصیحت شاعري او د ټولنې رښتیني انځورګري ده، چې دولس رښتینې هیلې او نیمګړتیاوې رابرسېره کوي.

### ملامت

چې پیر نه وي کامله مریدان ملامت نه دي

تقصیر چې د استاد وي شاګردان ملامت نه دي

پر سپین لباس بېخي ژر توره ټپله معلومېږي

مُلا چې د نیا خوښه کړي امیان ملامت نه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار د عاقلانو، چې ترمخ ځي تر شا ګوري

بینا سړی چې غوځار شي، نو ړندیان1 ملامت نه دي

شرف د هر انسان مدام په علم و په ادب دی

هوښیار چې کار ویران کړي، لېونیان ملامت نه دي.

کندهار

**ځاله**

ستا په هجر کې امیدم کړم د وصاله

بدلومه دا زړه شړی په شاله

بې له تا زما په مینه کې دا حال دی

لکه و چې کړي مکتب کې مرغۍ ځاله

چې لذت یې د چینې لیدلی نه وي

خود به خوښ په کنډولي وي د کلاله

د بې سترګو که هرڅو قران په یاد شي

پېژندلای نه شي حرف د دال و ذاله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایست خریداران تر حساب تېر دي

لږ قیمت پر یوسف مه ایږده دلاله!

زما د مینې ابادي له ډېره وخته

ای رقیبه ځان ساته له زوړ دېواله

لکه ژړو ته چې اب د زرو ورکړي

ظاهري جمال هم داسې بې کماله

ستاد ورزو د هلال له برکته

پر عبدالخالق اختر دی سرو کاله.

**غلط**

د هوښیار پر خپل اقرار بېرته انکار بولم غلط

تر حساب تېرې خبرې او لږ کار بولم غلط

چې په خپله شي څوك بد یا د بل مل ګناه د چا ده

ته بې زوی ملامت بولې، زه یې پلار بولم غلط

د پردو لاسونه چې زموږ له وطنه کوتاه نه کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې مشر او سپينږيری او واکدار بولم غلط

چې يې موږکړو د ځان مشر دی ځان کړي د نوروکشر
دارقم څوکۍ نشين سياستمدار بولم غلط

هغه غوټه چې په لاس خلاصېږي غاښ ته څه حاجت
جنګ جدل دا ډېر قتلونه او کشتار بولم غلط

يواسلام، يومو وطن، ټول يو ورونه يو د بل
يو پر دې لار، بل رهي پر بله لار بولم غلط

چې يې جوړ له هره بيته يو متل د پښتو نه شي
زه سيد عبدالخالق هغه اشعار بولم غلط.

**مياشت**

ما ليدلې په ابرو کې د دلبر مياشت
چې و څنګ ته راختلې وه د لمر مياشت

دازل نقاش چې دا هلال دی کښلی
د بخت په شپه کې يې ويني بختور مياشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د شپول پوړنی ایسته کړې له مخه

راښکاره به شي په دې ژېړ مازیګر میاشت

چې جلوه د بام پر سر وکړي محبوبه

سلامي ورته کوي د غره پر سر میاشت

دا لنډی برات د هجر خدایه تېر کړې

پر سید عبدالخالق کړې د اختر میاشت.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شريف الله شرافت

ځوان شاعر شريف الله شرافت د ښاغلي محمدرفيق پوپلزي زوی پر 1362ل کال په پاکستان کې سترګې رڼې کړې دي، له اّره د کندهار ولايت د پاشمول سيمې د اخندزاده خېلو جومات ته ورځېرمه په يوې کليوالې او ساده کورنۍ پورې اړوند دی. پر اوس مهال تر ښکارپور دروازې بهر د پوپلزو په نوې کلاچه کې استوګن دی.

په پاکستان او کندهار کې يې په بېلابېلو مدرسو کې، همدا راز له خپل پلار څخه زده کړې کړې دي، له دريګيو کلونو راهيسې شعرونه ليکي چې اوس يې هم دا لار نه ده پرې ايښې، که خدای کول د هنري او ادبي تجربو په لاسته راوړلو سره به وتوانېږي خپل اصلي منزل ته ورسېږي، ځکه د کندهار ادبي ټولنې په ډېرو ادبي او فرهنګي غونډو کې ګډون کوي، خپل شعرونه چې اکثر يې لومړنۍ تجربې دي لولي او د ځينو ادبي شخصيتونو له لارښوونو او کره کتنو څخه هم ګټه اوچتوي، چې دده په روزنه او پالنه کې ډېره مرسته کوي. شرافت هم په پيل کې د سيدعبدالخالق صادق ولسي شاعري اورېدلي او يا هم لوستې ده، له دې کبله د نوموړي اغېز ورباندې پروت و، خو اوس چې يې نورې شعرې ټولګې او کتابونه هم ولوستل او په خپل اند يې وارزول، نو په دې هڅه کوي شو چې په دې ډګر کې خپله لار بېله کړي، اوس ولسي شعرونه هم لولي او له نويو شعرونو څخه هم ګټه اوچتوي، ځکه د اوسمهالي شعر مطالعه دا مانا نه لري چې ولسي هغه دې هېر کړو، د دواړو پالل او لوستل ضروري دي، دا هم د تنکي شاعر شرافت څو شعري بېلګې:

### د غم ستوري

چا به ليدلي لکه لمر وي دا رقم ستوري

ماخوليدلي په رښتيا دي ای صنم ستوري

دا چې د مينې هسك اسمان کې هسې ستوري لرو

خود بې تابع شي ددې ښکلو د عالم ستوري

څومره رڼا يې خپره شوې لا خپرېږي پسې

د هغو نورو په څېر نه دي دغه سم ستوري

ستوري د ستورو و وړانګو ته تېروي تورې شپې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه پرې وياړي ورته ډېر دي محترم ستوري

چې سپك نظر ورباندې نه کړي شرافت لري ډېر

دا غمشريکه، غمځپلي دي دغم ستوري.

1379/6/10ل کال

کندهار

## خېمې

د ورځې چېرې يې د شپې راشې

زما و سر ته څو شېبې راشې

ښکلا د حسن دې منو محبوبې

لکه ها پېغلې د خېمې راشې.

1379/5/12ل کال

## زخمي احساس

پښتنه پېغله يم کومه په پښتو خبرې

ځکه مې خوښې دي د پاکو پښتنو خبرې

د ښکلا ميره يمه غواړمه سالو د مينې

خاونده مې يې را ته نيسې د هغو خبرې

زخمي احساس مې نه لري د ژوند کولو تمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې مې زړه راته کوي د امیدو خبرې.

کندهار

## مینه !!؟

مینه کوو خو زده مو نه دی هغه چم د مینې

واړه لوېدلي يو له کیفه او له برم د مینې

بس دومره پېژنو چې دا ده بله نه شته قبله

نور مو د تورو ګردو ډك د زړه حرم د مینې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالستار کمین

ښاغلی عبدالستار کمین د حاجي عبدالحلیم زوی پر 1343ل کال دکندهار شپږمې ناحیې په سرپوزې (داماني) کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. تر اتم ټولګي پورې یې ښوونځی ولوست، چې د اقتصادي ستونزو له کبله نورې زده کړې ورڅخه پاتې شوې او د کورنۍ ټولو کړاوونو اوستونزو ته یې اوږه ورکړه، سره له دې چې دکورنۍ د اقتصادي خروب لپاره کار کوي، خو بیا هم لس کاله کېږي چې شعر لیکي، ددې تر څنګ په ترنم کې هم لوی لاس لري.

شعر یې ولسي رنګ او خوند لري. د ارواښاد بریالي او ګلبیدار له شاعرۍ څخه اغېزمن ښکاري. ښاغلی کمین کله کله دکندهار ادبي او فرهنګي ټولنې په ځینو غونډو کې هم ګډون کوي، که دې برخې ته یې نوره پاملرنه هم وکړه او دنورو شاعرانو له شعري تجربو څخه یې نوره ګټه هم اوچته کړه، پایله به یې ګټوره وخېژي. شعر یې ولسي څرنګتیا لري او ددې سیمې د ځینو ولسي شاعرانو اغېز په کې ترسترګو کېږي چې کېدی شي د وخت په تېرېدو سره دا اغېز لږ شي. همدا راز د اوسمهالې پښتو شاعرۍ مطالعه هم ورته ضروري ده، ځکه د لرغونو او اوسمهالو شاعرانو د فکري، ذهني او هنري کچ ارزونه او شننه هم ډېر نور اړخونه رابرسېره کوي، چې هرڅوك باید په دې کار کې برخه واخلي، ښاغلی کمین ډېر شعرونه د ترنم لپاره د موسیقۍ پر مقامونو جوړوي، هیله ده چې له خپل ذهن او فکر څخه دا چوکاټ لرې کړي او داسې شاعرۍ ته دې مخه کړي چې د زړه او ضمیر هیلې او غوښتنې یې په رښتیني ډول انځور کړي.

### نه وای

خپل بدن بلبل افګار لیدلی نه وای

د ګل څنګ سره مې خار لیدلی نه وای

سپین لباس پر تور صورت چوخه اغوستی

بې عمله مې ګفتار لیدلی نه وای

مینان له معشوقو سره خوشحال وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يافرهاد د تېشې وار ليدلى نه واى

د ازل برخه تقسيم كړه تقديرونو
د يوسف مې خريدار ليدلى نه واى

د معراج پر شپه چې لاړ و لامكان ته
دڅو شپو مې يو سهار ليدلى نه واى

چې په اور كې يې گلزار دمينې جوړ كړ
ما خليل پر سره انگار ليدلى نه واى

د سهار تر كوره شپې د وزخ دوزخ شي
د يار مخ ته مې اغيار ليدلى نه واى

چې و هر چمن بوستان ته كمين ورشي
په سرو وينو مې بهار ليدلى نه واى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالله خيال

ځوان شاعر عبدالله خيال د ښاغلي حبيب الله زوی د کندهار ښار پنجوايي ولسوالۍ دصالحانو په کلي کې زېږېدلی دی، تر اتم ټولګي پورې يې د کوټې ښار په ابوذرغفار مدرسه کې زده کړه کړې او وروسته يې په يو شمېر کليوالي ښوونځيو کې هم لوست کړی دی، خو د زده کړو بشپړېدو ته وخت پرې نه ښود، اوس د ډنډ ولسوالۍ د حاجي عربو په کلي کې استوګن دی.

دوولس کاله کېږي چې شعر ليکي اوپه دې ډګر کې د ښې تجربې خاوند دی، که څه هم په خپلو ورځنيو دندو او کړاوونو کې دومره بوخت دی چې څه ليکلو ته ډېر لږ وخت پيدا کوي، خو بيا يې هم خپله هنري ښکلا د ځلښت تر بريده رسولې ده. فکري لېږد او شاعرانه ترکيبونه يې ښکلي دي، خپل احساسات په بشپړ ډول په ساده ژبه بيانوي، له تکلف څخه به ځکه لرې وي چې په زوره يې د شعر ليکلو تابيا نه ده کړې. سپين شعر ته ورته ځينې ټوټې يې هم ليکلي چې په هغو کې يې هم ځينې انځوريزې ورې پېښې را اخيستې دي. نوموړی ډېرې مطالعې ته هم اړتيا نه ويني ځکه وايي په ادبي ډګر کې د بل چا اغېز منل هم ډېر غوره کار نه دی. سړی دې لږ وليکي ښه دې وليکي، د خيال صيب(وېره) نومی شعر د ښاغلي محمداسمعيل يون د(شعر حجاب) نوي شعر ته ورته دی، چې لومړی بيت يې داسې دی:

د ژوند مړاوې سندره مې رباب کې راولم

د ويښو شپو کيسه دعشق کتاب کې راولم

خو زه پر دې ډاډمن يم چې خيال به د يون صيب شعر نه وي لوستی يا که لوستی يې هم وي او په شعوري ډول د هغه تر اغېزې لاندې نه دی راغلی، ځکه چې ده هغه نوي کتابونه ډېر نه دي کتلي چې تر هېواد بهر خپرېږي.

د خيال شعر روان او اغېزناك دی، که دا ډګر يې پرې نه ښود او همداسې پرمخ لاړ، نو ډېره هيله شته چې دښو شاعرانو په ليکه کې ودرېږي.

### تنده

سپور په نيلي يم روانېږم ،بيا ارمان ونه کړې

سترګې را واړوه ستنېږم ،بيا ارمان ونه کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له توپانه زېږېدلی، د موجونو غر یم

په رپ د سترګو کې ورانېږم ،بیا ارمان ونه کړې

اوس لا راغاړې وځه پلنګ د ګلاب زما و ستا دی

لکه شبنم درنه ورکېږم، بیا ارمان ونه کړې

یم د اوبو د مخ هنداره، وربل ژر سموه

په یوه پوه سره ورانېږم، بیا ارمان ونه کړې

په بیړه ونڅېږه ښکلیه ! مهال پاتې نه دی

د مجلس شمعه یم ویلېږم، بیا ارمان ونه کړې

دا توري څڼې دې په مستو څاڅکو ولمبوه

د سپرلي اېښمه یم، تېرېږم، بیا ارمان ونه کړې

یوه شېبه مې پر زنګون باندې سر وزنګوه

یو سیلانی یم روانېږم، بیا ارمان ونه کړې

ژوند دخوبونو سلسله ده، په باور خو نه دی

لکه ویده هسې ویښېږم، بیا ارمان ونه کړې

قلم راواخله یو انځور مې پر کاغذ ولیکه

"خیال" د شاعر یم ترې هېرېږم ،بیا ارمان ونه کړې.

کندهار

## د تقصیر ایینه

زما دسوي زړه ناره ده ،څوك بې واوري فریادونه

دامې خپل بخت مرور دی، شول کانه د وخت غوږونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ملیار د هسې بڼ شوم، هر څه ورك، هر څه یې وران وو

پاڼو، بوټو سر اخیستی، سر نګون ښایسته ګلان وو

دا ګلبڼ نه و،ځنګل و، په کې پټ وړي ماران وو

هر نوروز یې خُمپرست و، ورکول یې سره ګلونه

نصیب هسې ځای ته راوړم، په کې ورك خپل او پردي وه

بس شرنګی د زولنو و،له قانونه سرکشي وه

هر یو خپل پر ځان مین و، ټول مجذوب وو،لېوني وو

ټولو وخندل راباندې ما چې وپوښتل نومونه

زه پر داسې کور مېلمه شوم، کوربانه ټول مرور وو

زه او دوی، نه دوی په خپله، خپل تر منځ په یو نظر وو

عقل وویل جنون ته :درنه غواړم کومکونه

تر قلم مې اوښکې څاڅي "خیال"به جوړ څنګه دیوان کړم

قسمت ژبه راتړلې، حال د زړه څنګه بیان کړم

د تقصیر په ایینه کې پټ انځور څنګه عیان کوم

لا په ګونګه خوله د خپل زړه رانه غواړي تعبیرونه.

## وېره

توصیف د ښایستو په دې وختو کې پټوم

سپوږمۍ د تخیل په حجابو کې پټوم

پیغور د زمانې شوه پر باړخو نښه د هجر

سېلاب د ترمو اوښکو په لیمو کې پټوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې په لړمانه کې مې تقدير خېمه وهلې

انځور د سباوون په اميدو کې پټوم

قسمت راته بلا شو، سوابق مې د ژوند څېړي

جانانه! زاړه پلونه دې کوڅو کې پټوم

نصيب مې محتسب شو، تېره توره يې په لاس کې

د نظم ښايسته پېغله په پردو کې پټوم

کچکول او چلتار دواړه په دې ښار کې تومتي شول

کميس د ملنگۍ مې په بوخڅو کې پټوم

اسمانه! عواطف مې په زړګي کې زنداني شول

براس د سوي زړه په اسوېلو کې پټوم

سبا را څخه وپوښتئ وعدې د پرون خلکو!

د وخت له وېرې هر څه په شيفرو کې پټوم

ماشوم فکرونه وايي چې د "خيال" غاړه کړه ده

يارانو!خپل غرور مې په سجدو کې پټوم.

کندهار

## مست ژوند

ساقي ځار دې شم تر سترګو، سر پر سر پيالې ډکېږي

اوس يو ښکلی جام تيار کړه، چې نوبت مې رارسېږي

زما له مرګ نه وېره نه شته، زه د مست ژوندون ملنګ يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ژوند نيم اورې شمعه هسې هم خاموشه کېږي

شېخه ځه و خپل خلوت ته، د مستانو سيالي مه کړه
زمورږ په وينو اور گډ شوی، شاه رگونه مو نخښېږي

دا محفل د لېونو دی، دلته عقل بېگانه دی
هر يو جام د ژوند په بيه دلته مړي ژوندي کېږي

د دوزخ په کروندو کې، جنتي تخمونه پاشي
د جنون انگازې کښت دی، په کوثر سره اوبېږي

ټول رندان سره راټول دي، هوش يې تللی دی له سره
هر مريد کامل مجنون دی، عقل کله پرې رسېږي.

1376/10/10نيمروز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزت الله امید

تاند او بااستعداده شاعر عزت الله امید د ښاغلي اغاجان(رحمت الله) زوی پر1368 ل کال د کندهار په پنځمه ناحیه کې زېږېدلی دی، نوموړی اوس دالبېروني ښوونځي دپنځم ټولګي زده کوونکی دی.

ګران امید په ډېره لنډه موده (څه له پاسه د څو میاشتو په موده کې) وتوکېد او و غوړېد، هغه په دې لنډه موده کې د پرمختګونو بلا ډېر مزلونه ووهل، چې ډېر لوی کسان به هم په کې پاتې راشي، دا په زغرده ویلای شو چې امید د ښو استعدادونو له کتاره هغه زرغونه څانګه ده که یې د غګوټیو بارونه لا پر اوږ و وړي نه دي، ددې جوګه دی چې د سرو او ژېړو غوټیو درمندونه راوټوکوي او ډېر خلك ګوته پر غاښ کښېنوي، که له یوې خوا د مشر ورور هڅیال شاعرانه طبیعت ورته دشعر لپاره ډېر څه ورکړي، له بلې خوا یو مرموز شور یې هم په تاند ذهن کې اېشي، چې انعکاس یې دده په شعرونو کې کتای شو، امید هغه د چا خبره لا په ذهني و فکري لحاظ بلوغ ته نه دی رسېدلی او ډېر مسایل شته چې دده ذهن یې نه شي راجذبولای، خو دنېکمرغۍ ځای دا دی چې امید د اوچت خیال او ویښ ذهن خاوند دی.

شعري بیان یې په عاطفه، اند او مترنم اهنګ کې رنګول شوی، چې راتلونکی هنري پرمختګ یې تضمینوي. هغه په دې وړکتوب کې د خپل شعور له مخې د هېواد پر ملي مسایلو پوه دی او هېواد ناخوالو ته یې دشعر له زاویې څخه کتلي او انځور کړي یې دي.

هغه وخت به لرې نه وي چې "امید" پر "ډاډ" بدل شي او د کندهار شاعرانه سیمه نوره هم ښکلې کړي.

### توتي

شینکی توتي و، د همزولو له کتاره پرېووت

لکه ژېړ ګل چې دګلونو له ګلزاره پرېووت

قسمته! څه شوې لا د هیلو ارمانونه ګوره

ښکلی بلبل خو د وختونو له ښاماره پرېووت

د زړه هوسۍ پسې مې څله دا ځنګل لټوې

ماشوم غرڅه و، له خپل اه او له پرهاره پرېووت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیامو نیمګړي ارمانونه نیمه لار کې پاتې

د یار دیدن راته د سترګو تر انګاره پرېووت

بیا مې زړګی راته ټکور کړئ چې رنځور یمه لا

نا"امید" ناست، زړه مې له ښکلي کندهاره پرېووت.

1378/61لمریز

کندهار

## انارګل

نن مو ګلبڼ کې غوړېدلي د بهار ګلونه

ځکه وربل کې نجونې ږدي کتار-کتار ګلونه

سپرلی راغلی، هر ګلشن کې غوټۍ وسپړېدې

دا چې منګول کې یې نن وینم د ملیار ګلونه

بلبل د ګل خوا کې له نازه داستانونه وایي

د ترنم نغمو کې نغاړي د"غفار" ګلونه

ښوال د ګلو خواکې وینمه خندېږي ورته

چې غوړېدلي یې کاله کې د انار ګلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دې له ډېره وخته لار څارله، دا ومنه
ځکه چې شپې غېږ کې راوړي د سهار ګلونه

"امیده" ! یمه د ګلونو د کاروان لاروی
ځان سره وړم یو څو تنکي د کندهار ګلونه.

1378/1/15ل. کال، نوی ښار

کندهار

## ملنګې

چې جنګۍ په کې ملنګې د وختونو ښکاري
ها کابل جان هم سره سپرغۍ د سرو اورونو ښکاري

د فرياد اوښکې يې په سترګو کې څپه څپه شي
د هيلو ناوې مې انګړ کې د اهونو ښکاري

د وير نغمه بيا غږوي د چا پر حسن باندې
شور او غوغا نن په کې بيا د څو غمونو ښکاري

چې ترنم کې لوستل کېږي ستا د مينې په نوم
زما د عشق څو غزلونه د وختونو ښکاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملگرو! داسې لېونی شوم، خو اوس څه وکړمه

ژوندون مې هسې د ناپایو امیدونو ښکاري.

## څپې

د وخت یاغي څپې زموږ کښتۍ ځان سره وړي

بدمرغه پړانګ راغلی دی، هوسۍ ځان سره وړي

ټول عمر مو تېر کړی، په خندا او په هوس

اوس غم راته راغلی خوشحالۍ ځان سره وړي

خپلواکه وو، موږ خپله، چا کار نه رادرلوده

دې تور غلیم ته ګوره خپلواکۍ ځان سره وړي

توپان راباندې راشي ما ته وایي چې دې وړمه

خزان راباندې راشي ښې ځوانۍ ځان سره وړي

پردېس او مساپر له خپل وطنه نا امید یم

رقیب ظالم ته ګوره نېکمرغۍ ځان سره وړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزت الله پېژاند

ښاغلی عزت الله پېژاند پر1356 لمریزکال د کندهار په زرغونه غېږ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي، ښاغلي پلار يې "احمد شاه" د خپل تنکي ارمان د زېري په اورېدو سره په زړه کې ډېرې داسې هيلې وروزلې چې د ژوند ډېر سپېره اړخونه يې پرې ښکلي شول.

پېژاند اوس خپلې منځنۍ زده کړې پر مخ بيايي، ددې تر څنګ د يوه بااحساسه نرس په توګه په ميرويس روغتون کې دنده تر سره کوي، له درېيو کلونو را په دېخوا شعرونه ليکي؛ ددې وروستيو وختونو شعري بيان ته يې د هيلو سترګې وراوړي، د ازاد شعر پر ډګر هم د خپل آندوخيال نيلی په ښه برياليتوب سره ځغلوي.

په لفظي انځورونو کې ځانګړې عاطفه او آند سره ګډوي، چې خوږلني او ظرافت يې هر زړه ته لار پرانيزي. هنري جوړښت او د انځورونو راڼه توب ته ډېره پاملرنه کوي، همداراز يې د هېواد د وروستيو هغو غميزو او ناخوالو ځينې برخې انځور کړي چې د هر افغان زړه ترېنه شين شوی دی، د کندهار او نورو ځايونو په خورو ورو خپرونو کې يې شعرونه او نورې ليکنې خپرې شوي او په دې وروستيو مياشتو کې يې يو شمېر لنډې کيسې هم ليکلې دي.

د پېژاندصيب ازاده شاعري تر قافيه والې هغې ډېره ده، چې په ازاد شعر کې ښه په برې سره روان دی، يو وروستي ازاد شعر يې په کندهار کې د لومړۍ درجې جايزه وګټله.

قافيه واله شاعري يې هم ښکلې ده، پر لږو بيتونو ډېره خوار کوي او هڅه کوي چې شعر يې بېځايه اوږد نه شي، هغه خبره چې په لنډو ټکو کې کېږي په ډېرو الفاظو کې يې نه پېچي.

### زرينې پاڼې

ورليکم يې پر سترګو ،پر لېمو زرينې پاڼې

اشنا چې رانه غوښتي دغه څو زرينې پاڼې

سپوږمۍ بېګا د بام تر سره پټه – پټه راغله

راتويې کړې د ورېځو له درځو زرينې پاڼې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې رانه واخلي ،بس هر څه راځنې هېر شي

چې تاو کړي رانه ښکلي د لاسو زرينې پانې

يو دنګ او شازاده شپانه شپېلۍ کې راته ووې:

باروتو کړې لوګۍ زمونږ د زړو زرينې پاڼې

دې شېخ ته که يو څه د کلي خلکو مخه ورکړه

په ډيره به کړي ښکل د اننګو زرينې پاڼې.

\1379سلواغه\10 ل.دويمه ناحيه ،کندهار

**تمه**

زه چې ماښام تنها له ځانه سره

د تېر سهار د غم سکې وشمېرم

او دخپل خيال په ګوتو

يې د زړګي په تل کې ښخې کړمه،

د اومه ذهن نرۍ

مې ټوله ولړزېږي

او د لېمو له کليو

داوښکو سپينې پېغلې

له خوبه وپاڅېږي،

کتار-کتار شي، دګرېوان ښار ته پناوې يوسي

لکه زمونږ دکلي

پېغلې چې ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تورو تورو شپو کې

ځي تر پردیو ښارو

او هلته ورکې شي، ترۍ شي د سبا په تمه.

\1378سلواغه\12ل.کندهار

## مانۍ

د اسوېلیو، د دردونو او زخمونو مانۍ

څوك به را جوړې کړي زموږ د ماتو زړونو مانۍ؟

ټوپکه! ستا بدمرغه خوله چې ترېنه واوښتله

په دغه ښار کې شولې جوړې په سلګونو مانۍ

جانانه لږ نظر پرې وکړه ورنه مه تېرېږه

دي جوړې کړې مې ستا لار کې د سوالونو مانۍ

که نورې هم دا د باروتو لمبې مړې کړې ربه

سږبه شي جوړې پاس د غرونو پر سرونو مانۍ

ورته لوګي کړې د لویدیځ د نجونو لوڅ سرونه

څومره دي ښکلې د حیا په پلوونو مانۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا یو موسکی انځور مې یاره د زړه مخې ته پروت

پرې جوړوم د خیال په ګوتو د رنګونو ماڼۍ

ستا پیکه شعر ته به پېژانده څوك ښه ونه وایي

چې په کې نه شته د رنګونو،هنرونو ماڼۍ.

\1379وری\12 ل.میرویس روغتون، کندهار

## اوښکې او يادونه

یو وخت به ما او اشنا

جوړه-جوړه او لاس تر غاړې تللو

د پورې غره لمن ته

هلته به لاره کې د کلي نجونو

راته پټ – پټ له دریڅو کتله،

بیا به یې ښکلې شیر چایي شونډکۍ

ورو شانته وموسېدې،

لکه د ښکلي کنداري ګل ګلاب

غوټۍ چې وغوړېږي؛

بیابه د غره لمن کې

پر هغه غټه ګاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پرې لیکلي به وو، زما او د اشنا نومونه

دواړه جوړه کېناستو

او زمونږ د کلي د رمو شپونکي به

راته پسته خوږه شپېلۍ وهله،

ما او اشنا به مې په غبرګو او جوړه غږو کې

ښکلې ټپې ویلې

او د ژېړ لمر ښاپېرۍ

به په نخا لاړله

د هاغه غره ترڅوکې.

⊠⊠⊠

وروسته تر ډېرو مودو

لاړمه ها د پورې غره لمن ته

هغه د کلي ددرڅو په منځ کې

دنګې ښایسته جنکۍ نه ښکارېدې

او نه د غره لمن کې

راته دکلي شپونکي

ژېړه شپېلۍ شونډو کې ونیوله،

د پورې غره له سره

بس د باروتو شنې لوخړې تللې؛

باد په پستو لاسونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته لرې يوه سپينه جنډه

راښوروله ورو ورو

لکه له لوره چې يوه دنګه پېغله

د جنګ ډګر ته تلله؛

د لو نګينو برېتورو زلمو لارې څارې

او تورې څنې يې پر سپين ټيکرې وې باد شيندلې؛

جنډې ته څو ګامه ور وړاندې شومه،

د مازيګر د زرين لمر وړانګو مې

پر دواړو سترګو باندې

زرين شال وغوړاوه،

ورو مې د لاس په سيورې

شال رااوچت کړ د لېمو له مخ نه

پر هغې دنګې ،هغې سپينې جنډې

مې په تور ليك ليکلي،

دا توري ولوستله:

"چې مې د قبر خوا ته راشې

ديدن به نه وي نو دې پورته کړه لاسونه."

/1378سلواغه/10ل.دويمه ناحيه،کندهار

## باز

ولې پوښتئ ښکلو نه د شپو کيسې ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی خو په لېمو کې زده کړه کړې ده

زه هم اخر یمه ددې غرونو باز

ما هم په دې غرو کې زده کړه کړې ده

هر څه باندې پوه یو خو څه نه وایو

موږهم پټ په زړو کې زده کړه کړې ده

دا چې هر اټکل په ټوپکونو کړو

دا مو په جګړو کې زده کړه کړې ده

مه سپارئ هغه ته څوك د مینې کار

چاچې په تسپو کې زده کړه کړې ده

دا دځان لپاره کوه نور ګنم

ما چې په پښتو کې زده کړه کړې ده.

/1379غویی/30 ل.دویمه ناحیه ،کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالباري حيرت

ښاغلی عبدالباري حيرت د حيات الله کاکړ زوی پر1356لمریزکال د زابل ولايت په "داري"کلي کې زېږېدلی دی ،د جګړو تور ښامار کډوالۍ ته اړويست، په کډوالۍ کې یې تر اتم ټولګي پورې د لورلايي په "زنګيواله" کې زده کړه وکړه.

پر1376ل. له "ګورنمنټ ډګري کالج" څخه ددوولسم ټولګي په بريالیو زده کوونکو کې و،پر همدې کال د کانکور تر ازموينې وروسته کندهار پوهنتون ته بريالی شو او اوس د کندهار پوهنتون د طب پوهنځي ددرېيم کال محصل دی ،له پنځو کلونو راپه دېخوا شعرونه ليکي.حيرت د خپل شعري پر مخيون په بري کې د"پښتو ادبي جرګې " مشر خير محمد عارف ډېرې هڅونې ستايي، چې دده په اند ډېر څه يې ترې زده کړي دي.

شعري بيان يې ساده او عاطفي دی، که يې ډېر څه ولوستل د راتلونکي لپاره دډېرو ښو هنري پنځونو لپاره به د پياوړي مګټ څښتن شي، که د وزن او څپو په برخه کې يې هم له لږ څه غور څخه کار واخيست شعري بيان به يې لا ښکلی شي، د نويو غورو شعري ټولګو لوستل هم په دې کار کې ورسره مرسته کولای شي. د کندهار پوهنتون فرهنګي څانګې په مياشتنيو غونډو کې هم ګډون کوي، همدا راز کله کله کندهار ادبي ټولنې ته هم ورځي او خپله ادبي تنده په کې ماتوي، د پوهنتون د درسونو تر څنګ ادبي او فرهنګي هڅې رواني ساتي.

### سترګې

په خوب ليدلي ما د ګران سترګې دي

اوس راته ګرانې د جهان سترګې دي

ژوندون دغه دی، که نور هم غزېږي؟

زما په تمه د وجدان سترګې دي

چې يې فطرت پر سينه چورلي-چورلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دداسې خلکو پر ګرېوان سترګې دي

په هر قانون باندې پيسې اورېږي

ځکه ړندې د هر انسان سترګې دي

که ددنيا کونجونه ولټوې

ما ته خوږې د خپل جانان سترګې دي.

1376ل.لورلايي

**لپه**

پر ټولو دا يوه ده، چې ته هم ژاړې زه هم

نوځکه داخوږه ده، چې ته هم ژاړې زه هم

ګيله څه په کار نه ده، اوس له خپلو له پرديو

دنيا کږه وږه ده، چې ته هم ژاړې زه هم

ستا چم سور او زرغون شو،زما جونګړه شوه لوګۍ

عجيبه ننداره ده، چې ته هم ژاړې زه هم

د تمې لپې نه شته، د سرونو تجارت دی

ددوی دا فيصله ده، چې ته هم ژاړې زه هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړگیه یوه ورځ خو د حیرت په رضا راشه

ژوند کله یوه شپه ده، چې ته هم ژاړې زه هم.

1377لمریز

## مړی

دخپل عشق په لمبو سوی مړی پروت دی

د اجل انتظار وړی مړی پروت دی

بیا د غم سترې شپېلۍ ورته په شور کړئ

داد عشق تورو ځپلی مړی پروت دی

مینه لاړه دوی هم نورو ته تکیه شول

هغه مست د وجدان کلی مړی پروت دی

سرې منګولې غبرګې ښکارې د یار خوا ته

د دېوال سیورې ته تللی مړی پروت دی

خود به تل داسې حیرت په غم کې ښکېل وي

بخت یې خنګ ته لکه ستری مړی پروت دی.

/1379غویی/30 ل.دویمه ناحیه ،کندهار

## لاهو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يمه حيران چې زه خپل ځان لاهو کړم

دا ټول ګرېوان، که ټول جهان لاهو کړم؟

که د ډېوې اوښکې کړي وچې سبا

نن به زه هغه پتنګان لاهو کړم

چې يې ايستلی وم د پام له کوره

هغه د عمر په زندان لا هو کړم

که د پښتو قلم په ګوتو راشي

زه به د وخت ټول جابران لاهو کړم

په ټول ژوندون مې د خوب خيال نه درلود

حيرته تا غوندې انسان لا هو کړم.

## هنداره

په سمولو ستا د ښو او کمځو يمه زه

کابله ستا پر سينه بيا په ګډېدو يمه زه

زه چې په سپينو جامو نغښتی وم تا خپل ګڼلم

نن په ساده جامو کې ولې د پردو يمه زه

ددومره وخت په تېرېدو سره سمسور نه شوې ته

بخته ظالمه تل له تا په اسوېلو يمه زه

هغه هنداره يم چې ځوك راکې ښېرې لټوي

بدرنګي ډېره شوه اشنا په ما تېدو يمه زه

هېواده ! ستا د خپلواکۍ لاره له کومه کړمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دغو ډېرو کړلېچو په ورکېدو يمه زه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالنافع صميميار

ښاغلی عبدالنافع صميميار د ولي محمد پردېس زوی پر 1359 ل کال دکندهار په شپږمه ناحيه کې زېږېدلی دی. شپږ کاله يې په ځينو ديني مدرسو او جوماتونو کې زده کړې وکړې چې اوس هم پر ديني او ادبي زده کړو بوخت دی.

صميميار په شعر ليکلو کې د ښه هنري او ادبي ځواك او ذوق څښتن دی. که څه هم ډېر تنکی دی، خو ژور فکر او اوچت خيال يې ددې خبرې پخلی کوي، چې نوموړی د سبا ورځې په ښو شاعرانو کې راتلای شي. که ځينې سولېدلي شعري ترکيبونه، استعارې او تشبيهات يې پرېښودل او دټولنې او وخت نوي انځورونه يې راواخيستل، لنډه دا چې د نوښت لار يې ونيوله هنرمنده او شاعرانه ژبه به يې دده هنري او فکري پانگه نوره هم بډايه کړي.

صميميار صيب په خپلو شعرونو کې له اخلاقي او ادبي جرئت څخه کار اخيستی او تل يې هغه څه ليکلي چې په ذهن کې ورته الهام شوي دي. د ډېرو لرغونو شاعرانو له کلام څخه يې خوند اخيستی او مينه ورسره لري. په دې وروستيو وختونو کې يې بوختياوې ډېرې شوي، له همدې کبله له ادبي چاپېريال څخه يو څه لرې شوی دی. خو بيا يې هم له قلم او کتاب سره خپله مينه اېشنده ساتلې ده.

### ساقي

ساقي زړه واخلي، پر سکرتو مو لېمې خپرې شي
له څمه اور څاڅي مستۍ کې مو نشې خپرې شي
شيدا او عقل سره ورك کړي د جنون پر اسمان
سترگې را واړوي هی هی شي غلبلې خپرې شي
اوښکې شوې وچې د بڼو ريښې مې سرې په وينو
لمن کې وينې ورم چې ستا د جام جلوې خپرې شي
تندی پر خاورو ږدي په اوښکو يې اغزي اوبه شي
چې ستا په ياد د لېونيو سجدې1خپرې شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمونه سرې جامې په تن کې روح د وينو مل شي

لا به دې عشق لره هم نورې جنازې خپرې شي

په وينو ولمبېږي مات شي، ډبرين فکرونه

چې د غرور رخسار دې شمعې ږدي لمبې خپرې شي

شيدا خو هغه ستا زخمونه چې په تيږو ښيري

زما له ناکامه تش پر زړه د اور جوپې خپرې شي

سينې انګار شي ستاله عشقه د شراب په نور کې

ذکر په رقص کړو پر خوب مو لطيفې خپرې شي

ستا د نوم زور دی چې د تېښتې په غبار کې شي ورك

د مجاهدو پر دښمن چې قافلې خپرې شي.

/1379تله/29 ل کال، کندهار

## د سترګو معراج

بيا دې د سترګو پر معراج د کيف جلوې پرتې دي

څکه منظر کې مې د وينو سرې لمبې پرتې دي

د اوښکو بوی مو ستا له عشقه دی خمار تود کړی

زړونه نرګس شول د شرابو پرې شغلې پرتې دي

تندې يې يووړل پر سکروټو د سجدو محل ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر د جنون دی بې مداره يې لېمې پرتې دي

بانه دې غبرګ کړل په سينو کې بيا سپرغۍ راښندي
راج د رخسار سره دې ياره زولنې پرتې دي

تا اورولي دي زمين ته نورسي اورونه
مکتب د حورو دی د خال و خط ډېوې پرتې دي

د ځنکدن سلګۍ چې ستا په ياد شهيدې وځي
پر هغو زړو د ابدي ژوند ننداري پرتې دي

چې رابطې به د ايوب وي ستا د زلفو په ننګ
وار د نيزو ته يې تر اوسه لاسينې پرتې دي.

/1380جوزا/21ل کال، کندهار

## د عشق مستي

زما چې د خيال سلسلې سرته راغلې
واړه افکار مې وو هم ستا د مينې
سر مې دی کښته ستا مغرور حسن ته
ويني کرم پر کربلا د مينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یو عاجزه د جنون مسله

دا ستا د کبر پر اسمان غوړوم

ستا و رخسار او مستغني صورت ته

درته په خاورو کې لېمې ټيټوم

که ستا فرمان پر کايناتو نه وي

له تورو خاورو نغمې څوك پاروي؟

بيا تر لحد تجلې څوك رونوي

په تورو شپو کې ورځې څوك وينبوي؟

که دې ازل په عشق پرېولای نه وای

که دې د مينې انځور کښلای نه وای

او محبت دې د معراج سراج کې

په سرو شرابو لمبولای نه وای

دلته به نه وای د اشنا خوبونه

نه د منصور رنګه رسوا يادونه

نه د مجنون او د ليلا لېونتوب

نه د يوسف او زليخا خوبونه

نن مې مستۍ هم ستا له عشقه بولم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دوزخ کې جنتونه کرم

او له غماز سره به یو غمازان

د حسن اور کې دې صورت نخوم.

/1379جوزا/11ل کال، کندهار

## داغ

په ضمیر کې مې ژړېږي یو پرېشان داغ

له فراق څخه را زېږي د نیران داغ

رقیبانو مې په وینو ګوتې سرې کړې

له ځیګر ځنې مې کاږي د جانان داغ

رنځور زړه رنځورې وینې په لېمو کې

تر محشره یې را کړی د هجران داغ

چې هرڅو مې رابطې پرې مرتب کړې

درد را تود نه کړ تېر کې د یزدان داغ

د لحد شپې مې سینګار غواړي د وینو

شهادته را نصیب کړ یو روښان داغ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



/1379جوزا/21ل کال، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد ابراهيم مشرقي

ښاغلی محمد ابراهيم مشرقي د ارواښاد شهيد ګل محمود خان مشرقي زوی پر 1339ل کال په کندهار کې زېږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې يې په فاضل کندهاري ښوونځي کې ترسره کړې چې وروسته له احمدشاه بابا لېسې څخه په ښو نومرو فارغ شوی دی، د کابل پوهنتون په کرنې پوهنځي کې يې خپلې زده کړې تر درېيم ټولګي پورې رسولې وې چې د غوبي کرغېړنې کودتا توپان راوالوت اونوموړی هم پر1362 ل کال د خپلو زرګونو او لکونو کړېدلو هېوادوالو په څېر پاکستان ته کډوال شو، تر يوه کال وروسته امريکا ته لاړ او اوس د همدې هېواد په نيويارك ښار کې استوګن دی. نوموړی دخپلو ورځنيو ستونزو د غوڅاوي لپاره پرسوداګرۍ بوخت دی، له موسيقۍ سره بې کچه مينه لري چې دهمدې مينې او دپاك خدای ج د يوه نعمت(خوږ غږ او له سوزه ډك ترنم) په برکت يې په هنري دنيا کې ځان ته ځانګړی ځای په نښه کړی دی، سربېره پردې د کډوالۍ په هغه ستونزمن چاپېريال کې افغاني ماشومانو ته د يوه ښه لارښود او مهربانه ښوونکي په توګه د هېواد تاريخ او پښتو ژبه په وړيا ډول تدريسوي، چې تر پنځه دېرشو زيات زده کوونکي لري، دوه ناچاپې شعري ټولګې لري او اوس هم لګيا دی شعرونه او نور مضامين ليکي.

شعر يې روان او ساده دی چې هڅه کوي نوي مضامين په کې راونغاړل شي، په هغه پردي چاپېريال کې يې د هېواد مينه په زړه کې تانده او ځپانده ساتلې او هر مهال دخپل هېواد وياړونه او دخپلو سرلوړو هېوادوالو مېړانه او سرښندنې ستايي او دا د ځان لپاره ستر وياړ او لويه شتمني ګڼي.

### ژړا

نن بيا پر هېواد راغلم تېر يادونه دي ژړېږي

سپېره ماحول ته ګورم، ځېږ مخونه دي ژړېږي

امید د پسرلي ته پرېشان خلك هېښ ګوري

ګل نه شته، هوس نه شته، خزانونه دي ژړېږي

سبلۍ دي د ټګيو نړيوال راته په دروه شول؟

ګلبڼ مو خپل پرې لوټ کړ، لاړ ګلونه دي ژړېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلم تیارې راغلې دافغان فضا یې ګیر کړه
وربځ د وچکالۍ شوې بارانونه دي ژړېږي

قلم د خوشال څه شوې؟ حقیقت پر ژبه راوړه
نفاق پر موږ نسکور شو، وحدتونه دي ژړېږي

په چل د پردو جنګ دی، پرګنې یې په تنګ کړي
ورور، خور د افغان ویر کړي ماتمونه دي ژړېږي
رڼا به خدای کړي کله؟ سباوون ته انتظار دي
افغان د تیارو مېشت شو، ارمانونه دي ژړېږي

یو دین دی، یو یې ملك دی، مشرقي کشکې ټول یووای
پښتون که هزاره، تاجك قومونه دي ژړېږي.

**خپله خاوره**

شم به قربان تر خپله خاوره
دښمنه غوږ شه له مانه واوره
که بې پروا شولم یارانو
سرمې په دار کړئ بس وار له واره
زما د بابا میراث راکړه راته
ساتل یې فرض دی ترهر څه ماته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورې، ټوپك ته لاس كومه

غليمه! خوله به كړم درماته

هېواد مې مور، هېواد مې كور دی

هېواد مې پلار، هېواد مې گور دی

زه توريالی، سرتېر افغان يم

دشهيد نوم راباندې پور دی

دا پښتانه دي چې كړېږي

دا پښتانه دي چې مړه كيږي

د پښتنو مېړنی زور دی

انگرېز او روس پرې ښه پوهېږي

څوك دې برباد غواړي وطنه!

سر به ورپرې كړمه له تنه

زه مشرقي وايم په ډاگه

نه به شې ورك له مادښمنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمدظاهر رشید افغان

ښاغلی ډاکټرمحمدظاهررشیدافغان د حیات الله خان زوی پر1351ل کال دزابل ولایت د شملزو ولسوالۍ په قلعه‌ءرشید کلي کې زوکړی دی.

لومړنۍ زده کړې یې په شهیدعبدالمتین مدرسه کې او منځنۍ یې د پاکستان په کوټې ښار کې په شهیدغلام محمدنیازي لېسه کې ترسره کړې دي. پر1373ل کال د کابل پوهنتون طب پوهنځي ته بریالی شو او پر1380ل ترېنه بریالی راووت او اوس په روغتیایي برخه کې خپله دنده پرمخ بیایي، نوموړي له نهم ټولګي څخه شعرونه لیکل، چې د جهاد دورې ډېر شعرونه یې اوس هم خوندي ساتلي دي. ګڼ شمېر منثور و منظوم اثار لري، خو د کمزوري اقتصاد له کبله یې پر خپرولو نه دی بریالی شوی، د ترتیب شویو اثار شمېر یې اتو ته رسېږي، چې ځلوریې شعرې ټولګې او ځلور نور یې نثرونه دي. رشید افغان په نورو ادبي او فرهنګي خپرونو کې هم نه دی راڅرګند شوی دی. که څه هم ناسته ولاړه یې له فرهنګیالو او ادبپالو سره ده، خو دی په خپله هڅه کوي چې خپلې هڅې په خپلواك ډول رواني وساتي او هغه څه چې لیکي یوازې هېوداني ملي ارزښتونه او ویاړونه په کې بیان شوي او شنل شوي وي. په شعر کې یې یو ډول بغاوت او له ځینو بریدونو او پولو څخه تېګښته تر سترګو کېږي، چې د شاعر ذهني تمایل او د زړه غوښتنه انځوروي. د رنځورو هېوادوالو د پالنې او لاسنیوي تر څنګ ادبي هڅې هم رواني ساتي.

### ساز

که راشي شین زاهد یو ځل و ساز ته د رباب

تسبې به کړي راځوړندې شهباز ته درباب

دا یو ته محتسبه! نه پوهېږې پر ښه بد

محمود ټینګېدی نه شي و ایاز ته د رباب

ورځه، ورشه قاصده! وړه پیغام پیغمبري

سلام زما له خوا وایه غفار ته د رباب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړي زړونه د تنکیو ماشومکو کوترکو

ورکړی خدای پنجې عقابي، باز ته د رباب

ورځه زاهده پرېږده د رشید دا شین خمار

والله که ټینګېدلای شم تناز ته د رباب.

## تړی

دا چارې د تقدیر زه په تدبیر تړلای نه شم

د وخت و فرعونیانو ته ضمیر تړلای نه شم

مجنون ناروغ، لیلا غوندې طبیب غواړي یارانو!

دسرو شونډو پر ترو دا اکسیر تړلای نه شم

ګېډۍ د ژېړو ګلو چې راټول کړم د یار مخ ته

ترې ښکلی دی، اشنا زه یې نظیر تړلای نه شم

په تن یم د زاهدو د ټولیو په محفل کې

خو زړه نه د اشنا ښکلی تصویر تړلای نه شم

له وینو به غاټول د خپل هېواد میرو ته جوړ کړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته به پښتونخوا کړم ترې کشمیر تړلای نه شم

قلم به له انکار نه وقبول ته کړم راکښته
خو عقل لېونی مې په زنځیر تړلای نه شم

زما رشید پر زړه د ښکلو خال حکمراني کا
عسکر به وترمه خو امیر تړلای نه شم.

## خوب

ښکلی کابل پر لوګر تور ویده دی
د ګل په غېږه کې اوس اور ویده دی
چېرې به وګټې میدان د تورې
رستمه! ستو کې دې زور ویده دی

په دې محراب کې څنګه وکړم سجدې
چې تور شیطان په کې نسکور ویده دی
د زاغ منګولې تر غوټۍ راتاو شوې
بلبله ژبه کې دې شور ویده دی
هېواده! ستا په دې کړو کوڅو کې
هغه خندا هغه ټکور ویده دی
نه ځي رشید، له هر بېسره سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو غلی په خپل کور ویده دی.

## مات تکل

تقدیر تېره کولنگ دی، د تکل د ماتېدو

کنه نن مې و قصد د تور وربل د ماتېدو

ړنگ کړی به په هسك کې وای ما خپل سپېره لیکلي

خو نه راځي په لاس چم، د ازل د ماتېدو

دا پورې پښتنه چې د ملالې ټپه وایي

ده وېره له ما خواره د تامبل دماتېدو

روح واخله عزرائیله! خو اشنا ته په سجده کې

نېټه بدلېدی نه شي د اجل د ماتېدو

رشیده! د خولگیو د زکات پر ورځ ویده وې

گیله کوې له چا تندی دی خپل د ماتېدو.

## یوازې

نه محتسب، نه مې ملا دی اشنا

د میخانې پیر مې رښتیا دی اشنا

د شېخ، زاهد له نومه بد ورمه زه

مست خرابات مرشد زما دی اشنا

رشید خاوند د سرو او سپینو گڼم

یو ستا له وصله بېنوا دی اشنا.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمدمعصوم هوتك

الحاج محمدمعصوم هوتك د حاجي محمود زوی پر 1326ل کال د کندهار په کابل بازار سیمه کې زېږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې د خپلې کورنۍ له مشرانو څخه ترسره کړي او تر دوولسم ټولګي پورې یې په میرویس لېسه کې زده کړې کړي او لوړې هغه یې له حقوقو پوهنځي څخه پیل کړې او بیا یې د کابل پولیتخنیك د ساختماني انجنیرۍ څانګه ولوسته او تر هغه وروسته یې د کندهار عالي دارالمعلمین او کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ولوست، ددې ترڅنګ یې دیني زده کړې هم کړې دي. په تاریخ کې هم د ډېرې مطالعې خاوند دی.

رسمي دنده یې د کندهار په مشرقي لېسه کې د ښوونکي په توګه پیل کړې، سربېره پردې یې په نورو څانګو کې هم یو لړ دندې درلودلې دي. لومړنی شعر یې پر 1343ل کال په طلوع افغان ورځپاڼه کې خپور شوی دی، د ښاغلي هوتك ځیني شعرونه د "څرك" په نامه هم خپاره شوي دي.

د هوتك صیب شعر پر ټولنیزو مسایلو راڅرخي، د مانا له مخې یې په خپل شعر کې یو لړ ملي او افغاني ارزښتونه رابرسېره کړي او هڅه کوي چې هنري معیارونه هم اوچت وساتي.

په جلا وطن چاپېریال کې د فرهنګپالو او فرهنګیالو افغانانو ترڅنګ د ښاغلي هوتك هڅې هم د ستاینې او مننې وړ دي، چې د همدې مینې په برکت یې د نورو فرهنګیالو او قلموالو لاسنیوی هم کړی او خپله دغه مینه یې په زبات رسولې ده. په خپله هم خپلو ادبي او فرهنګي کارونو ته دوام ورکوي، چې په دې برخه کې یې په هماغه پردي او اغزن چاپېریال کې هم څو کتابونه لیکلي او خپاره کړي دي.

### جګه غاړه

څه ارزوګانې دګور بندي شوې

څومره ککرۍ کام د مرګي شوې

ځارتر ها سترګو قربان تر خولو یې

چې نه شوې ټیټې نه په زاري شوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یثربي مینه

چې تور تندی مې د حرم پر سپینه ژۍ لګاوه

یثربي عشق مې اور د زړه پر ودانۍ لګاوه

د سپین کفنو له لښکر سره چې مل شوم خلکو

ما چې ویل تاج مې پر سر د سلطانۍ لګاوه

ښامار د نفس ترخوله اورونه غورځول له خښمه

بخته درځار شم، ماېې غاښ پر ککرۍ لګاوه

ما د مزله د شهسوارو رفتار ولیدلو

یو ګام یې دلته بل یې هلته پر سپوږمۍ لګاوه

د توپانونو له څپو راژغورل شوي ماښو

په ډاډه زړه یې مېخ په خپل لاس پر بېړۍ لګاوه

د کفنپوشو د سېلاب څپې چې وخروښېدې

رقیب مې کوت، اور یې په خپل کور و ماڼۍ لګاوه

د ډېرین مورچل ترشامې دښمن ولیدلو

د ماتې داغ یې پر تندي په مایوسۍ لګاوه

په ښادنامو یې ستوني وچ کړل د سفر ملګرو

چې د عشق مهر مې پر دفتر د زندګۍ لګاوه

قاصده زېرې ځغلوه زما تر کوره پورې

چې معصوم ګول د محبت لکه هوسۍ لګاوه.

/2001مارچ/12م کال، منوره مدینه

د "استاد" هڅونه)1(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد مې له کابله نوشتو ته هڅوي

مرغۍ په مات وزرو الوتو ته هڅوي

د لیك په هره کرښه کې فیضونه راته خاندي

دشعر هره مسره مې ترانو ته هڅوي

خبر نه یم چې زما په تور تندي کې څه لیدلي

چې مات زړه مې و لویو کارنامو ته هڅوي

که هر څو راخبر چې پردېسۍ یم سخت ځپلی

بیا هم مې توږۍ ژبه ګړېدو ته هڅوي

د خیلو قافله مې له سکون څخه راباسي

پر لوري د سبا یې خوځېدوته هڅوي

یوسف د امیدونو مې د یاس له څاه راکاږي

ټولۍ د ارزوګانو کنعانو ته هڅوي

ښاخونه د لاښ بڼ مې نه پرېږدي و وچېدو ته

غوټۍ د قریحو مې غوړېدو ته هڅوي

تهنه د عقاب د الوتلو مینه نه ده

بازان مې د خیالونو سردرو ته هڅوي.

**د خولګۍ ټکور**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سر ټيټېدو لرم نه ژبه د زارو

جنون ټکورومه په اورونو د خولگيو

يو ښکلوته تسليم يم بل عشوې د خوبانو

ځواني راغړوم لښکر وهمه د پېړيو

شبابه توره ډال سمبالوه بيداره اوسه

زړښت نغم کيندي و قلمرو ته د ځوانيو

سبا ځم اجاره د گلاب پاڼو ټوله اخلم

سرې اوښکې د شبنم پيوندوم په خوشحاليو

غالبه باندې مينه د ليلا چې مچول يې

که نه مجنون و پوه، چې خولې مردارې دي د سپيو

قصور مې دی د ختې چې په مينه کې يم پاتې

غرور دې په ميراث راپاتې شوی د پېړيو

تيارې دي، ترورږمۍ دي تېرې تيږې دي پښې لوڅې

قدم ږدم پر سکروټو لار وهمه پر اغزيو

محتاجه، سرگردانه، لالهانده، وږی تږی

نه لاس د مرستې شته، نه اراده د مرستندويو

داړو راته نيولی دی کمين په لويه لار کې

پر هر گام واهمې دي راته پټې د غديو

نېستۍ دي بې ازارې دي ديدنۍ دي، ناميندۍ دي

پر سر راسره دورمې لکه چتر د ژليو

خو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینه مې کوه قاف ده، حوادث په کې ورکېږي

لمن کې مې اوسېږي پرګنې د ښاپېریو

ډېوې به مې شي بلې د ماضي په مستقبل کې

که پاك خدایج وژغورم له فتنو نه د پردیو.

/1998اپرېل/23م کال

اوکویل، کاناډا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهدي خليق

استاد محمد مهدي خليق دميزا محمدرفيق زوی پر1328ل.کال د کندهار ښار په لومړۍ ناحيه کې زېږېدلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د کندهار په کاکاسيداحمد ښوونځي کې ترسره کړي او پر1348لمريز کال له احمدشاه بابا ښوونځي څخه په بريالي توګه فارغ شوی دی.

د اقتصادي ستونزو له کبله له لوړو زده کړو څخه بې برخې پاتې شو او د خپل روزګار د سمولو لپاره يې کارته ملا وتړله، تر دې مهاله يې د خپل ورك برخليك پر لارو سختۍ او کړاوونه ګاللي اولا يې ګالي ، که څه هم پر شاعري يې ښه اوږده موده اوړي او د دري هغه تر څنګ يې پښتو ادبياتو ته هم د قلم له لارې پاموړ او غوره سوغاتونه وړاندې کړي دي.

ده هم د ځينو خپلکو په شان خپل ډېر شعرونه او نورې ليکنې سوځولي او له منځه وړي دي، خو اوس يې دخپلو ځينو ملګرو په ټينګار د خپلو شعرونو او ليکنو خوندي کولو ته زړه ښه کړی دی.

د شعر پر شنه سمندر يې ديوه پټ درد او خواخوږۍ څپې په غورځنګو دي، چې له هېواد اوخلکو سره يې خپله توده مينه په زبات رسوي.

شعر يې د دردونو او هغو ناخوالو رښتيني انځورونه دي، چې دهېواد له وروستيو پېښو او ناندريو څخه الهام اخلي، همدا راز فلسفې ته ورته ځينې ټکي يې هم دشعر په ښکلا کې برخه اخلي. "رنګ" نومی ازاد شعر يې دهمدې خبرې پخلی کوي چې په دې وروستيو کې يې کښلی دی.

استاد خليق ښکلی غږ لري چې په ترنم کې يې استادي ګټلې ده، نوموړی دخپل هېواد پر ټولو ارزښتونو او وياړونو فخر کوي. بد غندي او ښه په نره ستايي. کومه ورځ د ګاونډي هېواد کوم"تور" سړي د "افغان" په اړه څګګه سپکه خبره ورته کړې وه، خليق له ګرېوان نه رانيولی او د هغه کميس يې پوزې ته نږدې کړی و، بيا يې ورته ويلي وو: ستا له جامو څخه اوس هم د غلامۍ بوی ځي، ته راځې پر افغان ملنډې وهې؟

خليق صيب چې په خوله څه وايي په عمل کې يې هم تر سره کوي، له دروغ، تکلف او ټګۍ څخه تش دی، له همدې کبله يې ډېر ملګري پر کړو وړو، هنر او اخلاقو مين دي او هڅه کوي چې هر وخت يې له مجلس څخه خوند واخلي. نوموړی په ادبياتو کې ډېره مطالعه لري، خو څرنګه چې په دې وروستيو کې يې پر نثر ليکلو پيل کړی دا دعا ورته کوو چې قلم يې روان او ذهن يې تاند اوسه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځواني

ستا د سرو سترګو لغزش دی هوسۍ سترګې

که شراب په سره پیاله کې احمر واوښت

پر رخسار باندې دې زانګي تورې څڼې

که د شپې په تور ظلمت کې سحر واوښت

دعشرت ښیښه شوه ماته دماغ سوزه

که دشوخ ساقي له لاسه ساغر واوښت

دا غیبي د زنې خال ته ورشیوه شوم

که د یار پر زنخدان مې نظر واوښت

وهم و خیال ګوره، فلك دی چې نخښړي

که مې روح هسې دمرګ پر خطر واوښت

زه خلیق پر هوس پوه د ځوانۍ نه شوم

چې قامت مې سهي راست پر کمر واوښت.

## نهیلي

انصاف ګوره دقاموس په لمنلیك کې

موږکانو دی خوړلی هغه ټوك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدل څومره چې یادېږي کتابو کې

هومره نه شته په نړۍ کې لکه نوك

شرعه دلته په محراب کې یاغي شوې

چې پر خوله دې هر سړی وهي په سوك

دې قضا ته چې لېوان پر ډډ پرېوزي

جلادان به خود پراته وي بغل څُوك

د قانون دفتر مو سوی سر تر پایه

زه خلیق ورمه څنګله ته د زړه دوك.

کندهار

**ماتې**

د ماتو زړونو له روغتونه څنې

یو زه مجنون ترېنه وتلی یمه

نورو د مینې معماوې حل کړې

خو زه مفتون څنې وتلی یمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



☒☒☒☒

له دې سارا نه تښتېدلی نه یم

په سویو زړو کې سوی ځان لټوم

پر وچه ځمکه لامبوزن یمه زه

لالونه سره د بدخشان لټوم

☒☒☒☒

پر یوه ټکي چې تاوېږم هسې

خو ابتدا او انتها مې ورکه

هغه ذهني انځور ټاکلی دی ما

چې هر ګړی مې ترینه کېږي کرکه

☒☒☒☒

ماته تلقین دمړومه راکوه

زه د خلقت یم نارامه څپې

ستا د مرموزو ګوتو وینم اثر

ما به نابود کړي له دې ښاره څپې

☒☒☒☒

زه چې د صبر کړۍ ورمه پښو کې

د همنوا له خولې نه آه نه خېژي

دلته احساس دی په اوهامو کې پټ

خلیقه ځوږ د هر همراه نه خېژي.

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ

له انځور ګر نه شاعر وکړ تپوس:

ته انځورګر یې، ښه رنګ ستا په نظر

کوم هغه رنګ دی، په رنګونو کې

رنګین تر ټولو؟

انځور ګر وویله:

ګرانه! رنګونه ډېر دي

او په رنګونو کې(رنګ)

د بېرنګۍ دی رنګین.

/1379د روژې 27 نېټه، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سردار محمد شکیب

ملا سردار محمد شکیب د ښاغلي راز محمد زوی پر 1354 ل.کال د زابل ولایت د شاه جوی په سیمه کې زېږېدلی دی. دیني زده کړې یې د زابل ولایت او پاکستان په بېلابېلو مدرسو او جوماتونو کې تر سره کړې دي، تر دې مهاله یې ګڼ شعرونه لیکلي،شعر، "په ځانګړې توګه غزل"یې ډېر ظرافت او ځینې بیتونه یې په خپل سندریز تال کې زړه راکښونکی جوړښت لري.نوموړی هڅه کوي چې خپل احساسات او خیالونه په زغرده انځور کړي، خو بیا هم خپلو خبرو ته دومره ډېر استرونه نه وراغوندي چې فکري او هنري انډول یې خپل یووالی له لاسه ورکړي، شعري بیان یې له خپلې ټاکلې اډانې څخه بهر نه وځي، په شعر کې یې یوه مرموزه مستي په غورځنګو ده او ځینې ټکي به داسې هم په کې وي چې د پوهېدو لپاره یې باید له لږ څه سوچ او ژورتیاڅخه کار واخیستل شي، یا یې هم د ځینو شعرونو د انځورونو او لفظي جوړښتونو تسلسل یې په بشپړ ډول نه دی غزول شوی، چې په ازادو شعرونو کې یې ډېر تر سترګو کېږي.

خو تر هـغه ځایه چې یې نوي شعرونه لولو، ښه بیان یې ددې څرګندوی دی چې ښه هنري ژبه لري، چې په راتلونکي کې به نوره هم ښکلې او زړه راښکونکې شي او دا کار ورسره په پرمختګ کې مرسته وکړي، د ځینو ازادو شعرونو وزن یې روان نه ښکاري، چې دا ستونزه یې په پخوانیو شعرونو کې ډېره تر سترګو کېږي او اوس یې دا ستونزه غوڅه کړې ده. ښاغلی شکیب دشعر تر څنګ نثرونه هم لیکي او ژباړه هم کوي. چې تر ډېره حده دیني او اسلامي موضوعګانې څېړي، کوم ځانګړی خپور شوی اثر نه لري. نوموړی د څه مودې لپاره د خلافت مجلې مسوول چلوونکی هم پاتې شوی او اوس هم په کندهار کې پر فرهنګي چارو بوخت دی.

## زور

له بره راشي، د ګرېوان پر ښکلي چم پر پوزي

څو سترې اوښکې مې له سترګو نه هر دم پرېوزي

د زړه پر تخت که مې زخمونه جوړوي رقیبان

د یقین توري مې پر زړه لکه مرهم پرېوزي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګلو څانګې به شي تاوې له سکروټو څنې

پر هره پاڼه به رحمت لکه شبنم پرېوزي

څومره ساده دي هغه خلك چې لا نور نه مني

ګنې د ستورو قافلې به پر عالم پرېوزي

د مظلوم اوښکې بې څه مه ګڼه، شکېبه یاره!

یووخت به دا هم پر کلنتېن لکه اټُم پرېوزي.

کندهار

**پرونۍ وعدې**

پرېږدئ چې وسوځم ،لوګی لوګی شم

پرېږدئ ستي ستي شم

زه د پتنګ په څېر لمبو ته دانګم

پرې چې لوزونه مو نیمګړي نه شي،

ها پرونۍ وعدې مو ماتې نه شي

زه چې ازل کې لا د مینې په ټالو زنګېدم

او هغه شېبه

د لېونو زندان ته وهڅېدم،

نو ځکه اوس هم ، دهغې مینې

تنکې خیالونه،

زما په رګونو کې غورځنګ کوي ،ټوپونه وهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رانه غواړي چې لمبه لمبه شم،

زه يې هم سرو اورو ته ونخښېدم

و سرو سکروټو ته يې وغورځېدم

لا د همدې مينې په تور

ځان ته زندان او هتکړۍ لټوم،

چې زولانه شم او جنون غوره کړم

ددې زمان له نيرنګونونه پردی پاتې شم؛

خو:

زه له قسمت سره پوخلا نه يمه

يا دا فلك راته اغزن خوبونه ويني

يا داسمان په ماښيجن ذهن کې

د تش غرور خيالونه غورځي راته

يا يې په زړه کې پټ اورونه شنه دي؛

چې يې بخري زما تر خوا رااوري

راته په قهر قهر ګوري او رمزونه لري

خو زه،

له دغې مينې تېرېدلا ی نه شم

هغه وعدې هم ماتولای نه شم

زه د پتنګ په شان له شمعې بېلېدلای نه شم

پرېږدئ چې وسوځم،لوګی-لوګی شم.

\1379تله\16 ل. کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غلی

دکلي چم کې يې ځوږ نه شته مساپر دی چېرته

رقيبان وايي پرې يې نه ږدئ هېڅ وبال نه لري

شپې د هجر يې اوږدې شوې خدايزده څه پرې وشول

د وصال تږي سره ځواب نه وي اوسوال نه لري

چې پرې رڼې شي د عمرونو خوبوړې سترگې

دغه منبر هغه اذان، هغه بلال نه لري

د زړه پر پاڼه يې ليکلی دی پيغام د مينې

د جانان نوم چې کله واخلي بيا زوال نه لري

خير که نن نه وي سبا به يې د سوبې اورې

داسې يې مه گڼه چې توره نه شته ډال نه لري

شکېبه! ستا غوندې به کله څوك پرې ورحمېږي

وايي يتيم دی، هېڅ تربور يې نه شته سيال نه لري.

## ملنگه

د سعدالله سعيد په قافيه

قاتل يې مه گڼه چې زړه له دې ملنگه راوړي

د بڼو غشي اوروي سوبې له جنگه راوړي

دعشق منصب يې دی خپل کړی پر دې لاره درومي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې شمعې ته وزرونه له پتنګه راوړي

د يوې نرۍ رڼا په تمه سل مزلونه وهي
هغه زلمی له کوه طور نه شمعه څنګه راوړي

چې پرې را يادې شي د سرو وختونو سرې لښکرې
د رقيبانو ککرۍ به له سالنګه راوړي

د تېرې تورې هر ګوزار يې دی په ژوند منلی
نه چې ددوی غوندې خيالونه له پالنګه راوړي

د انقلاب د سيند څپو نه به ساحل ته رسي
دا لامبوزن د توپانو خوی له نهنګه راوړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سعدالله سعید

ښاغلی سعدالله سعید زابلی د الحاج ملاعبدالقیوم اخند زوی د 1358 ل کال په شاوخوا کې د زابل ولایت، شملزو ولسوالۍ د "کښته ژیغ" سیمې په "غبرګي" کلي کې زوکړی دی. خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د جنوبي پښتونخوا د ضلع قلعه سیف الله مسلم باغ په مالګګۍ کمپ کې ترسره کړې دي، ددې ترڅنګ یې ځانګړې(دیني) زده کړې هم کړي او پر 1378ل کال د جلال اباد ښګار له ننګرهار عالي لېسې څخه فارغه شو او بیا دکانکور تر ازموینې وروسته د ننګرهار انستیتیوت منځني طب ته بریالی شو، چې اوس هم په دې پوهنځي کې خپلې لوړې زده کړې پرمخ بیایي. له پنځو کلونو راپه دېخوا شعرونه لیکي ددې ترڅنګ یې په نثر لیکلو کې هم ښه قلم چلولی دی.تر دې مهاله یې لاندېني اثار کښلي دي:

یوه شعر ټولګه.(ناچاپ)

دفولکلوریکو کیسو یوه ټولګه.(ناچاپ)

د لنډو کیسو یوه ټولګه.(ناچاپ)

د زابل ولایت د "ساوټ غره" په زرغونه لمن کې د تاندو شاعرانو دې مین لاروي(سعید) هم په خپل شاعرانه مزاج سره دفکر و خیال پانګه غوښنه او شتمنه ساتلې او د راتلونکي لپاره ډېره هیله ترې کېدی شي، دشعر څرنګوالي ته یې په پام سره دا ویلای شو چې سعید به د راتلونکي ښو شاعرانو په ډله کې هغه ښېلګه وي چې د هنر ډېر مینان به یې د شعر په ورمو دخپل ذوق تنده ماته کړي.

که یې مطالعه او خپلې هنري تجربې نورې هم ډېرې کړې، نو دی به هم دهنر په ډګر کې خپل لوی ارمان ته ورسېږي.

## شینکی چنار

تر شنه چنار لاندې په ترپ نازُکې پښې ووهي

پر ګودر تاوې شي، راتاوې شي چمبې ووهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تنکو ولیو چې ژی واخلي او کړه وړه شي
لکه هیلۍ د سیند په منځ کې ځپځپې ووهي

که مې په ورینه ټنډه ولمانځې سلام به وکړم
ما دې د شېخ په سپینو لاسو کې تسپې ووهي

تندی دې ولې وي مدام وما ته تروش نیولی؟
رقیب چې راشي ستا له څنګ سره ګونډې ووهي

ستا په کتو کې زړګی یخ شي اشنا دومره خوښ شم
لکه کوچۍ چې په سره دوبي کې شلومبې ووهي

سعیده! هر چا چې سوځلي، بې ازاره یو موږ
رب دې همداسې د هغوی پر کور لمبې ووهي.

## تورخنجر

دا خو ګناه ده په تا څه شوی اثر جانانه
قبله دې چپه کړه ولاړ یې مخ پر لمر جانانه

صبر او زغم یې رانه وړي دي ارام نه راځي
دا ستا د مینې اثر زیات دی له منتر جانانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېل ستا بچو زما بچو ته د بند څلی جوړ کړ

پرون شمشاد ګیله کوله له خیبر جانانه

که ستا په خیال کې له ملنګه لاهم کم راځمه

ما ته خو ګران یې په ولاړ د زړه له سر جانانه

لاس ورکړه مړ به شي ظالمه څه کافر خو نه دی

سعید ته نښه بېلتانه کړ تور خنجر جانانه.

## ګواښ

تندی دساقي تریو دی، چې وچاته کوي ګواښ

رقیب ته په غوسه دی که وما ته کوي ګواښ

دا چا به مقاومت وي د خمار وربانديې کړی

د مینې لېوني ګوره صهبا ته کوي ګواښ

ملګرو! لږ خبر خو زما هم واخلئ له یاره

دا ولې همېشه ما بېنوا ته کوي ګواښ؟

زړګیه! زه خوتل ورته په عجز کړمه سوال

رقیب خو زورور دی چې اشنا ته کوي ګواښ

بس مه پوښته سعیده! ددې خلکو زړونه کاڼي

ترس نه شته له ازاره بېګناه ته کوي ګواښ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رڼه چينه

سرونه اخلو په ورغوي ناوې چنګه راوړو

د خيال ګودر ته به بدرۍ، لاچي، لونګه راوړو

چې په کې وګوري د شپې سپوږمۍ تصوير دسينې

رڼه چينه د غرو له سره ږنګه بنګه راوړو

چې ښاپيرۍ مو درته سترې کړې خوله خوله شوې

بيا به دې هله موږ په تاب د رباب ترنګه راوړو

دا په جرګو مرکو نه شي په قيام به ورځو

دا سوبه خدای خبر ملګرو! بې له ننګه راوړو

دا د حسينو قاتلان موږه بښلی نه شو

والله چې غچ يې هم له روس، هم له پيرنګه راوړو

د حريت ټيك پر تندي ږدو د پتمنې ناوې

سعيده! رنګ بې د سپوږمۍ له سپينه رنګه راوړو.

## پيغام

دا مسوليت به وي د چا پر غاړه

چې مو ځواني شوه په دردو کې تېره

حق د ګيلې لري راتلونکی عصر

خو په موږ هم شوه په دردو کې تېره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سید عبدالله سعیدي

سید عبدالله سعیدي پر 1312ل کال د کندهار درېیمې ناحیې د افغانپورو په کوڅه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په شالېمار(مشرقي) ښوونځي کې پیل کړې او له احمدشاه بابا لېسې څخه یې د دوولسم ټولګي بری لیك ترلاسه کړی دی. وروسته د لوړو زده کړو لپاره کابل ته لاړ او هلته یې د ادبیاتو پوهنځي په انګرېزي څانګه کې لوړې زده کړې وکړې، وروسته یې د کندهار په بېلابېلو ښوونځیو کې د انګرېزي، پښتو او دري ژبو د ادبیاتو پر تدریس پیل وکړ.

د ښوونځي له اووم ټولګي څخه یې له شعر و شاعرۍ سره مینه لرله، وخت پر وخت یې نثري لیکنې او شعرونه په خپرونو کې راڅرګندېدل. په شعر کې یې د ټولنې او طبیعت ځینې داسې انځورګرۍ ترسترګو کېږي، چې زموږ د وګړو ذهني او رواني غوښتنې او هیلې خړوبوي او انځوروي، د لرغونو شاعرانو د ډېرې ژورې او هر اړخیزې مطالعې له کبله د هغوی له شعري ځواك څخه اغېزمن ښکاري، د شعر ترڅنګ یې د نورو خورو ورو مقالو شمېر هم ډېر دی، چې ځینې یې د هېواد په بېلا بېلو مهالنیو خپرونو کې خوندي دي.

نوموړي ښاغلي پر 1379ل کال د وریېښې ناروغۍ له کبله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او پاتې ژوند یې موږ ته راوباښه.

دا هم دنوموړي ارواښاد یوه شعري بېلګه:

## ګل

د عبدالقادرخان پر ځمکه

شګفته په باغ و راغ شول د بهار ګل

هم پر بام هم په کوڅه، هم پر دېوار ګل

نه یوازې ګل د ګلو بوټی ونیو

بادام ګل، شفتالوګل، ونیو انار ګل

هر اشیا د ځمکې ګل، پروردګار کړ)1(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمادات گل، نباتات گل،کُل ابشار گل

کاڼي بوټي خاورو خس په گلو پټ شول

دهمه واړو عیبونو شو ستار گل

چې د سترگو نظر لگي واړه گل دی

وړاندې گل دی،وروسته گل یمین یسارگل

هېڅ یو ځای خالي له گلو پاتې نه شو

په بازار گل، پر سارا گل، پر کوهسار گل

که اسمان په شپه په ستورو ښایسته دی

لا ترې ځمکه ښایسته کړه په بهار گل

عندلیب نارې وهي چې سیل کاندي

بهار درومي رژېدون کا په وار وار گل

لا تر کوره کور دید پروت په گور کې ښه دی

چې به نه گوري سږکال ددې گلزار گل

دبهار په سیل جونه زلمي کښېږدي

په وربل گل، پر پټکي گل، پر دستار گل

د دلبر صورت تمام لکه گل روغ دی

پښې يې گل، لاسونه گل څېره رخسار گل

می گلگون، ساغر گلگون، ښیښه گلگونه

ساقي گل، حریفان گل، گل نگار گل

دبهار په سیل وخوځه له کوره

دراتلو دې هر کور ډېر کا انتظار گل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګلونه بويوي احتياط بويه

چې پر شونډو دې ونه کاندي پرهار ګل

چې د ګلو هار پر غاړه نازنين کا

پر سينه باندې يې څرخي لکه خار ګل

خاص و عام يې بهره من په ننداره شول

منتونه پر هر چا باندې کړه بار ګل

چې د يار له وصله ښاد وي ګل به ګوري

د مهجورو به هرګز نه وي په کار ګل

چې بې ياره دبهار په سيل درومم

په خاطر باندې مې لګي لکه نار ګل

په هزار رنګه ګلونه شګفته شول

ښکاره نه شولو په څېر زما د يار ګل

چې دا هسې يې په ډکه خوله خندا کړه

مګر نه و له خزانه خبردار ګل

په هوس، په خوشحالۍ يې اموخته وي

ګل پروره، مه کړه ژر له ژره خوار ګل

بلبل هېڅ نه و خبر دعشق له تاوه

په فرياد کړ، په نارو کړ په چغار ګل

چې د سرای په ځمکه وا دپسرلي شي

شرمنده کا د کشمير د بل ديار ګل

دا رنګ ګل چې په سرکال د غواص وا شول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچا یاد نه شي پخوا هسې بسیار گل

چې ښبان دخپل اشنا ورځنې مومي

ځکه یاد عبدالقادر کړ په تکرار گل

په بیاض کې مې دشعر ډول ډول

شگفته دي ترداښه هزار هزار گل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالاحمد محمديار

ښاغلی عبدالاحمد محمديار د اروابښاد محمد حسين زوی پر 1356ل کال د شنه ارغنداو په چارباغ سيمه کې زېږېدلی دی، يو کلن و چې د ګوزڼ(فلج) کرغېړنې ناروغۍ يې له سترګو څخه رڼا او له تنکيو پښو څخه د خوځښت زور واخيست.

محمديار د ژوندانه تر دې شېبې پورې يوازې پر خپلو دوو ژمنو ملګرو(لکړو)د خپل ژوند درانه پېټې لېږدولي او له هغوی سره يې د تلپاتي يووالي ژمنه کړې ده.

څه له پاسه اووه کلنه شاعري يې دې حد ته رسولې ده، چې په کندهار ادبي ټولنه کې يې د ادبي بنډار ټول ملګري تر بلې مياشتنۍ مشاعرې پورې د شعر اورېدو ته په تمه وي. ځينې خواره واره نثرونه او شعرونه يې په طلوع افغان ورځپاڼې، خلافت، هيلې، ګندهارا، کندهار او نورو مجلو کې خپاره شوي دي.

د محمديار د ذهن يوه برخه حماسې او يو ډول جوش ته ځانګړې شوې چې ځېره ژبه يې بيا ددې اغېز نور هم ډېروي، تغزل يې ښايسته او له بغاوت څخه ډك دی، هېڅوخت يې د خپل شعر(واعظ او زاهد) ته ددوستۍ لاس نه دی ورکړی، بلکې دی ورته هره شېبه ګواښېږي او نادودې يې په زغرده غندي.هېڅوخت له ژونده نهيلی شوی نه دی، هغه د صبر لوی غر دی چې يوازې ديوې ورکې رڼا په تمه شپې سبا کوي او هر څه زغمي. کله چې قلم اوچتوي نو د الهام په مست سمندرکې ډوبېږي او خيال يې دومره اوچت الوت کوي چې"د اسمان لور"(سپوږمۍ) يې پر لمن باندې را رغړي

### غزل

هر ياد دې په لاسو د غزلونو شي رااوړد
غزل له ځوانو ځوانو الهامونو شي رااوړد

راتشه مې لمن له تشو تشو ثوابوشي
دروند پېټی پر اوږو د ګناهونو شي رااوړد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملگري مې شي لمر، د ورځې ټوله خرابات

د شپې هم د سپوږمۍ په تنابونو شي رااوږد

دعاوې د روغتیا به راته نه کوئ خواخوږو!

یو کیف جهان جهان مې له دردونو شي رااوږد

توبه به راته نه وایې ډېر ډېر د توبې زویه

قسم که لږ تاثیر دې له وعظونو شي رااوږد.

**غرونه مانا**

سترګې چې کړې په ادا واړوي

درد باندې د زړونو دنیا واړوي

بویه چې اسمان به یې راځي پښو ته

روس چې تر امو په ځغستا واړوي

وزانګي راوزانګي نشه نشه

وار چې دخمار پر سوما واړوي

څومره ورته ګرانه پښتونواله ده

مخ باندې پلو له حیا واړوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا څومره درنه شي پښتنه پېغله

ننگ ټپه ټپه پر غزا واړوي

ته وا کوم غازي د سوبې ویاړ گټي

شور چې د بنگړو پر شرنگا واړوي

دا د گل د راز لو مفسره ده

اوس به درته غرونه مانا واړوي.

1378/3/1ل. کال، کندهار

**پښتانه ستوري**

سر په خندا دي، پر اسمان د گرېوانه دي ستوري

بیا دې پاشلي پر لمن، دانه دانه دي ستوري

شوخې! تر پښو یې لاندې نه کړې، لږ په پام خوځېږه

تنکي زلمي دي، ښایسته دي، نازدانه دي ستوري

سپوږمۍ رڼا په غېږو غېږو ده راوړې کور ته

ځکه چې نن یې په کاله کې مېلمانه دي ستوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سره شفق خوني منگولو کې خواشيني نه دي

لاهم ځلېږي، مېړني دي، پښتانه دي ستوري

د شپې اوښان يې مهار کړي، لېږدېدلي کاروان

ځي د سبا تر کېږدۍ پورې، اوښبانه دي ستوري

سپين سپين غمي دې دي، ټومبلي د ښکلا پرښتې!

څه پر لېمو، څه پر باړخو، څه پر بانه دي ستوري

محمديار د خيال پالنگ کې اوچت ځای ورکوم

وړ د درنښت او د عزت دي، ډېر درانه دي ستوري.

**لاس**

په غاړه کې چې مسته جوړه لاس راواچوي

و زړه ته مې دمينې پوخ اساس راواچوي

رخصت چې ځنې غواړم زړه نا زړه اجازه راکړي

له سترگو نه د اوښکو روڼ الماس راواچوي

شهلا ملالو سترگو نه يې اوري الهامونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميوند ميوند ټپې مې پر احساس راواچوي

ګاونډ کې مې مېښت شوی يو بدشکله تور شيطان دی

په کار کې مې د عشق شك و وسواس راواچوي

زه ناست ورته په ونه کې د خيال يم ښکلې کښته

د وصل بلنليك به هلته پاس راواچوي.

1378/3/10ل. کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالجبار ترنګ

ځوان شاعر او لیکوال عبدالجبار ترنګ د ښاغلي عبدالاحد ترابي زوی پر 1360ل.کال په کندهار ښارکې زېږېدلی دی. پلرنی ټاټوبی یې ارزګان ولایت دی او له ډېرې مودې راپه دېخوا په کندهار کې استوګن دي. لومړنۍ زده کړې یې په البېروني لېسه کې پیل کړي، چې اوس هم د همدې ښوونځي د دوولسم ټولګي زده کوونکی دی، دوه درې کاله کېږي چې د ترنګ شعرونه په ځینو هېوادنیو او بهرنیو خپرونو کې تر سترګو کېږي، ددې تر څنګ ځینې لنډ هنري نثرونه یې هم کښلي، چې په هنري لحاظ ډېر اوچت او پامور دي.

ترنګ ایله په دې وروستیو کې وغوړېد او خدای شته ډېر ملګري ورته هیله من شول، وړاندې یې هم هغه د چا خبره(توري پېیل) او په ځینو خپرونو کې به راښکاره کېده، خو وروسته چې یې غوره شعرې بېلګې ولوستې او د اوچتو شاعرانو تجربې یې وکتلې، نو تر ډېره وخته تم شو او څه موده غلی کېناست، چې ټول ملګري یې ځان ته هېښ کړل. اوس ډېر لولي، اوري خو لږ لیکي. په لږو بیتونو او لنډو قافیو کې ډېر هنري شته ځایوي،خو که یوازې د قافیه وال لمن یې ټینګه ونیوله او په دې فورم کې پر مخ لاړ غوره به وي، نوموړی دخپل ویښ ذهن او شعور په ملتیا د هرې لیکنې هنري او ادبي جاج اخلي او ټول شته یې ارزوي. له خپل هېواد او هېوادوالو سره ډېره مینه لري، د ملګرو تر منځ به یې په ځینو ناستو کې دهېواد پر روانو پېښو او چارو خبرې اترې کولې، کله چې یوه موضوع ورته ارزښتمنه وبرېښي نو تر ډېره وخته یې څاري او سم و نا سم اړخونه یې ځان ته معلوموي، په اصطلاح د کنجکاوۍ حس یې پیاوړی دی. کېدی شي د خپل پلټونکي ذهن په ملتیا ډېرې بریاوې ترلاسه کړي او د زمان هغو غوښتنو او پوښتنو ته ځواب ووايي چې ګڼ شمېر خلك په کې پاتې راغلي دي.

## جادو

د باړخو د اوښکو ځل یې جادو ګر دی

ته وا ستورى پر شفق باندې را بر دی

د څو حسنو لارویان به شاید ډېر وي

زما یو(اشنا) د مینې پیغمبر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته لمر به شي هر سیوری راوژلای

خو د جنګ سیوری والله پرې زورور دی

دا دسپینو خلکو لاس دی چې دوی چوپ دي

نه بلا ده، نه پېری دی، نه اثر دی

دا غزل پښتون غزل دی جباریه!

تر هغو چې(دُراني)،(ستوری) او لمر دی.

## رازونه

ټول رازونه نن د ستورو درته وایم

زه يې نه، ګوره! په نورو درته وایم

پردې قول یاره! ژوند غوندې ولاړ یم

چې منې په هغو تورو درته وایم

د ښیښو مخونه تور دي، څېرې تورې

دا زموږ حالت چوپ، ورو ورو درته وایم

د ځوانۍ د کیف مریده اشنا ګوره

د ښکلا د نوم په تورو درته وایم

تر زړګي وي لاهم تېرې ځینې ښکلې

له خبرو په زړه پورو درته وایم.

1379ل کال، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېر شوی توری

دا یو زړه چې رانه دلته اشنا! هېر دی

د هغوی دکاڼو شمېر مې هم بیا هېر دی

د جانان د پلونو خاورې چې شنم

دې کوځه کې مې یو (توری) بېګا هېر دی

بس له دغو سپینو خلکو دومره واورئ

چې يې ذکر لا د لمر او سبا هېر دی

د شیطان قدم پر زړه تقدير رد کړی

چې دا ولې ترې زړګی داسیا هېر دی

سپینې اوښکې اوسلګۍ، زاری، خبرې

ته وا ناز غوندې منتر ترې رښتیا هېر دی.

1379ل کال، کندهار

## ستوري

د حسن پرمدار وي دوه خشنګ ستوري

اوسېږي دواړه ياره! څنګ پر څنګ ستوري

عشقونه چې نغمې شي او شرنګېږي پرې

دا څو شي له دې ستورو هماهنګ ستوري

د زړه د شپې سباوي په راتګ ته وا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی مړي چې لږ پورته شي په درنګ ستوري

دا شپه چې شمعې غواړي او مفلسه ده

بایللي بې وي خدایه! بیا خپل دنګ ستوري

را اوري سر ته ناست"درویش" اسمان څخه

بېشمېره(په لمن کې) با اهنګ (ستوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالقدیم پتیال

ځوان شاعر عبدالقدیم پتیال د حاجي سردار محمد الکوزي زوی پر 1361ل.کال د کندهار ښار په لومړۍ ناحیه کې زېږېدلی دی، د ځینو ستونزو له کبله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې او د ژوند کړاوونو ته یې اوږه ورکړه، چې اوس هم د لوحه لیکنې دکان لري. د لیکګرۍ هنر ترڅنګ لیکوالي هم کوي، چې پر دواړو یې لاس بر دی او ښګګه پیاوړی او بریمن مټ لري، که څه هم ډېرتنکی دی، ښه استعداد او تاند ذهن یې دا په ډاګه کوي چې پتیال به په نږدې وخت کې د ښایسته کندهار پر هسك باندې د یو ځلاند ستوري په څېر وځلېږي او ډېرې سترګې به وبرېښوي.

څه له پاسه درې کاله وړاندې چې د ځینو په وینا لا یې د شعر پر ځمکه خاپوړې کولې، په یوه ادبي غونډه کې یې ځینوشعرونو یو شمېر مینه وال رامات کړل، وروسته چې له نورو ادبي ملګرو سره اشنا شو او نوې کتابونه یې ولوستل نو په لنډه موده کې یې شعر د مستۍ په هغه ځُم کې رنګ شو، چې "جهاني" یې جهاني کړی او ډېر زړونه یې تسخیر کړي دي.

تر څه مودې وروسته یې دځینو سر لارو شاعرانو له اغېزو څخه هم د وتلو هڅګګه پیل کړه او تر یوه حده یې خپله لار په نښه کړه، اوس که یې څوك شعر لولي پرته له دې چې نوم یې واخلي نو شعریې پېژندل کېږي.

شعر یې په یوه ځانګړې مستۍ او شور کې ډوب دی. لنډې کیسې هم لیکي، چې یوه ټولګه ترې جوړېږي، کره کتنه هم کوي چې ښه په نره په کې پر مخ روان دی، ځینې فني نیمګړتیاوې به لرې خو دا به وخت ته ګورو چې دی ترې څه مومي، نوروته څه ورپه برخه کوي او وخت ورسره څه کوي.

### د سترګو مسجد

یو مست کافر احساس مې پر ثواب تاو او راتاو شي

له خروشه نا ارام شي، پر ګرداب تاو او راتاو شي

د مینې له چینې نه د وفا کټورې ډك کړې

د نور له مستو وړانګو بیا بېتاب تاو او راتاو شي

د اوښکو له محله مرغلینې پېغلې ورکې

د خیال نیلی یې اوس خو پر پنجاب تاو او راتاو شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانکار او یار ساقي مو د زاهد خلوت راګړوب کړ

وای ګونديې چې دا شېخ مو پر شراب تاو او راتاوشي

الهام ته د غزل مې حريفان بې ګټې ګواښ کړي

یو بیت به يې د دوی پر درست کتاب تا او راتاوشي.

/1379زمری/26ل. کال _کندهار

## د غچ ژبه

د الهام شېخ، د مست غزل پر لوړ منبر غرېږي

خو د شپو شپول ورته تر مخ او تر اوتر غرېږي

د غه باټك د(زمري زوی)د(خره) له ترپه ژېړ شو

خو په خبرو کې هر چاته یو لښکر غرېږي

ستا د جام تور ځنګل کې ښکار شوه زما د شونډو هوسۍ

نو د غچ ژبه به ساقي اوس سر پر سر غرېږي

دا د(طور) لور ده، پردی ځوانه! بد ور ونه ګورې

که څه ددي ښامار ته، ستا ښامار منتر غرېږي

خیر که د مرګ ګرېوان کې ښخې شوې دژوند سرې اوښکې

خو دلېمو پر راڼه عرش به په محشر غرېږي.

/1379لمريز، دويمه ناحيه، کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپېره ژبه

دمستۍ يو مست سېتار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

داحساس دسپېدو ځار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

دتقوا دپښو له ترپه زما دزړه هر غوږ كوڼ شوی

د پایزېب خوږ شرنګهار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

دسپېرې ژبې پر څمكه د شرابو اتڼ سوړ شو

نو خود زوړ يار مست خمار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

زما د ښكلي د كور وره كې ځړول چې مې خيالونه

هغه ځای او هغه دار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

د لېمو د اسمان لمر كې د بڼو شپې شوې سركشې

اوس د يار يو روڼ ديدار مې رانه ورك دی، وي به چېرې

دا غزل مې شېخه شوی چې ميدان ورته خالي دی

ها(ښاغلی گناهكار) مې رانه ورك دی، وي به چېرې.

/1379وږی/2 ، كندهار

## د احساس سرخانه

راځه ماتې دې توبې كړه، د شراب په جم شريكه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیالونو ایمان راوړه، پر سرکښ صنم شریکه

د احساس په سرخانه کې د غیرت چرسان تیار کړه

پر چیلم بیا شونډې کېږده، کش کړه درونډ خوږ دم شریکه

د مستۍ احد کې خرپ خروپ د مچکو تورې اورې

موږ په دې غزا بېلېږو، له یو تور تورتم شریکه

شېخه موږ خو ښکلي تل په غېږ کې ټینګې دي نیولي

راشه ته هم پر یو چتېې ځان کړه سریښ هر دم شریکه

د لېمو جام مو نن ګرو دی، په کعبه کې مو مستي ده

نړوو په نظرونو د رقیب حرم شریکه

د"غزل"په (ښکارپورۍ) کې سندریزې ببباکۍ دي

راتویېږي مست خیالونه تر(پایلوچ) قلم شریکه.

/1379غویی/12 ل.کال_کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالقیوم مینه وال

ښاغلی عبدالقیوم مینه وال د حاجي عبدالرحیم زوی پر 1348 ل-کال د کندهار میوند ولسوالۍ د پاشمول په وزیرانو سیمه کې زېږېدلی دی. خورې ورې دیني زده کړې یې کړي، نوموړي هم د کډوالۍ او جلاوطنۍ ترخې ورځې تېرې کړې او پر دې ستونزو سربېره یې له شعر و شاعرۍ سره خپله مینه پاللې ده. کله چې د کندهار ادبي ټولنې مشري ورتر غاړې شوه نو ددې ټولنې د غونډو جوړولو او سمبالولو چارې یې په مینه پر مخ بېولې، د همدې هڅو په لړ کې یې له ډېرو سیمو څخه ځوان شاعران او لیکوال سره راغونډ کړل او سره معرفي کړل.

مینه وال صیب د پخو شاعرانو له تجربو څخه هم ګټه اخیسې او خپله هم هڅه کوي چې په شعر کې یې اخلاقي معیاورنه ، ټولنیز او اسلامي ارزښتونه خوندي وساتل شي. شعرونه یې تر یوې ټولګې ډېر دي کوم خپور شوی مستقل اثر نه لري. د ډېرې اوسېلې خاوند دی، که په فرهنګي او ادبي ډګر کې یې خپله هڅه او مینه په عملي توګه ګړندۍ کړې نو پایله به یې ډېره ګټوره وخېژي، هیله ده د مینه وال صیب مینه یوازې په شعر کې رامحدوده نه شي او په نثر کې هم خپله قلم وچلوي، ځکه ځینې نثري ټوټې یې ښې وې. ورځنیو ستونزو په کراره نه دی پرې ایښی، کله په کابل کې وي، کله په خپل کلي کې او کله هم په کندهار اطلاعاتواو کلتور ریاست کې، د خورو ورو شاعراوانو په راټولونه او یو له بل سره په معرفي کولو کې ډېره خواري ګالي. خو په دې کار کې د یو منظم پلان د نشت له کبله کوم پاموړ پرمختګ نه ترسترګو کېږي، له دې کبله د ډېرو سیمه ییزو ځوانو شاعرانو استعدادونه هماغسې پاتې دي او تر دې مهاله یې فرهنګي اړیکي کمزوري دي.

نو هیله ده چې د مینه وال صیب په مینه و هاند د کندهار مېشتو ځوانو شاعرانو اړیکي ټینګ شي او دا ځوان استعدادونه وغوړېږي.

دا هم د مینه وال صیب د زړه اواز چې د شعر په ژبه انځور شوی دی:

### د ښکلا پېغله

د ښکلا پېغله مو له کلي نه بدرنګه وځي

په وینو سره لکه سور ګل غوندې همرنګه وځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موسکه خوله یې د سکوت دېوانو سوك وهلی

لکه پردېس له خپور پالنګه مو ملنګه وځي

د ناز پري یې دسره کلي سرو لېوانو یووړه

د ویر په چم کې د ناسیال ټپوس له جنګه وځي

د څو دېوانو تور مخونه یې په خوب لیدلي

د خوب له حوله چې تورسر له "دهمزنګه" وځي

ویبلو پښو ته یې وزرې د غزلو ږدمه

چا وې له کلي نه مو لاړه، له فرهنګه وځي.

## خبر د پوهې او تدبیر ده

زه یې له یاده لکه مړی د پرون ووتم

چې له کاروانه د ژوندیو په ژوندون ووتم

دوی په موسکا موسکا یو بل ته سترګکونه وهل

زه په نیمګړي عشق د میو له وېشتون ووتم

دا چې ما ویشتی د نن فکر د پرون په کاڼو

ځکه تش لاس نن له ډك ښار د تمدون ووتم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم چې د عقل پر منبر تل لېونۍ خبرې

ګوره انجام کې هم له پوهې، هم جنون ووتم

چا دزهرې، چا دمریخ پر کنارو ودانګل

زه دخپل ځان په غم اخته یم، له سمون ووتم

نور به لا څو سرونه نذر دې جونګړې ته وړم

چې نه ماڼۍ شوه، نه جونګړه ترې یو شپون ووتم

خبر دپوهې او تدبیر ده، څه بې ننګ خو نه یم

دا چې له دې رنګین جهانه خړ پښتون ووتم.

## خپلواك

موږ خو د چا د قامت سیوري نه یو

چې ترقامته یې مهمل پاتې شو

نه هم له چانه د سوال هیله کوو

چې ترې پر لاره لکه پل پاتې شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ وجود هم ځان له سیوری لري

موږ په قامت به خپل افضل پاتې شو

زموږ قدم هم ځان له پل زېږوي

موږ به په یون سره مشعل پاتې شو

موږ خو د چا دښکلا وړې نه یو

نه به د چا د ښکلاغل پاتې شو

موږ د ښکلا له کلي دلته راځو

موږ به تیارو ته تل اجل پاتې شو.

کندهار

## د زړه هنداره

والله چې بیا مې نن له سترګو نه پرې توی شوې اوښکې

چې د پیمخو مې لاسو کې مات بنګړي ولیدل

خدای؎شته د کوم شهید په وینو یې وو سره لاسونه

پر ګودر پاتې مې په وینو سره منګې ولیدل

د زړه هنداره چې په کاڼو د نفرت ماتوي

په دغه ښار کې مې همداسې لېوني ولیدل

و بې شعوره، خو زموږ د باشعورو په ویر

لانده په اوښکو مې د ګل سره اننګي ولیدل

یوه وزرمات بلبل سحر هم راته داسې ویل

څو وزرماتي مې همداسې بېګاني ولیدل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید-شهید ښکاري ملګرو! مینه وال د الفت

څو ښېنوا مې ترېنه پاتې اسویلي ولیدل.

## عبدالله هنرمل

ښاغلی عبدالله هنرمل پر 1356 لمریز کال د محمد کریم په کاله کې وزېږېد، خپلې لومړنۍ زده کړې یې همدلته په کندهار کې بشپړې کړې، وروسته یې په ځینو جوماتونو او دیني مدرسو کې هم زده کړې وکړې، خو په هېواد کې دناسمو حالاتو او دخپلې کورنۍ د اقتصادي ستونزو له کبله ونه توانېد چې خپلې زده کړې بشپړې کړي.

څه له پاسه لس کاله کېږي چې شاعري کوي چې ولسي رنګ یې په شعر کې جوت دی، همدا راز دده په شاعرۍ کې د ولس د زړه هغه اواز هم رااخیستل شوی چې تر ډېره وخته ددې ځورېدلي او کړېدلي ملت په ګوګل او خوله کې بند پاتې و. دوه دري کاله وړاندې به یې کله کله په طلوع افغان ورځپاڼه کې شعرونه خپرېدل، خو کله چې یې په کورنۍ کې د هنرچاپېریال نور هم تنګ کړای شو، نو ښاغلی هنرمل یې (په شعوري ډول) دې ته اړویست چې له کتاب او قلم څخه فاصله واخلي، لیکوالي پرېږدي او یوازې د روزګار درنو بارونوته ملا وتړي. له بده مرغه تر اوسه پورې یې نه بله لیکنه وکړه او نه هم شعر ولیکه. سربېره پر دې ډېر مینه وال او هنر ته لېوال ذوقونه یې په خپلو ګوتو کښل شویو انځورونو او لیکګرۍ ته رامات کړي وو. له نېکه مرغه اوس هم دا هنر پرمخ بیایي، که په دې برخه کې یې درياضت او مینې لمن پرېښوده نو دا هنرونه به یې هم له لاسه ووځي.

د نوموړي د نویو شعري بېلګو د نه لوستو له کبله یې پر پخوانیو هغو هم چې د شاعر لومړنۍ تجربې دي څه ویل غوره نه بولو.

## وریت خمار

لامبي لا اسمان په وینو، ماتې ارادې نه دي

وتي د وختونو له سینو نه هم کینې نه دي

هوښ کوه! یوبل مین پرون هم په کې ډوب شولو

مه درومه زړګیه! دا کوڅې هغه کوڅې نه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته مینه نه شته، ورته غټ په سترګو مه ګوره

دا انګړ پردی دی، دغه سترګې د لیلې نه دي

ستوغه پردېسي ده، څوك دې حال راڅخه نه پوښتي

کلوپ د زړو هوجرې دي، د چا خلاصې دروازې نه دي

ته که ځنې لاړې، ښکلي هم ورځنې تللې دي

کلي کې لا مړې دخپلمنځي جګړو لمبې نه دي

وریت خمار دې ځار شم، زما سترګې یې شاهدې دي

تا شوګیرې کړي، څوك دې نه وایي چې شپې نه دي

نورڅه که مې نه شته خو یو ته راځنې مه درومه

ما پر زړه راوړي دلته بل چا ته اسرې نه دي.

## سور غمی

زموږ نه یو قوي ښامار بری وړی

تخت نه یې د زړونو سور غمی وړی

اوس به موږ د زړه په بڼ کې څه کړو؟

چا رانه ګلونه چا سپرلی وړی

تېره مو روژه شوه لا اختر نه دی

لاس نه د هلال یې سپین وښی وړی

شته خو پر خپل ځای دی څنګې ولولو

زموږ د خدای له نومیې غړوندی وړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شته چې په لوړ غر لیلا ووايي

وخت رانه دکلی لېونی وړی.

## خمار دې یم

سترګو کې مې ونغاړه، خمار دې یم

زړه ته درننږدې به شم، پرهار دې یم

ښکلی یې په ناز باندې لوی شوی یې

ورك به شې، پر بله مه ځه لار دې یم

ته لکه ټپه هسې شیرینه یې

راشه چې دې ولولمه، زار دې یم

شوني نه دي بيا چې دې سپرلي ګورم

سر کې مې ګل وټومبه، دستار دې یم

خدایج درته پېیلی د غزل په تار

غاړه کې مې وزنګوه، هار دې یم

تاو مې کړه له غاړې نه لاسونه خپل

هسې څه پــــــــــروا ده، ګرانـــې یـــــــــار دې یم.

## عبدالواسع هڅیال

عبدالواسع هڅیال د رحمت الله "چې خلك يې داغاجان په نامه هم پېژني" زوی پر 1356لمريز كال د كندهارښار په پنځمه ناحيه كې زېږېدلی دی، په البېروني لېسه كې يې خپلې لومړنۍ زده كړې تر اتم ټولګي پورې ورسولې، ورسره ديني زده كړه يې هم څه نا څه كړې ده، كله به چې له كابل يا پېښوره يوه نيمه نوې خپرونه كندهار ته رارسېدله او ټولو ملګرو به هڅه كوله چې لومړی يې وګوري، نو مازيګر به ورسره د هڅيال ضرور نانديرۍ وه او په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې هڅه کې به و چې د يوې شپې لپاره يې ورځخه تر لاسه کړي. نوموړی اوس د کندهار مجلې د ليکني هيت غړی دی او ددې مجلې هنري برخه چلوي.

هڅيال هم د ډېرو نورو شاعرانو په څېر د شعارونو له اغزنې دښتې څخه رااوښتی او د هنري شعر شنه بڼ ته يې ځان ورلنډ کړی دی، که يې لومړني شعرونه له اوسنيو هغو سره پرتله کړو ډېر بدلون په کې ترسترګو کېږي، د پخوانيو شعرونو ډېره برخه يې هغه شعاري ډوله خبرې دي چې ځينو ورته د حماسې استر ورکړی او ددې ډول خبرو ناظم ته يې شاعر ويلی دی، د همدې مطالعې او ادبي ناستو ولاړو برکت و چې شاعرانه مزاج يې لا هنري او غزليز شو، که يې د همدې هنري او غزليزې شاعرۍ لار پرې نه ښوده نو تر څه زيار وروسته به ډېر تړي ذوقونه د خپل شعر پر چينې خړوب کړي.

## ملنګې سترګې

زړه مې داستا غمونه ټول ونيسي

لکه سپوږمۍ چې ځان ته شپول ونيسي

واړه د بم لوګي کړي پاڼې پاڼې

څوك به مو پاڼې د غاټول ونيسي

څنګه لوګی شوه ړنګه بنګه ځواني

څوك اوس رباب او ښکلی ډول ونيسي

پېغله ملاله مو پرديو يووړه

څوك به د غاړې رنګين پسول ونيسي

نه شته په ټوله ميکده کې يو جام

تا ته به څوك خالي کندول ونيسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې چېرته کېنم له پيمخو سره

سترګې ملنګې شي کچکول ونيسي.

سيوری

**ګران ملګري محمديارته!**

سيوری مې تا ته پر لو لار ولاړ دی

لکه يتيم ماشوم بې پلار ولاړ دی

هغه د ښکلي کابل ښکلی مې اوس

د بل مزدورهسې ناچار ولاړ دی

تش د يوې ګولې مرۍ لپاره

له کوره ورك دی خواروزار ولاړ دی

بس ټول وګړي مو له ژونده ستړي

سرِ وچکالي ده کاروبار ولاړ دی

تل د رنګينې ګناه هڅې کوي

دا خو"ښاغلی ګناهکار"ولاړ دی

هغه دی ښکلو ته اوس لاس اچوي

پاس پر ګودر"محمديار" ولاړ دی

د اناالحق چغې وهي

روح مې منصور پر سر د دار ولاړ دی

د ميخانې باداره هېر يې نه کړې

هڅيال له وخته انتظار ولاړ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1379/6/14ل

کندهار

## تور مرگونه

د ژوند په کرونده کې مو کرلي تور مرگونه

هرخوا مو و درشل ته دي راغلي تور مرگونه

ښتن مو په برخليك كې د تور مرگ لاسليك راکړی

نو ځکه راته گران او هم ښاغلي تور مرگونه

د ژوند پر اننگو مې د ماتم سېلۍ مېلمه شوې

اشنا! زه مېلمه پال يم، ما پاللي تور مرگونه

یو ځلې که مو بیا د ژوندون فصل رازرغون شي

نو خدايږو له دې ځايه ترهېدلي تورمرگونه

منزل ته رسېدای نه شو قدم قدم مو مرگ دی

هڅياله! موږ له وخته دي گاللي تور مرگونه.

1379/2/29ل کال، کندهار

## سرونه

چېرې پیدا شول، چېرې لوی شول دا بدرنگ سرونه

د حق نظام دی، پیدا کېږي رنگ په رنگ سرونه

چې خپل كلتور او فرهنگ پرېږدي کړي پردوته مخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالولي زاهد

ښاغلی عبدالولي زاهد د حاجي عبدالمجيدخان زوی پر1357ل کال د زابل ولايت د کلات ښار په "لککو" کلي کې زوکړی دی، ديني زده کړې يې کړي او له درېيو کلونو را په دېخوا شعرونه ليکي، نوموړی اوس هم په زابل کې استوګن دی، د هنري ښايست تر څنګ يې په شعر کې د حماسې يو څرك هم جوت دی، خو دا حماسه هغه شعاري ډوله خبرې نه دي چې کله کله د ځينو سياسي اونظامي مقصدونو لپاره کارول کېږي، بلکې دا افاقي حماسه د هغه خپله ذاتي او فطري ځانګړنه ده، چې د ډېرو خپلواکۍ مينو افغانانو په ختّه کې اخښل شوې ده. نوموړي هنريت او شعريت ته په درنه سترګه کتلي او هڅه يې کړې چې پوره خيال يې وساتي.

څرنګه چې په دې وروستيو څو کلونو کې په زابل ولايت کې د شعر

چرګۍ توده شوې او په بېساري ډول په کې ژبور او سترګور شاعران او قلموال په کې راټوکېدلي دي، نو په دوی کې ځينې داسې څېرې هم شته چې د اوسمهالي شعري بهير يوه رنګينه برخه جوړوي، زاهد به هم دخپلو او ادبي بنډارونو له يارانو څخه رنګ واخلي او د شعر وړانګې به يې نور هم په ذهن او خيال کې غزونې وکړي. که خپله جهان بيني(نړۍ ليد) يې له خپلو ادبي او هنري تجربو سره يو کړ، نو فکر به يې ژور او خيال به يې نور هم اوچت شي.

### سپينه توره

د معرکې ډګر نن بيا د وينو رنګ واخيسته

چې مې فاتح اشنا نن بيا لاس کې خدنګ واخيسته

د ځناورو په لښکر کې لارې جوړې کړلې

نن چې په ننګ د افغانانو توري شرنګ واخيسته

په سپينه توره يې کړل غوڅ څو فرعوني سرونه

له ډېره زوره يې نن بيا کهکشان زنګ واخيسته

چې ولولو يې بيا ويده احساسات وپارول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته په مینه د ادم مات رباب ترنګ واخیسته

بیا یې خوره کړه د ملالې ټپه هر مورچل کې

زاهده! ګوره هر تاریخ چې مو نن ننګ واخیسته.

## ښکلی اظهار

توره شپه چې د نړۍ پر اسمان راشي

مقابل کې بیا سپېڅلی سهار غواړي

دا قانون دی په مضمون د عاشقۍ کې

زړه په څنګ کې نازولی نګار غواړي

چې له یار سره کلام د مینې پټ وي

خلك وايي چې دا ښکلی اظهار غواړي

چې دریاب کله په سترو څپو سرشي

اخر بېرته لکه مړی کرار غواړي

چې دعوه د اناالحق څوك په اعلان کړي

بیا یو تش د جرم پړی د دار غواړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څوك چې درومي و منزل د خپل هدف ته

زاهد وايي دا رښتينی سالار غواړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالبصير عبرت

ارواښاد عبدالبصير عبرت پر 1352ل کال د زابل ولايت، ناوې والسوالۍ په بلبلي کلي کې زېږېدلی دی. له اره د وردګو ولايت د سيداباد ولسوالۍ اوسېدونکی دی، چې پلار او نيکونه يې ډېر کلونه پخوا زابل ولايت ته راکډه شوي او هملته يې استوګنه غوره کړې ده.

په ځوارلس کلنۍ کې يې د پاکستان په يوه ديني مدرسه کې خپلې لومړنۍ زده کړې پيل کړې او بيا يې د همدې هېواد د بېلابېلو سيمو په ديني مدرسو کې درسونه وويل.

تر څه مودې وروسته بېرته خپل هېواد ته راستون شو؛ يو کال يې تېر کړی نه و چې بېرته پاکستان ته لاړ او يو ځل بيا يې پر ديني زده کړو پيل وکړ، د يوه کال په بهير کې يې قران کريم په بشپړ ډول حفظ کړ.

نوموړي په خپل ژوند کې ګڼې شمېر فرهنګي او ادبي کارونه ترسره کړي، د هرات او کندهار ولايتونو په اطلاعاتو او کلتور رياستونو کې يې ډېره موده د يوه ژمن او هوډمن ليکوال او اديپال په توګه دنده ترسره کړې ده.

نوموړي پر دې بوختتياوو سربېره شاعري هم کوله چې د شعرونو ټولګه يې د ده تر شهادت وروسته د کندهار اطلاعاتو او کلتور رياست له خوا پر 1378ل کال خپره شوه، په دې ټولګه کې د عبرت هغه شعرونه راغلي چې له 1370_1371ل کال راوروسته شعرونه راغلي دي. کېدی شي دا ټولګه بشپړه نه وي او ډېر نور شعرونه يې له چاپه پاتې وي، ددې ټولګې ډېر شعرونه حماسي او رزمي بڼه لري، ورسره ځينې داسې بېلګې هم لولو چې د هنريت له مخې ډېر لوړ او ارزښتمن دي.

د عبرت شاعري دده د عمر په پرتله ډېره اوچته ښکاري که چېرې ژوند ورسره وفا کړې وای نو عبرت به خپلې ټولنې ته داسې هنري بېلګې وړاندې کړې وای چې په ښو او معياري بېلګو کې وشمېرل شي، له بده مرغه نوموړی پر 1376ل کال په بادغيس ولايت کې په شهادت ورسېد. او هنري ژوند يې هم نيمګړی شو.

### ښکلا

ستا دښايست په بدرګه کې و يو لمر درسره

يوه سپوږمۍ وه بل د ستورو غټ لښکر درسره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له راتلو سره د جهل تیارې شولې رڼا

چې د تیارو پر سینه ښخ شو ها خنجر درسره

رادې ورې موږ ته د حیا له میو ډکې پیالې

چې د حیا او حلم کان و هغه غر درسره

دا واړه ښکلې صفتونه دي په تا کې نغښتي

جام د جمشېد، بوی د ختن، غږ د حیدر درسره

د حیرت ګوتې ورته غاښ باندې عقلونه نیسي

چې حکما ورته حیران دي ها هنر درسره

ستا په دربار کې ځو وګړو ښې تحفې وړاندې کړې

زما عبرت دې په تحفه کې وي دا سره درسره).1(

1373ل کال، زیارت

## اوږد کاروان

زما له وچو شونډو هسې خندا تښتي

لکه غېږ نه د وربځ چې برېښنا تښتي

سربه ستا په پښو کې تېت نه کړم فلکه

د خودۍ له حماسو مې دنیا تښتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای ناصحه! زما مينه پښتنه ده

پښتانه کله له جنګه په شا تښتي

چې زمرى د محبت ور په کې پروت وي

له هغه زړه نه هوسۍ د تقوى تښتي

زما ژوبل احساس هسې دى ډارشوی

چې دعصر له دعا او دوا تښتي

دا د عمر اوږد کاروان دومره په منډه

ولې زغلي چېرته درومي، له چا تښتي؟

زه چې لرې ورته په ځير شم هسې ښکاري

چې هرچانه مرور دى تنها تښتي

د عبرت پر قسمت کوم تندر لوېدلی

چې له څنګ نه يې رقيب او اشنا تښتي.

**لرغونی کاروان**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندي کندي کندهار مو راته قند شو

ژوبل ژوبل په زابل کې ژوبلول دي

د غیرت غزاوې وشوې په غزني کې

په وردګو کې وریت شوی وریتول دي

د غلیم ټبر لوګی شو په لوګر کې

د پکتیا زلمیان نن بیا په لوړ تکل دي

هر مکار تکه تکه شو پکتیکا کې

ننګیالي ورکوچېدلي په کابل دي

په هلمند کې هیله من زړونه نڅېږي

په روزګان کې ارزوګانې واړه حل دي

په فراه کې دفرحت وږمې چلېږي

د اغزیو دوران تېر شو دري ګل دي

په نیمروز کې نیمه ورځ د دښمن ژوند و

په شنډنډ کې یې شنډ شوي شنډ مورچل دي

د خوښۍ هارونه راغللو هرات ته

چوپ په غور کې د بېغورو غورېدل دي

دا لرغونی کاروان درومي ټول جهان ته

که تاجك دي، که ازبك دي، که مغل دي

په غونډانو کې غنده غوندې خونسا شوې

بلبلي کې نغمې پیل د بلبل دي

په شمشاد کې دغه سپین بیرغ رپاند کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ځښتنه! د عبرت دغه غوښتل دي.

## وځي

چې یې له ژوند نه جنازه دارمانونو وځي

له هغه زړه نه کاروانونه د اهونو وځي

چې د رودونو قافلې ور په کې شپې تېروي

خاموشې څرېکې له زخمي زخمي زخمونو وځي

چې په نغمه یې غرغرې ته لا نڅاوې کېږي

هغه کړنګا خو د سرو میو له جامونو وځي

سحره! تا به زموږ اسمان لره په زور راولي

د لوړ تکل زلمیان نن بیا له زندانونو وځي

ګوره قاتله! انتقام نه چې بېغمه نه شې

د کسات غشي لا اوس هم له دې قبرونو وځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالحمید ارغنداوی

ښاغلی عبدالحیمدارغنداوی دلال محمدزوی پر 1321ل کال دکندهار ارغنداو ولسوالۍ په لوی تابین کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په شاه اشرف ښوونځي کې پیل کړې او تر فراغت وروسته دکابل په ابن سینا منځني ښوونځي کې داخل او تر درېیو کلونو وروسته دکابل دارالمعلمین په لسم ټولګي کې شامل شو اوپر 1341ل کال یې د فراغت سند او برى لیك له ترلاسه کولو وروسته په کندهار دارالمعلمین او تجربوي ښوونځي کې د ښوونکي په توګه رسمي دندې پیل کړې، څه موده دارغنداو د غازي محمداکبرخان ښوونځي سرښوونکي او د محمدایوب خان منځني ښوونځي د ښوونکي د مرستیال په توګه هم پاتې شوی دی. پر 1358ل کال یې د ګڼو هېوادمینو افغانانو په څېر د مجبوریت له مخې پاکستان ته د هجرت لار خپله کړه، دکمونستې ځواك تر ماتې وروسته بېرته هېواد ته راستون شو او په کندهار کې یې استوګنه غوره کړه.

پر اوس مهال د طلوع افغان ورځپاڼې دادب او هنر مدیر په توګه دنده ترسره کوي.

نوموړی له ډېر پخوا نه له شعر سره مینه لرله، خو د هغه په وینا کله چې روسانو پر هېواد یرغل وکړ، نو شعر یې نور هم ځواکمن او په زور کې شو او له شعر او هنر سره یې مینه نوره هم اورنۍ شوه. شعر یې دحالاتو تابع دی، هر مهال یې دټولنې انځورونه دهغې اوسېدونکو ته وړاندې کړي او هڅه شوې چې هنریت هم په کې اوچت وساتل شي

### فنا

دا جهان به لا ودان وي موږ به نه یو

کور او کلی به بل شان وي موږ به نه یو

زمانه یوه شېبه تم کېدی نه شي

موږ نه پاتې څه ارمان وي موږ به نه یو

ښه خدمت له هر افغان سره ښه ښکاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په ژوند کې امتحان وي موږ به نه یو

که مو ځان وپېژاند هله به نېکمرغ شو

که نه سم کار به مو وران وي موږ به نه یو

ټوله درومي له جهانه په دې پوه شئ

هر عمل مو د ځان وي موږ به نه یو.

## وران یې نه کړئ

دا وطن د زرو کان دی وران یې نه کړئ

د بلبل پاتې ارمان دی وران یې نه کړئ

د خوږمنو زړو احوال ته نظر وکړه

د افغان شوکت او شان دی وران یې نه کړئ

هر خونه چې نړېږي زړه درزېږي

دا تر ځان راباندې ګران دی وران یې نه کړئ

هر یو کاڼی یې سور لال د بدخشان دی

دا زما دین او ایمان دی وران یې نه کړئ

دلته ښخ دي زموږ د پلار نیکه هډونه

دا مکان دور دوران دی وران یې نه کړئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هسکېرلی پسرلی

هسکېرلی پسرلی دی

بې ثمره نوبهار دی

نه سنبل شته نه بلبل شته

باغ او راغ هم خوار و زار دی

نه وربځ پر اسمان ښکاري

د هرچا تر سترګو خار دی

ځمکه خړه پړه اېسي

د ویرونو لوی انبار دی

سور ګلاب راټوکېدلی

خو د مرګ په انتظار دی

پر بلبلو جوړ ماتم دی

ققنس هم په چغهار دی.

## د وحدت توره

زما د سرو شونډو موسکا خوښه ده

د لېونیو بیا ژړا خوښه ده

څوك په تورتم کې رڼایي لټوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا د مينې مشغولا خوښه ده

د چا پر سرو شونډو موسکا نه ښکاري

دلته غمونه د بل چا خوښه ده

زه د نفاق له قيده و تښتېدم

نور مې تر دې توره بلا خوښه ده

راشئ راټول شو پر دې خپل نغري

د وحدت توره مې تر ملا خوښه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبدالمجید بابی

ښاغلی عبدالمجیدبابی د غلام حیدر خان بابي زوی پر1337ل.کال د کندهار ښار د بامیزو په کوڅه کې د خپل نیکه ارواښاد عبدالله بابي په کور کې زوکړی دی، خپلې زده کړې یې په مشرقي او احمدشاه بابا ښوونځیو کې تر دوولسم ټولګي پورې رسولې دي.

د دوو کلونو لپاره یې د ښوونکو روزنې لوړې موسسې د ټولیزو زده کړو په څانګه کې هم لوړې زده کړې وکړې.

د غویي تر خونړي کودتا وروسته یې د ژوند ټولې هیلې او کارونه نابشپړ پاتې شول، له زیاتو کلونو راپه دېخوا شعرونه او نثرونه لیکي.

په شعر کې یې ملي مسایل اوټولنیزې غوښتنې رابرسېره کړې دي، په خپل ځیره ژبه او شاعرانه دریځ سره یې د زورورو پر وړاندې دقلم سنګر ټینګ ساتلی، پر ملي او هېوادنیو مسایلو یې ډېر څه لیکلي او اوس هم لګیا دی. بابی صیب د شهرت او نوم تږی نه دی او د یو شمېر نوم خوښوونکو په څېر هم نه دی چې د هرې ورځې په تېرېدو سره یې فکري او عقیده یي لوري بدلون ومومي، غوڅ دریځ لري او خپله هره خبره په زغرده کوي. ګڼ شمېر نا چاپ اثار ورته پراته دي په دې برخه کې یې ځینې پروژې هم تر کار لاندې دي. خدای􀀀دې هغه ورځ راولي چې نوموړی دغه اثار خپلې درنې او پتمنې ټولنې ته وړاندې کړي. نوموړي د جغرافیې او تاریخ څانګې لوستي، چې په دې برخه کې دډېرې مطالعې او تجربې خاوند دی. سر بېره پر دې د هېواد پر سیاسي او ټولنیزو مسایلو یې هم ډېرې لیکنې کړې چې پامور او ارزښتمن دي. د بابي صیب ټولو ورونو او دکورنۍ نورو مشرانو ځانونه فرهنګي او ادبي خدمتونو ته وقف کړي او فرهنګیاله او فرهنګپاله کورنۍ ده. د خپلې ملي ژبې د ودې او پرمختګ لپاره یې هڅې د قدر وړ دي.

## شك

دا له شوق نه لمر څرګند دی، که دشپې دروغجن سهار دی

دغه سپین باړخو شین شوی، که چاپېره ترې ښامار دی

دا ژوندون په کټ کټ خاندي، که مرګی رادرومي خوا ته

دامړه تن ته ساه ودېږي، که پر زړه دکاڼو وار دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داله تبې نه زګېروی دی او که څوږ داناالحق دی

د غه لاندې لمر ته څوړند او که لوی منصور په دار دی

دا دتورې شپې تور لاس دی، که پر شنه اسمان برېښنا ده

دغه سوی اور لړونی، که ځلانده ذوالفقار دی

دا مجنون ته ښه راغلاست دی، که لیلا نارې پرې پاشي

دا دمینې مغزی هسك دی، که برې ورې اغیار دی

د اتدبیر ناتوانه ښکاري او که عقل مرور دی

دا ازل د واك څښتن دی، که له بل سره اختیار دی

دا مېړانه نذرانه وه، که خیرات دی دمېړانې

دغه سر دی غړغړه کې، که مست شوی یې دستار دی

د ابابې په خوب ویده دی، که له ویښو سره مل دی

دا خپل لوری ترېنه ورك دی، که دی ورکو کې ایسار دی.

## نظر

ستا پښتون مخ د اغیارو نظر واخیست

دماښام غله له سهار څخه لمر واخیست

د خوښۍ پر درشل ویر ښه راغلاست وایي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مره برات ستا له روژې نه اختر واخيست

ماویل ستا پر ځیګر به سجده وکړم
خو ابليس رانه دمينې منبر واخيست

چا ويل چې د مين تلوسه مړه ده
د ويلاړ قاصد مې بيا ستا خبر واخيست
دمزار خوا کې رڼا له ورايه ښکاري
شمعې پېټۍ داورونو په سر واخيست
دجنون پاچا ته ستورو پيغام راوړ
چې بدنام ژوند دې د مړينې استر واخيست
د بابي غزل دلمر په شونډو وګرځي
لمر له ده او ده لمر نه اثر واخيست.

/1376وږی/27

کندهار

**هوډ**

د دوزخ تر خنګ مېشت شوي ثوابونه
و نفلونو ته نڅا کړي ګناهونه

ماښام غواړي ورته سپين لمر سجده وکړي
دشپې کټ باندې ويده کړي اسمانونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼو ستورو کاروان په ولجه يوسي
پر لمنه دسپوږمۍ کېږدي داغونه

کهکشان ورته په سرو سترګو کاته کړي
دارغند په اوبومينځي وزرونه

ډاډ د سره شفق سينه کې منصور ستايي
زنګوي ددار په غېږ کې سنګسارونه

د برېښناغشو پر سد شپه لېونۍ کړه
دتکبير کانې يې ځاري منزلونه

دښکلا پښتنه اوښکه به نرګس شي
که بابي کړه ورته پرخه سوغاتونه.

4/تله1376/

کندهار

**تارونه**

راشه غاړه وګوره، ګرالبي تش تارونه شول
غږ د اناالحق راته پړي او دارونه شول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړې د مجنون سترګې، مينه د ليلا ګوري

ځي دقافلو سپوږمۍ، مخکې يې مزلونه شول

وينم يې سر توري شوې، ډېرې پښتنې پېغلې

وژړېد پتمن بانډو، اوښکه پېغورونه شول

اوس به سوځوي دوزخ، هغه اورنی شيطان

تشې محرابي چغې، واړه ګناهونه شول

ستوري په جرګه تللي، لمر ورته پيغام ورکړ

شپې لکه چې خروش کوي، سره يې ماښامونه شول

راغی دژُهرې زېری، وايي سپېدې وچاودې

خوشې شو بندي سبا، مات يې زنځيرونه شول

سور شفق ټيټ سر راغی، ښکل يې کړ ټپي ځيګر

غواړې چې سجده وکړي، مړه يې تکبيرونه کړل

مينه د بابي ښاري، دغه پښتني مورچل

دا دکهکشان تړي، يو مخ مورچلونه شول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار1376/9/20

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالولي حلميار

ملا عبدالولي حلميار د حاجي محمد موسی زوی پر 1354ل کال د کندهار ښار د پنجوايي ولسوالۍ په پاشمول سیمه کې زوکړی دی. زده کړې یې په خصوصي ډول په بېلابېلو ديني مدرسو او جوماتونو کې له بېلابېلو ملايانو او ديني پوهانو څخه کړې دي، له شپږو کلونو را په دېخوا شعرونه ليکي، چې وخت پر وخت دکندهار ولايت په خپرونو کې خپاره شوي دي.

نوموړی اوس د ارغند جريدې مسول چلوونکی دی. داجريده د کندهار ادبي ټولنې له خوا هره مياشت يوځل په (16) مخونو کې په ښه ځرنګوالي او ځومره والي خپرېږي، چې هنري او ادبي برخې يې ارزښتمنې دي. دحلميار شعر يوازې په الفاظو سينګار شوی نه دی، بلکې د شعر د اوډون اوپيوستون ترڅنګ يې هنري جوړښت ته هم سترګې ور اوړي. دی هڅه کوي په خپل شعر کې له طبيعت څخه داسې توکي راواخلي او ټولنې ته يې وړاندې کړي چې ډېر ذوقونه ورته تږي دي او هر څوك ورڅخه خوند اخلي، ډېر ځل فکر ته هم د هنر پر ځای ترجيح نه ورکوي، د ځينو شعرپوهانو په اند دا د شعر ذاتي ارزښتونو ته په درنه سترګه کتل دي او څوك چې د شعرونو هنريت ارزوي، لومړی د شعر همدغو ارزښتونو ته د لومړيتوب حق ورکوي. د حلميارصيب شاعري ډېره زړه راکښونکې او مسته ده، دی د کندهار د اوسنيو ځوانو شاعرانو په کتار کې ځان ته ځانګړی مقام لري.

### اوده ګر

کچکول د زړه کې زړونه وړي د مينې وار غواړي
دغه ملنګ د زخمي زړه کلي ته لار غواړي

هر يو قدم په بسم الله ږدي چې ستوري ښندي
د شپو په غېږه کې يو سپين د رڼا ښار غواړي

په بل څه نه ځي د سپين مخ له خزانې نه رقيب
پوه شوم مارنګه اوده ګر داسې ښامار غواړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلې به نه شي زما نارې په زولنو ملګرو!

په منصوري نارو کې ونغښتلی دار غواړي

په رنګ د ستورو کې ماښام معلومېده دا کیسه

چرې د نور اخلي تیارو باندې ګوزار غواړي.

## چغاره

کله چې څرېکه له پرهاره واخلي

لېونی زړه د مینې لاره واخلي

لکه تسپه د عشق پستو ګوتو کې

ذکر د یار ته ځای له تاره واخلي

ساقي یو داسې جام به لاسته نه کړم

چې مې له غېږې د خماره واخلي

هلته شکمنې شېبې تېښته وکړي

څوك چې د یار حال له ریباره واخلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ماشوم خپګان ساتلای نه شي

زړه چې دیدن غواړي چغاره واخلي

د نور چړې ستورو له تېغه وکښې

شپه به زخمونه تر سهاره واخلي

نګاره! ستا سپېڅلې مینه کې به

رقیب ازار له حلمیاره واخلي.

**ګناه**

زه له خوښیو خندا راوړمه ژړا وخېژي

چې هر ثواب مې ستا په سترګو کې ګنا و خېژي

شمعې! دا پاتې پتنګان هم قربانۍ ته راغلل

غواړي چې هسکه تر اسمانه دې رڼا وخېژي

ددې وطن د خلکو سترګو دا اثر راوړی

کاڼو د غرونو ته دې وګوري طلا وخېژي

نور به د عشق په مدرسه کې سرګردانه نه وي

تنکی طالب زړه که په مینه کې ملا وخېژي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما رقيبان ليدل په خوب يو د بل غوښې خوړې
غواړم همدامې د ليدلي خوب مانا وخېژي

ګورو ښايست دی، ځان له خپل موقفه نه اړوي
زما عاجزي او ستا په برخه استغنا وخېژي

يو مسلمان يې په يقين د راتلو لار وڅاري
د بل له خولې نه چې وعده په ان شا الله وخېژي

روح بدرګه کړ حلمياره لړ يې لوړ رخصت کړ
لکه منصور چې يې د دار په سر کې سا وخېژي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قدرت الله حلیم

ښاغلی قدرت الله حلیم د حاجي امان الله زوی پر 1360 ل.کال د هلمندولایت په لښکر ګاه ولسوالۍ پورې اړوند(کارېزکلي) کې زېږېدلی دی، لایو کلن و چې د ځینو ستونزو له کبله پاکستان ته کډوال شول او په (ځنګل پیر علیزي کمپ) کې استوګن شول؛ خپلې لومړنۍ زده کړې یې په بېلابېلو ښوونځیو کې تر سره کړې او منځنۍ هغه یې هم د کوټې په ښوونځیو کې پایته رسولې دي. پر 1376 ل .کال یې کندهار پوهنتون ته د کانکور ازموینه ورکړه او اوس د همدې پوهنتون، کرنې پوهنځي د درېیم کال محصل دی، د استاد الفت، رحمن بابا او غني خان له شعرونو سره مینه لري او خپله د 1378لمریز کال له وږي(سنبلې) میاشتې څخه راپه دېخوا شعرونه لیکي، چې یوه ټولګه یې برابره کړې ده.

د شعر پر لمن یې داسې ارزښتناك توكي هم موندلای شو، چې پرې ډاډه شو، سادګي، مینه او عاطفه یې د شعر سینګاروونکي توکي دي، که یې ډېره مطالعه او ریاضت وکړ نو امید شته چې شعر یې نور هم ښه شي. د نورو فرهنګي هڅو تر څنګ اوس د کندهار شریعت غږ راډیو نطاق هم دی، سربېره پر دې د پوهنتون له فرهنګي څانګې سره هم همکاري لري او ددې څانګې میاشتنیو غونډو ته ځینې ډرامې او ننداریکونه هم لیکي، چې په هره غونډه کې مینه والو ته وړاندې کېږي. حلیم صیب لاځوان دی او د فرهنګي کاروزیار لپاره یې ډېره انرژي پر ځای پاتې ده، که له دې هڅو سره یې مینه همداسې اورنۍ وه نو امید شته چې ډېر غوره خدمتونه به وکړي.

### یادونه

په زړه کې مې راګرځي څو یادونه د جانان

په سترګو سترګو وینم تصویرونه د جانان

رویبار هم په سرو سترګو داسې وایي کله کله

غماز څیرل په لاره کې خطونه د جانان

یو لاس به روایت د ټول جهان کړي راچپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي به ښه بېخاره بیا خیالونه د جانان

یو رود په خروش روان و، په کې څرك واهه سندرو

ښکاره وو ډکېدل تر ېنه لاسونه د جانان.

## تنکۍ مینه

پاتې مې نیمګړې شوه تنکۍ مینه

ویې رژوله زما سپلۍ مینه

نه یې دي خندلي لاد ګل په خوله

زړه کې یې ده پاتې د غوټۍ مینه

اور به شي، لمبه به شي، لوګۍ لوګۍ

زړه کې مې تودېږي لېونۍ مینه

ناست به تنها خوښ وي له رمې سره

نه لري شپانه بې له شپېلۍ مینه

خوښ مې په رښتیا روزګار د مینې دی

نـــه لـــــــــــري هېڅوك همېشنۍ مینه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرښته

تانده اوښکه چې ګرېوان باندې سپره وه

هغه زما د زړه په وینو باندې سره وه

بېلتانه دې شو انګار زما لپاره

ځکه جوړه راته لویه اندېښنه وه

څوك به نه و خو بس زه به ګرځېدمه

زما ملګرې یوه د مینې پرښته وه

هم سهار او هم ماښام وم لالهانده

چې پر ما کله راغلې دا څپه وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلالی زهیر

دوست محمدګلالی زهیر د عیسی محمد زوی پر 1355ل کال دکندهار ښار په پنجوايي ولسوالۍ کې زوکړی دی. په پاکستان کې تر اووم ټولګي پورې زده کړې کړي، سربېره پردې يې په کندهار کې هم له ځينو جوماتونو او ديني مدرسو څخه ديني زده کړې کړې دي، له څو کلونو راهيسې په کندهار کې مېشت دی او اوس پر ورځنيو چارو بوخت دی، ځينو ترنم ويونکو ته يې هم ډېر شعرونه ليکلي، له همدې کبله يې د ډېرو شعرونو رنګ حماسي او سياسي دی، ادبي او فرهنګي ډګر ته په دې وروستيو وختونو کې راګډ شوی او اوسنۍ پنځونې يې لومړنۍ تجربې ګڼلای شو.

د هېواد ډېرې دردوونکې پېښې يې ليدلي او په خپله هم ډېر ځورېدلی او کړېدلی ښکاري. نو ځکه يې په شعرونو کې داسې انځورونه پنځولي چې له همدې پېښو څخه خړوبېږي او سرچينه اخلي.

که يې نور کتابونه هم ولوستل او د نورو پخو شاعرانو له لارښوونو او تجربو نه يې ګټه اوچته کړه نو کېدی شي شعر يې نور هم ښکلی او زړه راکښونکی شي.

## ميوند

بيا يې ميوند کې انګرېزي لښکرې وځپلې

پېغلې ملالې له غليم څخه ميدان ګټلی

دسباوون قاصد ويل توري تروږمۍ شوې قتلې

چې سپين سبا له تورو شپو څخه افغان ګټلی

لا يو په بل پسې نرېږي د زاغانو ځالې

وخت د سپرلي شو بلبلانو ګلستان ګټلی

ځکه هوس کړم را اعطا شول د وصال څو شېبې

زه بريالی شم له اغزو نه مې جانان ګټلی

## سبا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښامار د هجر مې عالمه نن سبا قتلوي

لکه مجنون چې قتلوي هغسې ما قتلوي

غمونه لاړل توپاني شول سمندر ترې جوړ شو

اوښکې دسترګو ځي ګرېوان ته چې خندا قتلوي

خزان په منډه منډه لاړو د ګلشن پر لوري

ګل يې تالا کړ اوس هغه ښکلې بورا قتلوي

ترووږمۍ خو بيا سترګې ښکاره کړې ته يې خير کړې الله

خنجر په لاس کې ښايسته سپينه رڼا قتلوي.

**هوس**

د بلبل د وصل شپې دي د خزان کډې بارېږي

هره ځانګه دسرو ګلو په موسکا شوه هوسېږي

بوراګان يې و ديدن ته له هر ځايه دي راغلي

ګلغوټۍ ګرېوان څيرلی پټه خوله ورته خندېږي

ګل ګلاب سره بارخوګان کړل له سنبل سره سيالي کړي

چمبېلي زړه رانه وړی يو ګړی مې نه هېرېږي

جعفريانو ځان سينګار کړ عطر وپاشل ريحانو

انار ګل چې رنګينه دی د عشاقو ډېر خوښېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپرلي وږمې خپرې شوې په وطن او په سارا کې

بلبلان له ډېره شوقه په هوس هوس چغېږي.

/1377ورى/27ل كال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد اکبر

ښاغلی محمد اکبر د حاجي محمدشریف زوی پر 1358 لمریز کال د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په" لوی باغ کلي" کې زېږېدلی دی. خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په لښکرگاه ښارکې ترسره کړي او اوس د کندهار طب پوهنځي دویم کال محصل دی، ښایسته ډېره موده یې پر شاعرۍ اوړي، خو د ډېرې مطالعې او کتاب موندلو لپاره یې ډېر وخت نه دی موندلی. دځینو گوتو په شمارو شاعرانو شعرونه یې لوستي چې دده د مطالعې ساحه په همدې څو شعري ټولگو کې محدوده پاتې شوې ده، ددې دوو دربیو کلونو شاعري یې څه له پاسه یوې ټولگې ته رسېدلې ده.

دی هڅه کوي چې د خپل شعر په ساده کلام کې د اند او خیال وړانگې وغزوي، له لرغونو شاعرانو څخه اغېزمن دی، خو دده ځانگړی ځاني نوښت ددې اغېز ځینې ځنډې پټوي،خو که له تکراري ترکیبونو او سولېدلو موضوعگانو څخه ځان خلاص او نور هم د نوښت پر لوري گام واخلي غوره به وي. چې د نویو شاعرانو له کلام سره اشنا کېدل او دهغو ژوره مطالعه ورته گټوره تمامېدی شي. ددې تر څنگ که رغوونکو او سموونکو کره کتنو ته هم په درنه سترگه وگوري، ډېره به گټوره وخېژي، ځکه دا کار به ډېرې لارې ورته اوارې کړي همداراز په ادبي غونډو کې گډون او د نورو شاعرانود تجربو ارزونه هم ورته ارزښتمنه ده.

## غرور

زاهده! له مسجد نه مې سجدې راکوچېدلي
جنت مې پر کور راغی، میکدې راکوچېدلي

له هجر او غمازه به د قهر څه گیله کړم
اسمانه! له غوسې دې کنارې راکوچېدلي

چنگېز په وینو سور دی او زبېښي د خلکو وینې
که سترگو مې د یار له غمه سرې راکوچېدلي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما زړه و امانت دیار په پښو کې غورځولی

پرې خېژي، د غرور يې ولولې راکوچېدلي

دوی غاښ راته چيچي، ته وا چې پلار يې ما وژلی

خبر له ګناه نه يم، زولنې راکوچېدلي

په خپله ګمراهۍ کې به د مرګ کندې ته درومي

اکبر نه اوس د عقل پيمانې راکوچېدلي.

1379/3/2لمريز-کندهار

**د اور ټال**

ستا بېلتون مې ګناهونو ته مجبور کړي

لکه څوک چې د چا مال او هستي چور کړي

چې ښکلا ترېنه پيدا شوه هم ستا نور و

پر دنیاباندې ځلښت پېغلی نورکړي

پرې پوهېږم دا زما د وير اختر دی

چې رقيب خندان خوشحال دی او سرور کړي

د مقصود کعبه مې ته، قبله مې ته يې

ستا په هجر کې څوک څنګه ځان صبور کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به بیا د دوزخي اور پر ټال زانګم

که مې ستا له جنتي مخ ځنې دور کړي.

کندهار

## زورور

یو چا توره په لاس د میو جام له موږ نه واخیست

په سرو وینو ګټلی یې انعام له موږ نه واخیست

په سترګو دې ړانده کړو او قیامت راباندې جوړ شو

اسمانه! دا دې څنګه انتقام له موږ نه واخیست؟

په سود و زیان خبر نه یو، ګړنګ دی ور روان یو

خودییه! زور دې ولې سوچ و پام له موږ نه واخیست

ستا خیال راته سکروټو نه دګل غوټۍ کړه جوړه

خندا دې زموږ د بد عمل انجام له موږ نه واخیست

جفا به دې تر مرګه هېره نه کړمه نامرده!

ځواني دې راته غم کړه، تا ارام له موږ نه واخیست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د روح قاتله! پر لېمو مې قدم کېږده

له تاسره مې روح ځي، که دې پام له موږ نه واخيست

سېلاب د ترمو اوښکو د اکبر پر مخ راغلی

چې نن دې خوږ نظر د سترګو پام له موږ نه واخيست.

کندهار

## چل

وخته څنګه دې له غم سره اشنا کړم

له خندا او خوشحالۍ نه دې جلا کړم

په ازل يې راليکلي همدا برخه

چې پر ورځ د اختر خامخا ژړا کړم

که څو ځلې مې خپل سر و مال بايللي

داقمار او جواري خو په بيا- بيا کړم

ما خپل عقل دی خوړلی ښاد به نه شم

چې له ياره سره چل کړم او جفا کړم

د اکبر د غملړلي ژوند په پای کې

خپل ټوټې ټوټې ملت خو به دوا کړم.

## نذرانه

سر ببر او ګرېوان څيرى، ټول ژوندون مې سوی سکور دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دا مات زړه به در وړمه په کچکول کې ستا کوڅې ته

خدایزده دا د ازل لار ده، که زما خپل بد عمل دی

پټې سترګې ور روان یم، ګړنګونو، سرې لمبې ته

نه اختر، نه مې سپرلی شته، نه باران او نه ځواني شته

پر موږ جوړه عاشورا ده، ټوله دردومو هدیرې ته

ددې خپل زړه په قبله کې، ستا د مینې په کوڅه کې

انتظار اکبر ولاړ دی، سر په لاس و نذرانې ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد سرور حُسنیار

ښاغلی محمد سرور حُسنیار د دین محمد زوی پر1349ل.کال د کندهار په شپږمه ناحیه کې زېږېدلی دی، ده هم خورې ورې زده کړې کړي، خو له پوهې او هنرسره یې مینه دومره ډېره وه چې په لنډه موده کې یې ډېر مزلونه ووهل، دهمدې اورنۍ مینې برکت و چې تر ډېر ځنډ وروسته یې په دې وروستیو دوو کلونو کې د شعر رنګیني او ښکلا زیات او ځینې شعرونه یې د نوښت په اب ورنګول شي، حسنیار خو خپله هم دښو اخلاقو او صمیمیت غر دی، سره له دې چې د ځینو چارو بوختتیا یې ډېره ده خو بیا هم له کتاب و مطالعې سره ډېر شوق لري، هغه چې کله پر پېښور یا کوټې ښارونو ورپېښ شي نو تر هر څه یې کتابونو ته ډېره سودا وي، چې څنګه د خپلې خوښې کتابونه پیدا او کندهار ته یې یوسي.

حسنیار ایله ددې نږدې دوو کلونو په بهیر کې پښتو نوی او زوړ شعر په ژوره توګه ولوست، چې تر همدې ژورې مطالعې وروسته یې په خپلو پنځونو کې هم لوی انقلاب راوست، په شعر کې یې هنري ښکلا او صمیمیت سره غاړه غړې شوي، دا خپله ددې څرګندوی دي چې نوموړی د ویلو لپار یو څه لري، خو غواړي خپلو دغو خبرو ته هنري بڼه ورکړي.

خو لاډېر مزلونه ورته پر لار پراته دي او که د ده مېړانه او مینه ورسره یارانه کوله نو دی به په دې ډګر کې بریالی او سرلوړی پاتې شي.

### څلي

خیال مې طواف کوي همېش ستا د یادو پر څلي

احرام د اوښکو یې تړلی، د سلګو پر څلي

د بېلتانه د شپو تسبې به لا ترڅو اړوم

ترڅو به ذکر کړم د اوښکو د دانو پر څلي؟

ستا د وعدو کښت مې کرلی و د زړه پر ځمکه

ونه سپړېده، یوه وعده دپرهرو پر څلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې زهير لکه يتيم دخندېدلو نه دی

لکه غوټۍ خوله کړمه خلاصه د اغزو پر ځلي

سپند که يې نه شوم چې تر سر مې يو ځل وګرځوي

کاشکې وای دود، مخته ورتللای د لمبو پر ځلي.

کندهار

## وږمه

بيا به ځمکه له ځيګره دچينو اوبه راپاشي

پر مايوسو وچو ځانګو، د اميد ګلان به واشي

سرِ د کلي غونډۍ ګوره، لکه ګرمه ژېړه پېغله

بيا به شين کميس په غاړه، لکه ناوې په خندا شي

باد به ناست پر تخت د ورېځګګو، د برېښنا غمچينه لاس کې

راشيندي به سپين سپين ځاځکي، لکه ستوري په نڅاشي

د ملا په شان به غر کړي، پر اوږو څادر د واورو

لکه اوښکې د مين به ترې "ارغند" و "ترنك" راشي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د هیلو پر غوټۍ به، د خوښۍ وږمه چلېږي

دغه ستا مستې خندا ته، چې ملیار خوښ په ګډا شي.

1379/4/3ل کال، کندهار

## زنځیر

ښکلی سهار مو په تیارو کې شو بند

لمر مو د شپو په زولنو کې شو بند

سپوږمۍ اوس څکه قدم اخلي کرار

زنځیر د ستورو یې په پښو کې شو بند

ما له پردیو نه ډار کله کاوه

اوس مې ګرېوان خپلو لاسو کې شو بند

هیلې یې یووړلې د اوښکو توپان

لامبوزن خیال مې په څپو کې شو بند

د ژوند اغزنو لارو ستړی کړمه

مرګی د وخت په پنجرو کې شو بند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غماز نيولي د گودر لارې دي

کتار د نجونو په کوڅو کې شو بند.

کندهار

## د رڼا غرونه

ستوري يو شوله و شپې ته، نړوي تياره برجونه

لمر دوړانگو تبر راوړ، پرې کوي د شپې لاسونه

وخت مليار و بڼ ته راغی، دوحشت تخمونه کاږي

دعرفان ځولۍ ورڅخه، پرې کري د رڼا غرونه

هيلې پېغلې ځي گودر ته، د حاجت منگي پرسروړي

مازيگر پير يې راغلی، ترېنه غواړي حاجتونه

خيال شپونکی درومي و غرو ته دخندا شپېلۍ په لاس کې

د خوښيو رمه ناڅي، د زړه ورى وهي ټوپونه

د ارزو ژبه ايله شوه، د ارمان په ستر جهان کې

د اميد قاصد راغلی، نور به نه وي بنديزونه

زما د فکر زخمي غره کې بياگلان دي ټوکېدلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغزلو پېغلو جوړکړل پر لمن یې اتڼونه.

1378/7/15ل. کال، کندهار

## میرزا محمد شکېب

ښاغلی میرزا محمد شکېب د الحاج راز محمد زوی پر 1359ل کال د زابل ولایت د شاه جوی ولسوالۍ په خواجه نومي کلي کې زوکړی دی. د کوټې، کراچۍ، زابل او جلال اباد په بېلابېلو دیني او جهادي مدرسو کې یې زده کړې کړي او پر اوس مهال هم په کندهار جهادي مدرسه کې خپلې زده کړې پرمخ بیایي.

د میرزا محمد شکېب په شاعرۍ کې رواني او له طبیعت سره دشاعرانه مینې پالل پاموړ دي، له هغه مهاله چې په کندهار کې مېشت شوی نو د "ارغند" مستو څپو یې ذهن ته ډېره سمسورتیا وربښلې او شعر یې هم د ځرنګوالي له پلوه بېل رنګ خپل کړی دی. له شکېب سره مې یو ځل لیدلي، تنکی او د ښې طبعې خاوند ځوان دی، د کندهار په اوسنیو خپرونو کې یې هم ځینې شعرونه ترسرګو کېږي، چې ورځ پر ورځ یې د هنري پرمختګ څرګندونه کوي. د لرغونې اوسمهالې شاعرۍ مطالعه یې هم ښه ده او کله چې یې شعر لولو نو دده شاعري هم د اوسمهالې هغې په رنګ رنګول شوې شاعري ده.

### د ارغـــــند لـــــه غـــاړې

مسته سندره شي وږمه شي څپه

چې له ارغند ځنې ستنه شي څپه

د ننګ ټپې مو په زلمیو وېشي

او شي ملاله پښتنه شي څپه

زما احساس یې کړ د غرونو ملنګ

مستې نڅاوې کړي غرځه شي څپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایزده کوچۍ ده که له غرونو راغله

نرمه شپېلۍ وهي شپنه شي څپه

ورسره ملې وي سندریزې وږمې

ترنګ شي سېتار شي او نغمه شي څپه

ځان سره راوړي خاطرې د پرون

د شکېب سترګې او لېمه شي څپه.

1379ل کال. کندهار جهادي مدرسه

**هجومه!**

کله چې راشي د یادو هجومه

د تېرو تېرو خاطرو هجومه

ما چې به یار ته مخامخ ویلې

د هغو مستو ترانو هجومه

راشه د زړه په کور کې ځای درکوم

دتېرو غشو او بڼو هجومه

راځه زما د غېږ رباب شه را ځه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود مې قبول یې په لېمو هجومه

ته وفادار شوې له جانانه ځنې

زموږ د وصل دشپېو هجومه

څومره دې ملې وې خاطرې خاطرې

د هغو هغو او هغو هجومه

1379ل کال، زابل

## هله ژر شه

د سعدالله سعید زابلي په اقتفا

نور مې ختمې دلته شپې دي هله ژر شه

رانه تللې قافلې دي هله ژر شه

دا څو کرښې مې په یاد درسره واخله

زما د مینې خاطرې دي هله ژر شه

د وصال دور مو تېر شو نور به نه وي

په نصیب مو شوګیرې دي هله ژر شه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا به خال د تصور په غېږ کې واخلم

د هجران یاغي ځپې دي هله ژر شه

نور يې وصل پر موږ کله پېرزو کېږي

د رقیب بیا سترګې سرې دي هله ژر شه

لږ په مینه راته وخانده له ورایه

د دیدن وروستۍ شېبې دي هله ژر شه

په ژړا منزل د هجر نه لنډېږي

دا د مینې سلسلې دي هله ژر شه

د شکېب خو درته نور څه پاتې نه دي

خړ وطن، خالي کوڅې دي هله ژر شه.

1378ل کال.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوري شیون

ښاغلی نوري شیون دحاجي عبدالکریمخان زوی پر 1355ل کال دکندهار په شپږمه ناحیه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د کندهار په زرغونه انا تجربوي ښوونځي کې ترسره کړي او وروستني دوه ټولګي یې په ابوریحان البېروني ښوونځي کې ولوستل، چې د ښوونځي د دوولسم ټولګي برى لیك یې پر 1375ل کال ترلاسه کړ، دکورنیو اقتصادي ستونزو او یو نیم نورو خندونو له کبله ونه توانېد چې خپلې لوړې زده کړې پیل کړي. اوس یو تکړه ګنډونکی(خیاط) دی او له دې لارې خپلې کورنۍ ته حلاله روزي برابروي.

له شعر سره یې د ښوونځي له مهاله مینه درلوده. د دوستانو او کورنۍ هڅونو یې هم د تشویق او هڅونې په برخه کې ډېر اغېز لرلی دی، که څه هم په ادبي غونډو او ناستو کې لږه برخه اخلي خو بیا یې هم شعر لیکل او لوستل نه دي پرې ایښي. شاعري یې ډېره تنکۍ او ځوانه ده، که د شیون مینه او لېوالتیا همداسې پاتې وو نو کېدی شي خپل ارمان ته ورسېږي، ترڅېره حده دنورو ځوانو شاعرانو له شعرونو سره مینه لري او د طلوع افغان ورځپاڼې، خلافت او کندهار مجلو ادبي او هنري برخې په ځیر سره لولي، له همدې کبله یې له همدغو شاعرانو څخه ډېر څه زده کړي او لا یې هم خپله مطالعه روانه ساتلې ده.

### دار

برېښنا یمه د ورېځو په تلوار در څخه ځم

منصور غوندې ځارېږم سر په دار درڅخه ځم

لیلا چې خپه نه شي د مجنون په لېونتوب

سرې اوښکې تویومه پر دې لار درڅخه ځم

د هیلو مات وزر مې په څکېدو څکېدو کې وړمه

زړګی دې رامات کړی، په فرار درڅخه ځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي جامونه راوړه د عمرو نو يمه تږی

بې برخې مې پرې نه ږدې چې خمار درڅخه ځم

د مينې لېونی يم ترې خپل ځان لوگی کومه

پتنگ يم د اورونو په انگار درڅخه ځم

نوري چې خطا نه وځې په وعده د خپل نگار

دا ځای درته پرېږدم په بل ديار درڅخه ځم.

1379/1/4ل کال. کندهار

## خپلواکي

زموږ روح زموږ عزت دی

ترېنه ځار شم حريت دی

د نېکونو او پلرونو

راته پاتې دا ثروت دی

د افغان د قوم شهيده

دغه ستا ستر شهامت دی

کارنامې دې ستايل کېږي

ستا مېړانه حکايت دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکناتې دې په غوځ کړ

د سرلوړي ژوند رفعت دی

د ایوب توره ځلېږي

دپرنګ پر سر افت دی

حماسې دي د ملالې

د هېواد نوم پرې اوچت دی

دغه خاوره د زمرو ده

دا ټاټوبی د عظمت دی

یرغلګر به هلاکېږي

دا هم مینه محبت دی.

## تنده او بربادي

مینه هم تنده وه له ځانه وته

د سرابونو پر ناپایه لمن

هر جلوهلي ته يې لاس پړکاوه

خو هلته هېڅوك هم څه داسې نه و

چې وي ژوندی تر تندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول په يوه ساه وو له منځه تللي

کلي کورونه په لمبو سوي وو.

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخترمحمد د لسوخته

ښاغلی اختر محمد دلسوخته پر 1325ل کال دکندهار ښار په ارغنداو سیمه کې زېږېدلی دی، لومړی شعر یې پر 1350ل کال ویلی، تر اوسه یې شعر ویل او اورېدل نه دي پرې ایښي او په دې برخه کې یې د ریاضت "چې یوازې له نورو ښخه اورېدل دي" لمن ټینګه ساتلې ده. ځکه دې ښاغلي هېڅ ډول زده کړې نه دي کړي، نه لوست کولای شي نه هم لیکل. خپل شعرونه په ټیپ ریکارډر ټیپوي، بیا یې په بل لوستي"باسواده" سړي لیکي. د نوموړي ګڼ شعرونه له منځه تللي او هغه څه چې یې په یاد دي ځینې ترې ګډوډ شوي او ځینې هېر شوي دي. له دې کبله پر دې نه دی بریالی شوی چې خپل شعرونه خوندي کړي.

دلسوخته صیب دژوند ډېرې سړې تودې لیدلي او ډېر کړاوونه یې ګاللي دي، په ځوانۍ کې یې د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه کړي او په ډېرو ولایتونو کې بلد دی، نوموړی د کندهار له ولسي شاعرانو څخه دی، له دې کبله، ډېر شعرونه یې ولسي رنګ او څرنګتیا لري، چې حماسي رنګ یې تر نورو زورور دی.

ښاغلی دلسوخته په زړه پاك او ساده سړی دی، د کندهار له ځوانو شاعرانو سره مینه لري او هڅه کوي چې د کندهار ادبي ټولنې په هره مشاعره کې ګډون وکړي، د ملګرو د خوشحالۍ لپاره د شعر په ژبه ټوکې ټکالې هم کوي چې ځینې ټوکې او طنزیه خبرې یې په سرو روسانو پسې هم نظم کړي، هغه تر انقلاب وروسته یو شعر لیکلی چې یو بیت یې داسې دی:

هواوې خړې پړې ، د تاریخ تورې دورې دي

ښادي چندانې نه شته، پر هر ځای دغم نارې دي

همدې شاعرۍ د ژوند ډېر کارونه ورڅخه پاتې کړي، د دلسوخته صیب ریاضت او شعري مطالعه دا ده چې له راډیو یا د ملګرو له خولو څخه شعر واوري او خپل تنده پرې ماته کړي؛ دا یې هم شعري بېلګې، هیله ده له دې سره د دلسوخته صیب زړه روغ و زرغون او ذهن یې نورو شعرونه ته وهڅېږي

### زغم

چې پر سر یې د غمونو باران وشي

هغه زړه چې د پښتون وي تنګ به نه شي

خپل بادار ته به په هسك مغزي ولاړ وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر دښمن ته به خنجر د لړمانه شي

افغانانو سبا کړي ترخې ورځې

تېر تاريخ ته که په غور نظر وشي

هر جابر يې دی په يو وار پرې ايستلی

سل کلونه که تېرېږي هېر يې نه شي

د خپل دين او د وطن ازادي غواړي

هر افغان به شين زمری دخپل ځنګله شي.

## درياب

ماشروع کړ د ادب و شعر کتاب

دغمونو لوی درياب، شولم غرقاب

دا دحق او باطل وېش زما قلنګ شو

زه عاجز يمه او دا دی غټ حساب

ته بری دحق ويلو راکړې خدايه

د قيامت پر ورځ چې نه شم نا ځواب

د ظالم پر ضد به وايمه بيتونه

هر مظلوم ته ورکومه د زړه تاب

دلسوخته غريب چې وايم دا بيتونه

زه کچکول دروړم ستا در ته په هر باب.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جفا

هغه ورځ به راشي چې ستا غوټه به يو بل شني

ډېر ستا قربان به دې خالونه دکاکل شني

هغه ستا محبوبه چې و تا ته ډېره ګرانه

تا به پرې خوابدي کړله ټوله قربانه

ته په عاجز پروت يې بيا هغه کاروان به بل شني

ډېر ستا قربان به دې خالونه د کاکل شني

مه پرې خطا وځه چې بهار نه تېرېږي

هر ګل چې بهار شي اخر بېرته خزانېږي

وګوره سپېرې ځمکې ته بهار و خزان تل شني

ډېر ستا قربان به دې خالونه دکاکل شني.

کندهار، ارغنداو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صدیق الله مین

صدیق الله مین د ښاغلي محمد نور زوی پر1357ل کال د کندهار ښار په شپږمه ناحیه (چونۍ) کې زوکړی دی، تر ځلورم ټولګي پورې یې زده کړه کړې او له 1375لمریز کاله را په دېخوا شعرونه لیکي، تر اوسه یې تر150 زیات قافیه وال، ازاد او نیمه ازاد شعرونه لیکلي، خپلې لومړنۍ شعري ټولګې ته یې "د ښکلا غبرګون"نوم ورکړی چې لا چاپ شوې نه ده.

په شعر کې یې د لرغونو شاعرانو اغېز جوت دی، خو دا اغېز ډېر هم نه دی چې دشاعر ځاني نوښت په ځان کې ورك کړي، بلکې شاعر د نوښت او د نوي بیان ځرګندولو لپاره هڅه کوي داسې توري او ترکیبونه وټاکي چې د موزونوالي تر څنګ نوي وي، غزلیز او عشقي رنګ یې تر یوه حده پر اند زورور دی، چې پر شعري ځواك یې دلالت کوي، ځکه نوموړی دا توکي د هنر په اب رنګوي او نورو ته یې وړاندې کوي. (مین) مین شاعر دی چې خپله مینه یې په خپلو شعرونو کې انځور کړې ده، که دشعر نورې هنري ښېګڼې یې په غور سره ولوستې او خپلې تجربې یې هم ورسره شریکې کړې، نو کېدی شي د ښکلا ډېر غبرګونونه یې له کلام څخه رااوچت شي او د ډېرو خلکو زړونه یې په شعرونو وتخنېږي.

مین اوس په کوټې ښار کې استوګن دی، له خپلې کورنۍ سره د اقتصادي لاسنیوي په موخه خیاطي کوي، خو شاعري یې پرې ایښې نه ده. د کندهار او کوټې ښار په ځینو خپرونو کې یې شعرونه راځي. شاعري یې په خوند روانه ده او خدای دې وکړي چې تر پایه همداسې تانده وي.

### راز

په خوله ویلای نه شم، په بڼو حال درته وایم

شرمېږمه اشنا! په اشارو حال درته وایم

زاهده! واوره - واوره ما شراب څښلي نه دي

قسم-قسم-قسم شم، په توبو حال درته وایم

زما او د هوس تر منځه ډېرې فاصلې شته

خو غم ته چې نږدې یم، په سلګو حال درته وایم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دواړه خو مطربه ځکه نه سره پوهېږو

ته وايې په نغمو، زه په شعرو حال درته وايم

دا پټ د زړګي راز چې مې له تا سره شريك دی

نو خود به په سجدو کې په پښتو حال درته وايم

د مينې افسانې مې درته ډېرې وويلې

خو نن به په غزلو، په ټپو حال درته وايم

ويلی درته هېڅ نه شم مين ښکلی بېدرېغه

په ډېرو وسوسو، په انديښنو حال درته وايم.

کندهار

## يون

د مستو ټپو غېږ کې تر دورانه پورې لاړم

و خيال راسره مل، تر خپل جانانه پورې لاړم

ارمان و، لېونتوب و، د ځوانۍ په تصور کې

بېباکه بې پروا چې تر زندانه پورې لاړم

د اوښکو د څاك غونډې زما ژوند هم مظلوميت و

هوس نه مې زړه بل و، تر خپګانه پورې لاړم

نه اور، نه اوبو مړ کړم، خپل ضمير مړ کړم په خپله

چې بېل شوم زه له ځانه او تر ځانه پورې لاړم

د چا د خوښۍ واك به و، ضرور زما پرهيلو

اميد سره مې ټيټ سر چې تر شانه پورې لاړم

فکرو کې لوبېدمه د شاعر ذهن پرغولي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلی شان غزل شوم، تر زبانه پورې لاړم

خواهش انځور- انځور و "مینه" د دیدن مې

د یار رخسار طبیب ته تر در مانه پورې لاړم.

## رنګ

د فلك غېږکې د ستورو یو تربله سره جنګ دی

د شفق په وینو باندې د سپوږمۍ سپین رخسار رنګ دی

د بڼو حبشي پوځ دې کړ تیار یو مظلوم زړه ته

دا انصاف ستا د الفت دی او که دا پښتو او ننګ دی؟

چې فریاد وکړه حمله نن بیا دذهن پر وطن مې

اسوېلې کاندې هجرت اوس ترې رباط د شونډو تنګ دی

د نفرت لور کرکې خپل ځان په نکاح چې کړ د بغض

زېږوي به عنادونه، داټبر ټول د پیرنګ دی

د زړګي پر کندهار مې د وصال ابادي پیل شوه

جوړوي بیا ها تعمیر یار، د خورې مینې چې ړنګ دی

د مین د هیلو ناوې خدای�خبر کله سینګار شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د خیال په بستره کې لا اوس پروت پر سره پالنګ دی.

## ګلاب

د ژوند په دې سترې سفر کې ځان ته لاره ګورم
حساس وګړی یم په کاڼو کې هنداره ګورم

زما تر خپل ځان، زما بخت راته بېبخته ښکاري
ځکه تر ځان چې همېشه دی ناکراره ګورم

څرېکي دردونه عبث مه کوه بېوسه یمه
نه شته دارو، ملهم، مایوس در ته پرهاره ګورم

خیر دی ساقي که نه وي جام په لپو راکړه شراب
زه خماري نه تر نوبت او نه تر واره ګورم

تیاره تقدیر د هجر شپې ته رسولی یمه
چې د همت په سترګو اوس درته سهاره! ګورم

بې قدره وخت دومره نا پوه کړمه مین ځوانیمرګ
چې د ګلاب ګل په ګلونو کې بې خاره ګورم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاپسته کندهار ډېر- ډېر یادومه

په پښتو کې سلیمان ماکو سابزي د تذکره لیکنې ډبره له نن څخه څه له پاسه اووه سوه کاله وړاندې د کندهار په ارغسان سیمه کې کېښوده او د پښتو " تذکری الاولیاء" کتاب یې وکیښ، چې څو پاڼې یې ترلاسه شوې دي. تر ده وروسته څه کم درې سوه کاله وړاندې محمد هوتك د پټې خزانې په لیکلو سره تذکره لیکنې ته وده ورکړه.

په شلمه پېړۍ کې ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي د تذکری الاولیاء او پټې خزانې پر موندلو سربېره د لومړي ټوك "پښتانه شعرا" په لیکلو سره د معاصرې تذکره لیکنې بنسټ کېښود.

نیمه پېړۍ وړاندې ښاغلي مراد شینواري د (خیبر ادب) د تذکرې په لیکلو سره د پښتو د سیمه ییزو تذکرو لړۍ را ونښلوله او بیا نو دومره تذکرې ولیکل شوې چې له لسګونو څخه د سلګونو خانې ته ورسېدې او دا زرینه لړۍ لا روانه ده.

د ګران صالح محمد صالح دا تذکره هم یوه سیمه ییزه تذکره ده، چې د لوی کندهار د ځوان ادبي نسل فکرونه او مخونه په موږ ګوري او د پنځوسو تنو په شاوخوا کې ځوان او ځوانفکره شاعران راپېژني.

لوی کندهار یوه ځانګړې ادبي حوزه ده، چې له پخوا نه تر اوسه پورې خپلې ځانګړنې لري او دا ځانګړنې ساتي او د ادبي ځانګړنو ترڅنګ یې ژبنۍ ځانګړنې هم د پام وړ دي.

دا تذکره موږ ته راښیي چې د هېواد په دې اغزنو او تاوجنو حالاتو کې هم ادبي ګلونه راټوکېږي او د فکر وږمې خوروي، خو ددوی ادبي ګلونه ددې اغزنو او تاوجنو حالاتو داغونه او زخمونه هم په خپلو پاڼو کې لري او راتلونکو نسلونو ته یې ورلېږدوي.

ګران صالح زیار ایستلی د خپل سلف "سلیمان ماکو" غوندې چې د پښتونخوا په لتو ګرځېدلی و، د لوی کندهار په لتو وګرځي، سیمه په سیمه او کلی په کلی له ځوانو او تاندو شاعرانو سره وګوري، ددوی ژوندلیك او ویناوې راغونډ کړي او دا دي اوس یې چې د پښو د سفر تڼاکې چاودلې دي، نو دا ادبي مرغلرې لړ کوي، پېیي یې او ستاسو مخې ته یې ږدي.

زه دده دا ښکلی او ګټور اثر د پښتو تذکره لیکنې په غېږ کې یوه ښه زیاتونه ګڼم او ذوق و زیار یې ستایم.

په مینه

حبیب الله رفیع

1380ل کال ــ پسرلی

پېښور ــ پښتونخوا

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**